

# زه د ډگروال اسد لور یم!

## ناول

لیکوال: محمدنعیم وردگ

بسم الله الرحمن الرحیم


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | زه د ډګروال اسد لور یم (ناول) |
| لیکوال : | محمد نعیم وردګ |
| بریښنالیک: | naeemjanwardak@gmail.com |
| د فسبوک پاڼې نوم: | نعیم جان بوډا |
| انلاین چارې: | انجنیر صفت الله فضلي |
| د لیکلو کال: | ۱۳۹۸ لمریز |

# نـــاول

مخابره کې د غازي له ټوخي سره سم د امنیتي کېمرو له طریقه د بانګ عمومي دروازې ته متوجې شوم، دا چې څه مې ولیدل؟ له هغې مخکې به دې ته راشم، چې نموړی غازي نامی زموږ د «بانګ خون» له ډېره وخته مسله ساتوونکی و، ټوله ورځ به د خپل کلاشینکوف سره د دروازې تر څنګ خپله غورفه ګکه کې ناست و، له کوچنۍ کړکۍ یې بانک ته راتلوونکي او تلوونکي مشتریان څارل، عین حال کې ډېر خوش طبعیتی استقامتي او حوصیلمند انسان هم و، له دې کبله په ما ډېر ګران و، یګان ټوکه موګه مو هم لره، همدا و چې کله به کومه ښایسته نجلۍ راغله یا به بل د توجه وړ څه و، غازي به مخابره کې یو نری ټوخی راوکړو، یا به یې غاړه تازه کړه، زه به پوه شوم، کېمرې به مې تقیب کړې، دا ځل هم د غازي له ټوخي سره سم کېمرو ته متوجې شوم، چې کتل مې خورا یوه ښایسته ځوانه نجلۍ، که څه هم کېمرې دومره روښانه تصویر نشي را اخیستلی، ولې بیا هم له دنګې ونه غټو غټو سترګو، سپین شفاف مخ نه یې ښکارېده چې یو ځوک دي، د نازک ګلابي ټیکري له پاسه یې بل خړ لوی د نارینه ځادر له ځانه تاو کړی و، تر عمومي دروازه دې خوا حویلۍ کې د دهلېزه وره ته نارسیده راروانه وه، ما هم د کېمرو په مرسته شاه پسې ونیوله، د دهلېزه تر وره د

داخلېدو سره سم یې قدم ونیولو، د شعبو له پاسه په لیکل شو لوحو یې سترګې تېرې کړې، چپ لاس د رهنمایۍ د غرفې په کنډوه شیشه کې ور ودرېده، که څه هم خبرې مې یې نه اورېدې، اما د رهنماکار د لاس له اشارې داسې ښکارېده چې زما د شعبه (ریاست) ادرس یې ورکړو، نجلۍ هم رارروانه شوه، البته دلته جالبه دا وه، چې نمورې زمونږ رهنماکار اوږده ګیره پرېښې وه، په ظاهر به یې دایم ځان ډېر صوفي صوفي کولو، خو ددې نجلۍ ترې رارروانېدو وروسته، تر ډېره یې په کنډوه شیشه کې کوږ ورمېږ پسې رانیولی و، خدایې چې شي ښه پوره خندا یې راوستله، خو دا چې مخ ته مې دوه درې مشتریان ولاړ و، ځان مې کابو کړو، د کمې شیبې تر تېرېدو وروسته نجلۍ را ورسېده د اجازې په پار یې ور ټک ټک کړو، غږ مې پرې وکړو:

- مهرباني!

له همدې سره د سلام په اچولو د اتاق داخل ته راننوتله، د نوبت مرعاتولو په پار تر دې نورو دریو کسانو وروسته د دېوال څنګ ته یې قدم ونیولو، ما هم زر زر ددې نورو مشتریانو حسابونه ورخلاص کړل، کاغذ ماغز مې یې ورټول او روخصت مې کړل، د دوئ تر وتلو وروسته ور هم دخپل اتومات سیستم لرلو له مخې خرپ پسې بند شو، له دې سره که څه هم نمورې نجلۍ ښه باجرئته ښکارېده، ولې بیا هم هر څنګه چې شي یوه ځوانه نجلۍ خصوصاً افغانه هغه هم پښتنه نجلۍ چې د یوه بېګانه ځوان سره اتاق کې داسې تک تنها پاتې شي، په

خپل عزت د وېرې له وجه څه ناڅه روحيات له لاسه ورکوي، ددې نجلۍ له څېرې او شونډو هم ښکارېده چې د وېرې او خطر احساس کوي، ددې له بخته په دې ورځ د شبعه ګروپ هم خراب و، مړ او بل کېدو اتاق کې څه تیاره وه، بل خوا واقعت چې شي په خورا جزابه ځوانۍ هم خدای ج نازولې وه، کنې داسې نه وه، چې زه دنجونو په باب نادیده وم، باور وکړئ اوه کالونه مې همدا ریاست وچلولو، هره ورځ لسګونه ځوانې ښځې او پيغلې نجونې راتلې، هسې دغازي سره به مې ګپه پرې کوله، خو حقیقت کې مې منه که یوې ته هم خیال و، اما دې نجلۍ واقعاً ښه سم تر خپله اوده لاندې راوستلم، عجیبه خامې شنې سترګې، د پنځلسو ورځو سپوږمۍ ته ورته نوراني تک سپين مخ، دنګه نرۍ پوزه، همدارنګه د خبرو کولو په محال د چپ اننګې له پاسه د وړکې چوکرک رامنځ ته کېدل او دزنې ځنګ ته کوچنی خدايي تور خال يې تر ټولو جذاب و، خلاصه د کليوالو هلکانو په اصتلاح ښېخې متکه وه، همدا و چې ما يې هم مقابل کې په خپلو حواسو کنترول له لاسه ورکړو، رنګ به مې خدايزده څنګه و؟ بدن مې یو قسم دروند شو، خبرې مې ګنګړو شوې، هېڅ مې نشوی کولی چې دیو عادي مشتري په شان مکلمه ورسره وکړم، په وړاندې يې راپارېدلې جذبه مې سترګو او څېره کې له ورایه ښکارېده، ددې سره د نجلۍ وېره او ورخطايي لا زیاته شوه، له لباس نه يې معلومېده چې رېږدي او حرکاتو يې داسې پیام رسولو، چې ګویا نور تر هر څه تېره ده، له څه وېلو یا د کوم څه لپاره چې راغلې د هغه مطلب

تر لاسه کولو پرته غواړي زر تر زره له بانک نه ووځي، خو دلته یې ما هم د راتم کولو او مطلب ترې ترلاسه کولو لپاره چلاکي وکړه زر مې کړل:

- خورې! وبښه زه نن سخت ناروغ یم هېڅ په خبره نه پوهېږم، ته چې هر څه وېل غواړې ولاړه شه د لابراتور شبعه کې د ډاکترې نرګیس سره وغږېږه هغه هم پښتنه ده، انشاءالله تر خپله وسه به همکاري درسره وکړي!

ددې خور د لفظ ورته کارولو سره مې سم له واره د نجلۍ رنګ ته وینه ورغله، د سکون ساه یې واخیستله، البته له یادولو دې پاتې نه وي، سره ددې چې زه او نجلۍ دواړه پښتانه و، خو ما دبانک لپاره دخپل بدل کړي، شخصیت له مخې ټولې خبرې په فارسي ورسره وکړې، نجلۍ هم په فارسي راغبرګه کړه:

- درو ست است، خدا حافظ!

د همدې سره له اتاق نه ووتله، خو سره ددې چې ما د خپلې کېمرې له سترګې تقیبوله، مخکې له دې چې نجلۍ ور ورسېږي، لیني ګوشي مې راجګه کړه، د ډاکترې نرګیس سره تماس کې شوم، د نجلۍ د ورتلو د خبر سربېره، ترې ومې غوښتل چې په ډېره مهربانۍ او ښه رویه خبرې ورسره وکړي او حال ترې زده کړي چې څوک یې ناروغ دي وینه اخلي، که غواړي خپله وینه وپلوري، یا کوم بل مقصد لپاره راغلې؟ ډاکترې د اطمناً راکولو سره سم نجلۍ هم ور ورسېده، له سلام او سترمشي وروسته یې په مخامخ چوکۍ نژدې ورسره کېنوله، مخکې له

دې چې د نجلۍ سره خبرې پېيل کړي، ګوشي يې راجګه کړه، که څه هم خبرې مې يې نه اورېدلې، خو فکر کړم له آشپز نه يې چاى راوغوښتلو، ځکه چې د تليفون له قطعه کېدو څو لخظې پس آشپز چاى ورته راوړو، ډاکترې او نجلۍ خبرې پيل کړې، د لاسونو له حرکاتو يې معلومېده، چې نجلۍ ډېره جراره او په کومه جدي موضوع غږېږي، لنډه دا چې تقريباً نيم ساعت وروسته نجلۍ د ډاکترې سره خداى په اماني وکړه، له لابراتوار خاني راووتله دهليزه کې يې د ګلابي وړکي ټيکري له پاسه دمخکې په شان د نارينه خړ رنګي لوى څادر واغوستلو تر ګونډو يې ځان پکې وپېچلو، روانه شوله له عمومي دروازې هاخوا هم تر څو چې ښکارېده پسې کتل مې، وړاندې د خلکو په ګڼه ګوڼه کې تر پناه کېدو وروسته، مې ډاکترې ته زنګ وکړو:

- څنګه دې وکړل؟

- يو، دوه کسان منتظر دي، ددې د وينې ګروپ واخلم، درځم، د نجلۍ کيسه لويه وه!

که څه هم د نجلۍ په باب د ډاکترې له خولې دلويه کيسې خبرې ته مې زياته تلوسه شو، خو ددې دمشتريانو تر کار خلاصولو، د وخت تېرېدو په نيت له شبعه راووتلم دغازي څنګ ته ورغلم، په غازي د سترګو لګېدو سره مې يې ګوتو کې سګريت وليدو، زما يې هم اشتيا ورته راوسټله، يو دانه مې ترې وغوښتلو، غازي موسکی شو، له جيب نه د سګريټو راايستلو سره يې زيات کړه:

- ریسه! نن دې ښنګه سګریت ته اشتها شوې؟

- ولا قومندانه! ننني توخي دې ډېر وزن لرلو پرې ګڼه وه دې کړم!

له کړسنده خندا سره جوخت يې په زنګانه د څپړې شړک راکړو، پسې زیاته يې کړه:

- تا به ویل چې نه پرې پوهېږې!

- نه کنه، نور کله به دې د توخي خونده نه وه، ولې ننني توخي دې باور وکړه ببخي دونیا لړزوله!

له دې خبرې سره دواړو جوړه یوه خوله وخندل، تر دې وروسته مو موضوع بدله شوه، څو لحظې پس د مجلس په لړ کې مې د دهلیزه تر وره د ننه په ډاکتره نرګیس سترګې ولګېدې چې زما د دفتر (ریاست) په لور تېزه تېره شوه، له غازي نه مې روخصت واخیستلو پسې ور روان شم، ډاکتره مې په خپل دفتر کې ومندله، له کیناستو سره پیوست مو د نجلۍ د موضوع باب پرانستلو، زما د پوښتنې اړوند يې کړل:

- ریس صاحب! د نجلۍ خو وینه، مینه نه وه پکار غوښتل يې ګرده (بډووډی) وپلوري، پیسو ته يې اړتیا وه!

ددي خبرې په اورېدو مې لمړی بې اختیاره افففففف ترخوله ووتل، دا چې نور مې څه وویل، واپس همدې خبرې ته راګرځم، ترڅو سوال درته پیدا نشي یا هم کیسه مبهم نشي، لمړی غوارم زموږ د بانګ خون یا وینې د بانګ په اړه ځینې اړین معلومات درسره شریک کړم، خو دا مه هېروئ، څنګه مې چې مخکې وویل، زر تر زره واپس دنجلۍ دکیسه د دوام په پار ډاکترې ته راګرځم، دا هر څه به پرله پسې درته واضح کړم، چې ایا نجلۍ خپله ګرده وپلورله کنه؟ د کوم مبجوریت له مخې یې پیسو ته دومره جدي اړتیا وه؟ همدارنګه زما چې ډېره زیاته خوښه شوه، د راتم کولو لپاره مې یې ان د خور له مقدس لفظ نه کار ورته واخیستلو، یا مې ډاکترې نرګیس ته ورولېږله، مطلب مې څه و؟ تر کومه حده پرې کامیاب شوم، بلاخېره نتیجه یې څه شوه او نجلۍ په کوم برخلیک ورسېده؟ دا او دې ته ورته ډېرې نورې نادرې به هم در واوروم، هیله ده ملګرتیا مې وکړئ، اما په بښنې سره د فعلًا لپاره مو دبانګ په اړه توجه غوارم، یاد بانګ دکابل ښار په شهرنو سیمه کې موقعت درلودو، که څه هم نوم یې بانګ خون و، یعنې د وینې د پېر او پلور مرکز، خو دا نوم هسې بهانه وه، اصلاً موږ د ګردو یا بډوډو د پېر او پلور او قاچاق کار پکې کولو، د بېلو بېلو مجبوریتو له وجې به ډېرې کسان راتلل خپل یو بډوډی به یې د دولس لکه ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ مقابل کې په موږ پلورلو، موږ به بیا د ګونډیو هېوادونو په اتباع او د شخصي روغتونونو په مالکانو پلورل، ان د هند، ترکیه او اورپا له هېوادونو به هم کسان پسې راتلل، اګر چې دا کار د قانون له مخې ممنوع او لوی جرم و، خو موږ ځکه

د قانون له قیداتو تقریباً استثنا یا معاف و، چې د بانګ د عمومي دروزې له پاسه مو د احمدشاه مسعود لوی تصویر نصب کړی و، په دې وروستیو کې مو د مارشال فهیم تصویر هم ورسره نصب کړو، په دې سره یې د قانون د محوه کولو په وړاندې تاثیر لا زیات شو، البته ددې لپاره چې سوې تفاهم رامنځ ته نشي باید ووایم چې په نموړو تصویرو کې کرامات دا و، کله چې په ۲۰۰۱ کال کې امریکایان راغلل د جمعیت اسلامي حزب له خورا د ګرم هرکلي سره مخ شول، حتا ډېری مشرانو او رسنیو کې سیاسي شنونکو به ویل چې د نموړي حزب د رهبر استاد برهان الدین رباني او ځینو نورو مشرانو په بلنه یې امریکایان راغلل، ځکه چې دوئ د طالبانو په محاصره کې و، مجبور و، له یو چا مرسته وغواړي، همدا و چې امریکایانو او متحدینو یې بلنه قبوله کړه، د علقایده دمشر اسامه بن لادین نه دحمایت په بهانه یې د طالبانو حکومت رانسکور کړلو کابل کې یې لمړی موقت اداره او بیا د جمهوریت تر نامه لاندې د اساسي قانون او دېموکراسۍ په اصولو ولاړ نوی حکومت رامنځ ته کړلو، که څه هم په راس کې یې د پښتون قوم له منځه حامد کرزی راوستلو، خو نور یې د جمعیت اسلامي حزب د ګرم هر کلي په مقابل کې، د نوي رامنځ ته کړي حکومت ۷۰ سلنه واک او متیازات ددوئ په اختیار کې ورکړل، پاتې ۳۰ سلنه تشه یې په نورو افغان اقوامو ور ډکه کړه، په دې دېرشو کې هم ډېره فیصدي د هزارو او هغه چا وه، چې امریکایانو ته یې که بلنه نه وه ورکړې، یا یې په راتلو سره هرکلی ونکړو، خو طالبي مخینه یې هم نه لرله، یا یې د دوی په راتګ سره

حساسیت هم ونه ښودلو، د امریکایانو په رتللو سره ډېر بدبخته یوازې پښتون قوم شولو، ځکه چې د طالبانو حکومت ۹۵ سلنه له پښتانو جوړ شوی و او امریکایان د همدوئ په خلاف افغانستان ته راغلي و، له دې کبله یې دطالبانو تر ماتې وروسته هم سره ددې چې لمړي دوه درې کاله آرامه آرامي وه، چا ټک هم پرې ونکړو، ولې بیا هم دوئ د نورو افغان قومونو په پرتله د پښتانو سره یو قسم توپیري او قصدي چلاند کولو، چون نه تنها دا چې په نوي حکومت کې یې نسبت د پښتانو زیات نفوس ته تقریباً بې برخې یې کړل، یا یې هم په ناچیز ونډه ورکولو سره سترګو کې خاورې ورته واچولې، بلکې د طالبانو، علقایده، ترهګر همدارنګه په یو او بل نوم به یې پښتون مېشتې سیمې خصوصاً په جنوبي ولایتونو کې یې بمبارۍ کولې، چاپې یې اچولې، خلک یې وهل ټکول، زندانونه له پښتانو ډک و، ان تر دې چې دوه درې کاله وروسته یې پښتانه بیا ټوپک راجګولو ته مجبور کړل، ورځ تر بلې د طالبانو په نوم د پښتانو او امریکایانو تر منځ جګړې زور اخیستلو، حتا نن ددې کتاب تر لیکلو پورې چې ۱۳۹۸-۳-۲۵ نېټه سره سمون خوري، لا هم د هېواد په ګوټ ګوټ کې درنه جګړه روانه ده، دا چې پایله به یې څه شي؟ هغه به تاریخي کتابونو ته پرېږدو، اصلا خبره د احمدشاه مسعود د تصویر له کراماتو اوږده شوه، پورته مې ددې کراماتو د کلیدي نقطې په اړه د امریکایانو له خوا د جمعیت اسلامي حذب پیروانو ته د نوي حکومت ۷۰ سلنه سهم ورکولو ذکر درته وکړو، همدا و چې جمعیتیانو هم له په لاس ورغلي فرصت نه ښه ګټه واخستله خصوصاً پنجشریانو

چې له فرصتونو د ښې استفادې له جملې يې يو مثال همدا دجمعيت اسلامي حذب يو عادي قومندان احمدشاه مسعود دی، چې نوموړی ان د امريکايانو له راتلو مخکې په حق رسېدلی و، ولې دوئ له موقع نه په پايده پورته کولو، همدې نوي رامنځ ته شوي حکومت کې په افغان ملت د ملي قهرمان په صفت وتفلو، په اساسي قانون کې يې تصويب کړو، د پلازمينې په هره څلور لارې، لويو واټونو، جادو، د سترو نظامي مرکزونو د ودانيو سربېره، په هره دولتي اداره کې يې د وخت د ولسمشر سره جوخت د ملي قهرمان په حيث تصويرونه ځای په ځای او له خپل قدرت نه په استفاده يې خلک په ناخوښه زړه احترام ته قايل کړل، ددې علاوه کال کې يوه ورځ يې د دوئ په اصتلاح دملي قهرمان د تلين لمانځلو لپاره ځانګړې کړه، که څه هم په دې وروستيو کې دې ورځې ته د ځينو کسانو له خوا لږ لږ د شهيد اونۍ نوم هم کارېدو، ولې په دولتي محافلو کې مراسم به ټول د قهرماني ملي، په ياد او غمرازۍ راخرخېدل، په نمورې ورځ به عمومي روخصتي وه، د قهرماني ملي پلويان به ښار ته راووتل، د دولتي وسايطو او وسلونه په استفاده ډلګۍ ډلګۍ به دښار په سرکونو، جادو، کڅو او واټونو کې کرځېدل، د دچيغو وهلو علاوه، د ټوپکو خولې به يې پورته نيولې وې، ذربې به يې کولې، پولس، ملکي هر څوک به يې چې مخې ته ودرېدو، د موټرو تر ټېرو يې لاندې کولو او يا يې هم ځای په ځای ويشتلو، له دې کبله په ياده ورځ به د ښار ټول امنيتي کمربندونه په مخ خلاص و، ترافيکي قوانين، موانين به محوه و، ښار به د لوی وحشت شاهد و، همدا و چې، د دوی

سربېره ځیني نورو کسانو به هم له دې ورځې فوق العاده سوء استفاده کوله، په موټرو به یې ښځې او مخ د احمدشاه مسعود تصویرونه ولګول، نور به بې خاره چا د چاودنو لپاره بمونه او بارود خپلو اهدافو ته پټکې رسول، چا به وسلې هاخوا دې خوا لېږدولې، د موادې موخدره او تاریخي آثارو قاچاقبرو به خپل کار پکې کولو، همداسې نور خلاصه په دې ورځ به چې په موټر د احمدشاه مسعود تصویرونه لګولي و، د کابل ښار علاوه، تقریباً په ټول افغانستان، خصوصاً دسمتې شمال هر ولایت ته به دې چې پښه پرې ټینګه کړې، په ټوله لار چا دومره نشوای درته وېلی چې په مخ دې څو ګله دي؟ ولو که هر څه به دې بار کړي و، له دې وجې به ډېری قاچاقبرانو د کال په اوږدو کې جمعه کړي تور مواد خپلو موخو ته د رسېدو لپاره دې ورځې ته معطل کړي و، په همدې یوه ورځ به یې دټول کال زور ایستلو، ددې ورځې تر تېرېدو وروسته چې د احمدشاه مسعود پلویان به ستړې شول، ټوپک به یې کېښودل پولسو به بیا په خپل فعالت شروع وکړه د ښارونو دروازې او کمربندونه به یې وتړل، خو له دې وروسته هم په نورو ورځو هم د قهرمان ملي تصویر بې اثره نه و، د کومې ودانۍ په دروازه به چې لږېدلی و، د هغه داخل کې قانون او دقانون پلی کوونکو څواکونو آنتن نه ورکولو، حتا د کوم موټر د مخ په شیشه به یې چې تصویر چسپ و، ترافیکو به لکه د نورو ډرېورانو سره د ترافیکي قوانینو په نقص دومره سر نه ورسره خوږولو، چون له تصویر نه معلومیده چې سړی له زورورو نه دی، که یې راټینګ کړی وی، ممکن ترافیک وهل خوړلي وی، بندي شوی وی، حتا له دندې ګوښه

شوی وی، له دې کبله موږ هم د قهرماني ملي د تصویر تر چتر لاندې د بانګ خون په نوم بې غمه خپل د بډوډو د پېر او پلور کارو بار کولو، که څه هم د حکومت نه وېردم، د امنیتي کسانو به چې د دروازې لپاسه د قهرمان ملي په تصویر سترګې ولګېدې بېچاره ګان به واپس لورس شول، ولې خپله ددوئ په خبره د آمر صیب یا قرماني ملي د پلویانو نه مې څه خار خوړلو تر څو پوه نشي چې زه یو پښتون یم ددوئ په شان، او ددوئ په جامه کې د احمدشاه مسعود له تصویر نه په ګټه د قانون، خلاف د بډوډو د قاچاق کار او بار مخ ته وړم، له همدې وېرې مې د شهاب الدین خرساني په نوم، د پنجشیر د بازارک داوسیدونکي او تاجک قوم د وګړي په صفت جعلي پېژندپاڼه جوړه کړې وه او خبرې مې هم ټولې په فارسي کولې، حتا ډېرې خپل کارمندان مې هم نه و، راباندې خبر چې زه پښتون یم، خو په هر حال فکر کړم د تصویر کیسه رانه اوږده شوه؟ ښښنه غواړم، هیله ده مطلب مې رسولی وي، نور ځای په ځای د پای ټکی ورته اېږدم، مستقیماً د نجلۍ په باب د کیسې د دوام لپاره د ډاکترې هغې جملې ته ورځم چې کړل یې:

- ریس صاحب! د نجلۍ خو وینه مینه نه وه پکار، غوښتل یې خپله ګرده (بډوډی) وپلوري، پیسو ته یې اړتیا وه!

په دې سره مې لمړی د حیرانتیا له مخې بې اختیاره افففففف.. ترخوله ووتل وروسته مې پسې زیاته کړه:

- څه د ظالم بچی ده، پیسې یې څه کولې؟

- نه پوهېږم ریس صاحب! پوښتنه مې هم تري وکړه خو څه یې ونه ویل، البته شرط یې هم دا و، چې ستاسو د عامه ریتې یعني دولس لکه (۱۲۰۰۰۰۰) افغانیو نه یو لک (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ کمې راته حساب کړی، خو زما سره به مو نماینده لېږئ، په څلورمه کارته کې د (دارالدرمان) په نوم کوم شخصي روغتون نوم یې واخیستلو، ترڅو جراحي مې هلته تر سره شي، ځکه چې د هغه روغتون جراح یوه ښځینه ډاکتره ده، لایقه هم ده، بلخوا زه ورسره پېژنم، تر څنګ یې یوه همصنفۍ مې هم هلته نرسه ده، چون په کور کې داسې څوک نه لرم چې پایوازي مې وکړي، هلته مې انشاءالله همغه همصنفۍ همکاري راسره کوي.

- دې نجلۍ کې کومه بله کیسه نه وي ډاکترې! کنه ددې ځوانۍ سره خو چې یوازې یو چاته موسکۍ هم شي، دولس لکه افغانۍ ورکوي!

- نه ریس صاحب! څه کیسه به وي پکې؟ ته ټولو ښځو ته ددې څو ښار ګشته فاحشو نجینو په سترګه مه ګوره (۹۹) سلنه افغان مېرمنې دبدن غړي پلوري، حتا تر سر تېرېږي ولې عزت یې ورته مهم وي!

- بیا نو څه فکر کوې، پیسې به یې د څه لپاره دومره ضرور پکار وي؟ چې په دې نوځوانۍ کې او بې مثاله سرشارې ښکلا سره، سره یې د ځان معیوبیت ته اراده کړې، د بدن یو خورا مهم او حیاتي غړی په پیسو پلوري!؟

ډاکترې په موسکا کې راغبرګه کړه:

- ریس صیب! دلته خو هره ورځ لسګونه ګرده پلورونکي راځي، څه خبره ده، چې یوازې ددې نجلۍ ګرده پلورل دومره حیرانونکي درته ښکاره شول؟

- اوففف، ډاکترې! ته هم خبرې ښه کړې، خو (ک.... ) یې کړې کړې، مشتریان توپیر لري، ته نه وینې؟ نور چې راځي، اکثریت یې د عمر په دریمه دوره کې وي، سن یې پوخ وي، بل خوا مشکیلات یې له ورایه ښکاري، یا یې اولادونه وړي وي، یا سر پناه نه لري یا دوفه شوي وي، وغیره ستونزې لري، ولې ددې نجلۍ د خام عمر سربېره ښاپېرزاذې ښکلاء او ځوانۍ ته په کتو یې واقعاً جالبه ده!

ډاکترې مې په خبرو کې ترخوالی درک کړو، زر یې رنګ واړولو:

- بلې ریس صیب! رښتیا هم همداسې ده او بېعقله هم نه وه، چې د خپل صحت په ارزښت دې پوه نشي، ښه باتعلیمه هوښیاره نجلۍ وه، اما بدبختانه د کوم ډېر کلک مجبوریت له مخې یې داسې وران تصمیم نیولی و، خو افسوز ویې نه وېل!

- منه ډکترې! ددې معلومات اړین دي، یوه طریقه یې راګوره!

- نه پوهېږم رایس صیب! که څه هم ما بار بار پوښتنه ترې وکړه اما قصداً یې نه غوښتل څوک پوه شي، حتا اخیر کې مې دمبایل د شمارې غوښتنه ترې وکړه،

وېل مې: ترڅو له ریس صیب سره تر مشورې وروسته بیا زنګ درته ووهم، لا یې هم د خپل مبایل شماره رانکړه بلکې زما شماره یې ورسوه واخیستله کړل یې: تاسو مشوره وکړئ زنګ بیا زه درته کوم، که چېرې خوښه مو وه؟ زه هغه روغتون کې وخت اخلم د نوبت رارسېدو سره سم احوال درکوم، تاسو به مو خپل کس راولېږئ، نو کېدی شي تر بېګاه یا سهار ته زنګ ووهي، خصوصي روغتون کې د جراحۍ په باب ستا د ځواب به صفت څه ورته ووایم؟

- که په شف شف وخت ضایعه نکړو او مستقیماً شفتالو درته ووایم، پس له تا دې پټه نه وي ډاکترې! که څه هم ذوقونه فرق لري، ممکن تاته دومره ښه نه وي ښکاره شوې، ممتا زما د ذوق له مخې یقین وکړه ټول ژوند کې مې لمړنی ځل دی چې دومره ښایسته نجلۍ مې ولیده، لنډه اورېده یې دا په هر قیمت چې کېږي، داسې یوه لاره لټوه چې نجلۍ ی.....

په همدې ځای مې خبره نیمګړې ورخوشې کړه.

ډاکترې مې خولې ته په کتو له څو شېبو انتظار وروسته کړل:

- ولې دې ساه ونیوله نجلۍ څه؟

- افففف ډاکترې څورلس کاله دې تحصیل کړی، خو بیا هم لکه کوچی پوهول دې د شنه کاڼي سورې کول دي!

ډاکترې وخندل پسې زیاته یې کړه:

- رښتيا وايې رايس صيب! باور وکړه که مې اوس هم صحيح مطلب اخيستی وي!

- خو وايم کنه چې پوهول د دکانې سوري کول دي، مطلب دا چې زما پيسې او شتمنۍ دې اور واخلي ابرې دې شي، چې داسې يوه تازه سپړل شوې د ګلاب غوټۍ مې تر سترګو لاندې پيسو ته د اړتيا له وجې خپلې ځوانۍ ته اور ورکوي او زه ورته ګورم، په هېڅ صورت نه، په پيسو کېږي، ولوکه په هر څو کېږي، بډوډی څه، زه به يې ديو وينبته ضايعه کېدو ته هم اجازه ورنکړم، ولې تر څنګ يې په دې پسې الوتي زما په روح او روان باندې هم ددې ترحم ته اشد ضرورت دی، په دې برخه کې دې صادقانه همکاري غواړم، چې زنګ يې وکړو راوغواړه، د بانک دخل يې په اختيار کې ورکړه، هر څومره پيسې يې چې پکار وي، بلا يې دې واخلي، اما په دې شرط چې مقابل کې يې په خورا دوستانه او ملهمانه الفاظو زما د زړه او ببلا ببل هر اندام غوښتنه او ضرورت ورياډول، همدارنګه پرې منل يې هم اړين دي، پس سره ددې چې کله ځان ګول واچوې، خو بيا هم ستا په ژبه او متکليمه استعداد کې زه دا توانايي وينم آغلې ډاکترې!

ډاکترې خندا کې راغبرګه کړه:

- په سترګو ريس صيب! څه چې زما له لاسه کېږي، تور توتان تر تا قربان، خو اوس به بيا وايې چې ځان ګول اچوې؟ اما باور وکړه که لا مې هم له نمورې نجلۍ نه ستاسو د غوښتې په نوعيت سم سر خلاص وي؟!

- داسې راته ښکاري ډاکترې! چې غواړې له درته مساعدې زمینې نه په استفاده، ښې ملنډې راباندې ووهې، کنې له یوې ښکلې نجلۍ نه د یو مجرد ځوان خواهش بل څه کېدی شي، پرته له دې چې د ژوند همسفر یې کړي؟

ډاکترې بیا هم د خپل عادت له مخې په خندا سره راغبرګه کړه:

- هووو وبښه ریس صاحب! رښتیا هم همداسې دی ده، خو انسان ضعیفه دی کله یې فکر کار ونکړي او تر ډېر زه هم نه یم ملامته ځینې وخت د مجرادانو خواهشات هم سم نه وي، نو ځکه مې زر پام ونه رسېدو!

- لاحول ولاقوة.. ډاکترې! د احساساتو سره مې لوبې مه کوه، زما او ستا په اندازه وخت چې ځوک یو ځای سره تېر کړي، رګ، رګ دیو او بل پېژني او سترګو کې یو دبل په مطلب پوهېږي، اما زه تاته په خوله غږېږم لا هم نه پوهېږې، ته وا په چنایي درته لګیا یم او یا د دوختر بازۍ ښه لویه مخینه لرم، چې تا مې په اړه داسې قضاوت وکړو؟

ډاکترې دا ځل سم په کړس وخندل پسې زیاته یې کړه:

- شوخي مې وکړه، بیا هم وبښئ ریس صاحب! ولې ته باور وکړه، ستا مخکنې جدي شخصیت، کمو خبرو او قاطع دریځ ته په کتو او نن په عاشقانه نړۍ کې د پل ایښودو، سره فوراً ۱۸۰ درجه تغیر، ماته څېره او مشعوقې ته د لار لټولو په پار د الفاظو سکښل، اوږدې او ساده خبرې دې زما لپاره خورا جالب بحث و.

- امم همم ما خو له مخه درته ووېل چې تاته ښه د ملنډو او ساعتېري موقع په لاس درغله ډاکترې!

- نه خدای ج دې نکړي ریس صاحب! پسې زیاته یې کړه: زه چې درته ژوندۍ وم ډاډه اوسه څه د فاتح الجهان لور خو نه ده، چې ستا په شان له هر اړخه په تول پوره او څه پرې باندې ځوان پشنهاد به ردوي، په داسې حال کې چې پیسو ته د مجبوریت له وجې خپله کرُده پلوري او تاسو پرته د یو ویښته له ضایعه کېدو یې په هر قېمت اقتصادي اړتیا پوره کولو ته حاضر یاست! پس ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوې سترګې!

- ایله دې د انسانیت خبره وکړه، د غازي په اصتلاح: خرابه مشې ډاکترې!

په دې سره دواړو لږ وخندل، چون د غازي به چې په هره ښکلې نجلۍ سترګې ولګېدې سم له واره به یې کړل: افففف خرابه مشې د کاکا لورې!

خو په هر حال د غازي تکیه کلام ته له خندا وروسته مې پسې زیاته کړه: چې داسې ده بیا نو، ځنګه مې چې مخکې ووېل کله یې چې تماس درسره ونیولو، په یو معین وخت کې یې راوغواړه، له راتلو سره یې پاس ګلخانې ته هسکه کړه، اشپز ته احوال ورکړه چې یو ښه ظفراني چای در دم کړي، همداسې د وچې او لندې میوې انتظام هم ورته وکړه، که اړتیا شوه یا د ډوډۍ وخت و، ملوک ته پیسې ورکړه له رستورانت نه ښه فوق العاده ډوډۍ ترې راوغواړه، په همدې

جریان کې به یې ښه ملهم کړي، بیا به کرار کرار په ډېر احتیات او همشیرانه انداز د خبرې سر ورلوخ کړي، خپل مطلب به ور واوروي، په وروستیو کې دې که زما درتلوته زمینه سازي وکړه، کوم ضروري کار دې راپورې وتړولو، زه به هم د هغه ضرورت په اساس د یوې دقیقې لپاره د کاکا صالح په تمثیل کولو سره تشریف دروړم، ممکن دا کار هم اثر ګوزار اوسي!

په دې سره ډاکترې بیا هم د خپلې خوش مزاجۍ په ساتلو سره خپل عادت وکړو، ښه په کړس یې وخندل، اخیر کې یې کړل:

- صحیح ده ریس صیب! چې زنګ یې ووهلو، که امکان و انشاءالله د مبایل نمبر دې راسره وصلوم، ترڅو ته مو هم خبرې واورې!

مخکې له دې چې زه یې ددې خبرې تشکوري ترې وکړم، ور وټکېدو، چې کتل مو صفاکار و، نوموړی صفاکار مو سپینږیری و، له دې کبله ټولو کارمندانو به یې ډېر لحاظ کولو، همدا و چې دی به هم تر ما پورې یګان وخت د بانګ په کارمندانو ډېر تېز ورتلو، دلته هم په ډاکتره د سترګو لګېدو سره یې کړل:

- ته دلته بې غمه ناسته یې اټېرې (خاندې) ورشه دا دوه ساعته کېږي مشتریان بېچاره دې درته انتظار دي!

ډاکترې ماته سترګې راوړولې په موسکا سره یې کړل:

- سمده همدا خبره شوه ریس صیب! خدای پامان ولاړم! چې کاکا غوسه دی!

- هو، هو ځه خدای ج دې مل شه، عاجل ځان رسوه، چې هسې نه ځان پرې وډبوې!

دا خبره مې د ډاکترې خندا ته بیا یوه بهانه شوه، د ځان تر کابو کولو وروسته د خپلې لابراتوار شبعه په لور روانه شوه، لنډه دا چې ورځ تېره شوه ماخستن ناوخته مې زنګ پسې وکړو، پوښتنه مې ترې وکړه:

- نجلۍ زنګ نه دی وهلی؟

کړل یې:

- نه تر دې دمه خو یې نه دی وهلی!

دشپې تر تېرېدو وروسته سهار په (۷) بجو مې بیا زنګ ورته ووهلو، د ډاکترې ځواب داځل هم منفي و، بلاخېره شاوخوا نهه (۹) بجې وې، موټر مې له کوره راویستلو د باغ بالا په سرک راروان وم، مبایل ته مې زنګ راغلو، چې کتل مې ډاکتره وه، زړه کې مې راوګرځېده، ممکن هغه نجلۍ زنګ وهلی وي، ډاکترې به د کړې وعدې له مخې زما نمبر هم وصل کړی وي، له دې کبله زنګ مې اوکې کړو، ولې غږ مې ونکړو، خپ او چوپ مې غوږ ته ونیولو، همداسې و، د دوئ لمړی سلام کلام او معرفت تېر شوی و، په دې ساعت کې ډاکترې ورته کړل:

- ښا شکر چې ښه یې ثناء جانې! زه خو ها ورځ ستا په موضوع د بانګ د ریس سره وغږېدم، ځواب یې مثبت و، انشاءالله کومه ستونزه نشته، ولې تر څنګ یې

ځینې ورېږ ورېږ اندیښنې لرلې، ددې د رفعه کولو او د بانک د اصولو متابق ستاسو امضاء اخیستل اړین دي، ددې لپاره مهرباني وکړه، نن کولی شې، که سبا؟ یو ځل بانک ته راشه!

- وبښه ډکتر صاحبې! هیله ده، ما درک کړې زه خورا ستونزې لرم د بیا درتلو وعده نشم درسر کولی، ولې دا ډاډ درکولی شم، چې تاسو زما له مسولیته خلاص یاست، زه مې د جراحۍ د هرې ښه او بدې پایله په پار د هغه روغتون د مسولینو سره موافقه او لاس لیک کوم!

ډاکترې په خوشنونکي او همدردیز انداز ورغبرګه کړه:

- ثناء جانې، زما خوږې خورې! لاسلیک هم په هر صورت اما د بډوډي د سالم ایستلو وړتیا یوازې خاص مسلکي او ماهر ډاکتران لري، هر ډاکتر ددې قابلیت نه لري، ځکه چې د بډوډو جراحي باید تر (۵) دقیقو زیات وخت وانخلي، تر څو وینه پکې توره نه شي، همدارنګه والونه او شریانونه یې حد اکل باید تر دولس (۱۲) ملي مترو اوږدوالي لنډ پرې نشي، دې ته ورته ځینې نورې بارکۍ لري، په دې اړه هم د بانک ریس ته دهغه ښځینه ډاکترې د معرفت او کاري وړتیا په اړه اطمناً ورکولو په پار ستاسو راتلل اړین دي!

- ډاکتر صيب محترمې! ما خو مخکې خپله انديښنه درسره شريکه کړه، د درتلو به سل په سله درته دروغجنه شم، ولې که د مبايل له لارې ممکن وي؟ زه کولی شم ستاسو د تشويش په اړه ډاډ درکړم!

- ثناء خورجانې! ايا کولی شې، د ممانعيتونو په اړه دې لږ راته ووايې، ممکن زه کمک درسره وکړی شم؟ که ترانسپورتي يا دې ته ورته نورې وړې ستونزې وي، چې زما لاس پرې بر وي، خور دې خدمت کې ده!؟

- نه داسې نه ده، مننه ډاکتر صيب محترمې! ژوندۍ اوسې، تاته دې خپل اخلاص ورسېږي.

- سمه ده، خورې! زه به د ريس صيب سره وغږېږم، ستا لپاره به هيله ترې وکړم ترڅو ستا ستونزو ته په کتو د مبايل له لارې د خپلو انديښنو ډاډ درنه تر لاسه کړي او ستا د خوښې او غوښتنې سره سمه موافقه درسره وکړي، دا ټول ددې لپاره چې په همغه يو نظر ليدو سره دې، ستا ښکلې ځوانۍ، هوښيارۍ، پوهې او انسانيت ته په کتو زياته راباندې ګرانه شوې، تر خپله کوچنۍ خور مرينا کمه نه راته ښکارې، خو کاشکې چې يوه بنيادي مرسته مې له وسه درسره شوې وی.

- ژوندۍ اوسې ډاکتر صاحبې! ايا بيا زنګ ته وهې؟

- زه به لمړی ورسره وغږېږم، وروسته به ښه دا وي، چې خپله سره تماس کې شئ، مستقيماً يو بل ته قناعت ورکړئ!

- ايا نشي کېدی تر نظر اخيستو وروسته يې په نمايده ګۍ ته راسره وغږېږي؟

ډاکترې په همدردانه انداز ورغبرګه کړه:

- قربان دې شم زما خوږې خورې! خو دلته هر څوک خپل مسوليت لري، هيڅ يې تر اثر لاندې مه راځه، ډاډه ورسره وغږېږه، ريس هم بد سړی نه دی، تل ديوې موضوع د غوټو دسپړلو لپاره د لنډو او اسانترينه لارو په لټه کې وي!

په دې سره نجلۍ هم کم رنګه خندا کې ورغبرګه کړه:

- نه تر اثر لاندې راتلو خبره يې نه ده، خو هغه ورځ چې ما وليدلو داسې يو ګونګ انسان راته ښکاره شو، ډېر وروسته په ګنګړو آواز هغه هم د تاجکو په لهجه فارسي کې به د يوې خبرې ځواب ترې راووتلو! له دې کبله، که څه هم تاسو ورسره بلد ياست، خو زه او دی فکر نکړم په اسانه سره پوه کړی شو!

په دې سره ډاکترې ښه وخندل، ماته هم د نجلۍ په ګونګ او ګنګړو خطاب کولو او هغه ورځ له لاسه ورکړو روحياتو او ددې په اصتلاح ګنګړو خبرو ته مې په کتو، ډېره بې ختياره خندا راغله، خو خپل حساسات مې کنترول کړل، د ډاکترې خندا څو لحظې وخت واخيستلو، وروستيو څپو کې يې ورغبرګه کړه:

- نه داسې نه ده، ثناء جانې! هاا ورځ فکر کړم سخت ناروغ و، کنې ما خو درته ووېل چې ډېر ښه د خبرو کولو او مخاطب د قناعت حاصلولو استعداد لري، سره ددې پښتو کې هم هېڅ مشکېل نه لري!

- بیا سمده ډاکتر صاحبې! نظر یې واخله که خوښه یې وه؟ ما ته زنګ وکړه او که ځواب یې منفي و، بیا به هم یو احوال درسره راکړې وبښه!

- په سترګو تر اوسه بانک ته نه دی، راغلی دوه دری ساعته وروسته احوال درکوم، په ډېر احتمال سره مطمینه اوسه، انشاءالله زه تېینګار پرې کوم، زما خبره تر ډېره آوري، څنګه چې ته غواړې، زه به په ټول توان د همغه څه پرې منلو هڅه وکړم!

- تشکور ډاکتر صاحبې! زنګ ته به دې سترګې په لار یم، نن باید دا خبره واضح شي، کنه چې بیا د کوم بل بانک سره وغږېږم، چون د دراتلونکې هفتې تر ورځې زما پیسې پکار دي!

- انشاءالله ډاډه اوسه!

- تشکور ډاکتر صاحبی! که کوم خدمت نه وي، د فعلاً لپاره دې نور په خدای ج سپارم ښه ورځ!

- مننه ثناء جانه! تاته هم ښه ورځ الله ج دې مل شه!

په همدې سره ډاکترې، د نجلۍ تماس ورقطعه کړلو، په ما یې غږ وکړو:

- ریس صیب آورې؟ نجلۍ ته دې خدایزده څه ځان په پېریانو وهلی و، خبرو ته یې دې پام و؟

په دې سره دواړو وخندل، رښتيا هم زما په باب ګونګ او ګنګړو الفاظ کارول يې جالب و، خو په هر صورت ډاکترې ته مې ورغبرګه کړه:

- در روان یم له نژدې دې وینم، د اوس لپاره دې خدای ج مل شه!

- سمه ده خدای په آمان!

تليفون قطعه شو، په لارو ګڼه ګوڼه وه، بلاخېره نیم ساعت پس بانګ ته ورسېدم، وړاندې پارکينګ کې د موټر تر درولو وروسته واپس راوګرځېدم، دروازه کې مې ديوې لحظې لپاره په ولاړو پښو له سلام عليک سره ګډ د غازي سره يوه خوله ګپ وکړو، له دې نه تر راروانيدو وروسته عمومي دهلېزه کې د بانګ د دوه دريو کارمندانو سره مخامخ شوم، ددې سره د جوړ پخير په لړ کې هاخوا د ډاکترې دشعبه وره کې په چوکۍ ناستو څو تنو مشتريانو مې سترګې ولګېدې، لاس مې ورته پورته کړو، راراوان شوم چې ليدل مې، زما دشعبه وره کې هم څو کسان منتظر و، سلام مې ورکړو، شبعه ته د ننوتلو سره هم محال مې يې زر زر په کارونو ورخلاصولو پيل وکړو، د دوئ تر رخصتولو وروسته مې، د کېمره له سترګې د لابراتوار شعبه تر خپل ليد لاندې راوستله، ډاکترې ته لا هم دوه مشتريانو په نوبت کې ناست و، تر وزګارېدو يې د انتظار لنډولو په پار مې د خپل دفتر په وروسته پاتې کارونو قلم راوخيستلو همدې باندې مصروف وم، آشپز دې خيريوسي يو ګيلاس چای يې هم راوړو، نیم ګيلاس مې لا نه وڅښلی،

چې په دفتري ګوشۍ د ډاکټرې زنګ راغلو، ګوشي مې جګه کړه، په سلام پسې پيوست يې کړل:

- ريس صاحب! راغلی يې؟

- بلې وختي راغلی يم!

- سمده!

نور يې څه ونه ويل له همدې سره يې تماس ورقطعه کړو، بلاخېره پنځه شپږ دقيقې وروسته د وره په ټک ټک کولو سره شعبه ته راننوتله، په اوليه سلام کلام پسې جوخت مو د ثناء موضوع را آواره کړه، ډاکټرې کړل:

- سهار دې دنجلۍ خبرې واورېدې؟

د ډاکترې د پوښتنې په کولو سره فوراً زما په باب د نجلۍ له خوا د ګونګ او ګنګړو کليمات مو ذهن ته راغلل، پرته له يادولو يې، يو ځل بيا دواړو لږ پرې وخندل د خندا وروستيو کې مې ورته کړل:

- هو وامې ورېدې! نور په هر حال ولې بانک ته له راتلو انکار يې سخت شو!

- هو رښتيا ستونزه يې جوړه کړه، خو د اوس لپاره ددې د نه راتلو يا هم A پلان ناکامېدو په منلو سره B پلان جوړول په کار دي، هغه هم زر تر زره ځکه چې تاواورېدل همدا نن يې د قاطع ځواب غوښتنه وکړه!

- ورته وېلي به دي و، چې بانګ ته راشه همداسې به پیسې درکړو!

- ددې خبرې کول خو ستونزمن نه دي ریس صیب! او نه مې هېر و، ولې لکه څنګه چې یوه نجلۍ خپله همجنسې یا نجلۍ درک کولی شي، غېرې همجنس یې نشي درک کولی، هلک نه دی چې څوک ورته ووایي راشه پیسې همداسې درکړم او دی هم سم د واره ور روان شي، اما یوه پېغله نجلۍ هغه هم په نابلده ځای کې، د نابلده خلکو له خوا پرته له کوم منطقي دلیله د داسې خبرې تر شاه ډېرې بلاوې ویني، هېڅ کله یې په وړاندې مثبت بیني نشي کولی، دومره به یې ووېروي، چې بیا به یې د هېڅ وخت لپاره د مبایل شمېره هم زنګ تېر نکړي، البته ددې خبرې کول ضروري دي، مګر د یوې مهندسي شوې طرحې له مخې یعني په هغه طریقه ورته ووېل شي چې نجلۍ د وېرې احساس ونکړي او یا هم احساساتي نشي، ترڅو خدای ج مکړه هڅې مو بې پایلې شي، خندا کې یې پسې زیاته کړه: بلاخېره زما شیرني هم وسوزي!

په دې سره یې زما په شونډو هم موسکا خوره کړه، کړل مې:

- امممم ستاسره د خپلې شیرنۍ غم دی، رښتیا یې ویلي، چې پشکه د خدای ج لپاره موږک نه نسي؟

دا خبره یو ځل بیا د دواړو د خندا سبب شوه، اخیر کې مې ټوکتاً پسې زیاته کړه: اصلاً زه اوس پوه شوم چې ته خپله شېرني پېرړوې، ځکه دا موضوع داسې

پېچلې، پېچلې کوې، کني د پيسو په مقابل کې هېڅ ښځه د ټينګې نه ده، چې ورته ويلي دې وی، خبره ختمه وه، دومره کيسو ته ضرورت نه و!

ډاکترې هم په خندا خندا کې د ټوکې ځواب په ټوکه راغبرګ کړو!

- نه ريس صاحب، ځنګه مې چې مخکې درته ووېل لمړی خو هرې ښځې ته ددې ځو ښارګشته بازاري ښځو په سترګه مه ګوره، کوم چې د پيسو په بدل کې خلک له دوی، دوی له خلکو سوء استفاده کوي، بلکې په ښځو کې به تر سلګونه نارينو غيرتي ښځې ووينې، چې زه فکر کړم همدا ثناء يې يو ښه بېلګه ده، چون يوه ښځه چې ډېر قوي ايمان او غيرت ونه لري هېڅ کله نه اړ کېږي چې ستا تر بانګ خونه راشي د خپل بدن يو حياتي غړی وپلوري، هغه هم ثناء غوندې يوه نازکه او ښکلې نجلۍ، بناءً په ما خو ته ګران يې ريس صاحب! وبرېږم عاشقي د ليونتوب په پله تېرېده دې، بناءً خدايناخوسته ددې قضيه د ناکامېدو سره دې ببر سر، ځيرې کرېوان، ييلې پښې او په ټوله معنا د وخت مجنون، مجنون په تصور راځې، ځکه داسې په احتيات پښې ايږدم! خپلې همدې خبرې ته يې په يو ملايمه خندا سره د ځو سانيو لپاره د خبرو تسلسل مات کړو، وروسته يې بيا پسې زياته کړه: او دې ته دې هم پام وي، ځنګه چې تا خيال ورته کړی، اوس هغه کوټه بندې پټ سترګې ښځې هم نه دي، د نن ښځو عصري او ديني زده کړې کړې، ګرځېدلې، انټرنيټ ته لاس رسی لري، ځلور ويشت ساعته دنيا ځاري، تېريستل يې ساده کار نه دی!

د اوووووووو په کولو او مسخند په خندا سره مې ورغبرګه کړه:

- هسې مې غږوې ډاکترې! یقین وکړه دومره مې تر شنو ونو تېرې کړې چې....

نور مې څه ونه وېل خبره مې په همدې ځای نیمګړې پرېښوده.

- ډاکترې راغبرګه کړه:

- نه قربان! مخکې مې درته وویل اصلاً ته د صحیح اصیلو افغانو او بازاري نجونو توپیر نشې کولی!

- سمه ده ډاکترې! ولې دا هم مه هېروه چې ما پسې هم د مور دعا ده، ډېرې ناممکنې مې یې په مخ ممکنې کړې، نن هم باور لرم ددې صحرائي کفترې په وړاندې به هم انشاءالله خپل جادو وښایي، ته مې نمبر ورکړه تکیه په الله ج!

ډاکترې کړل:

- له تېرکو هاخوا چې واقعت شي ریس صیب! زه هم دنجلۍ د جدیت سره، سره ستا دخبرو کولو هنر او د مخاطب متثیره کولو ته په کتو، ستاسو ترمنځ د تماس نیولو مثبت پایلو ته خوشبینه یم او په دې تنګ وخت کې بله لار هم نشته نجلۍ همدا نن د قاطع ځواب غوښتنه کړې، که یوه هیله ورنکړې شي ممکن د خپلو مجبوریتونو له مخې بله لار ونیسي. همدې وخت کې د ډاکترې مبایل ته زنګ راغلو، مخکې له دې چې اوکې یې کړي، مخ یې راوړولو: عمه مې زنګ

کړی، تقریباً دولس بجې دي زه مې نور ځم خپلې شعبه ته، خبره خو همدا شوه، ډوډۍ مې چې وخوړه د نجلۍ سره تماس نیسم شماره دې ورکوم، ممکن سم د لاسه زنګ درته وکړي!

- سمه ده څه خدای ج دې مل شه!

په همدې سره جګه شوه، له روانېدو سره یې د عمه زنګ هم اوکې کړو، په جوړ پخیر وېلو سره د خپلې شعبه په لور ولاړه، زه هم ځو شیبې وروسته راپورته شوم حمام کې مې لمړی یو دوې لپې یخې اوبه مخ ته واچولې، چې ساعت ته مې وکتل د ماسښین لمانځه ته کم وخت پاتې و، واپس له ورنه وروګرځېدم اودس مې هم وکړو د حمام نه د راوتلو سره سم دهلېزه کې مې په آشپز سترګې ولګېدې، زما په لیدو سره یې قدم کوچنی کړو، چې رانزدې شو تر سلام وروسته یې کړل:

- ریسه صیب! ډوډۍ دفتر ته راوړم که ګلخانې ته جګېږې؟

- دفتر ته یې راوړه!

ددې سره آشپز واپس وګرځېدو، زه هم دفتر ته راغلم، مخ او لاس مې وچ کړل آینه ته مخامخ شوم په وېښتو مې ګوتې تېرې کړې، ترڅو په چوکۍ کېناستم آشپز هم ډوډۍ راورسوله پتنوس یې د مېز لپاسه کېښودو، ما هم د بسم الله په وېلو سره، سم له واره پیل پرې وکړو، دا چې پرون راهسې مې ستونی جوړ نه و،

له وربږو او کوپتې نه مې صرف یو دوې قاشغې راجګې کړې، نور مې ډوډۍ له ترکارۍ او مستو سره وخوړله، د ډاکترې خبرې ته په کتو چې پس له ډوډۍ دې شماره نجلۍ ته ورکوم، ترڅو دلمانځه تر مخ زنګ ورنه وهي، د ډوډۍ له خوړلو سره سم د لمونځ کولو لپاره جګ شوم، اخېر کې مې د نجلۍ سره د تماس د ښو پایلو او الله ج نه د مرستې په پار د دوه رکعاته نفلو نیت وتړلو، الحمدالله مې لا نه وه خلاصه کړې، چې زنګ راغلو د مېز له پاسه مې مبایل په لړزه شو، سلام مې وګرځولو، د یو ناشناخته نمبر زنګ و، د اوکې د بټنې له کلیک کولو سره یو ځای مې غږ پرې وکړو:

- بلې!

په ښځینه آواز ځواب راوګرځېدو:

- سلام ښاغلیه ښه یاست!؟

که څه هم ومې پېژنده، چې همغه نجلۍ (ثناء) ده، ولې بیا هم ورغبرګه مې کړه:

- الحمدالله وبښئ ښوک یاست؟

- ښاغلیه! ستاسو به یاد وي کنه؟ زه دوې ورځې له مخه بانګ خون ته درغلې وم، ستا سره مې هم ولیدل ولې دا چې ستاسو صحت ښه نه و، ما ته مو د ډاکترې نرګیس سره د خبرو کولو رهنمایي وکړه، کېدی شي تاسو جریان کې اوسئ ما د

آغلې ډاکترې سره خپله موضوع شریکه کړه، که خبر یاست؟ د بانک دلمړي مسوول په صفت غواړم زما دغوښتنې په هکله ستاسو وروستی ځواب واورم!

- هو، هو بلې ډاکترې ستا د موضوع او شرطونو علاوه ستا د انسانیت، پوهې، پښتنولۍ، وغیره ځانګړنو خورا ستاینه وکړه، همدا و چې ستاسو صحت ته د زیان رسېدلو په هېڅ صورت پلوي نه وه، بناءً څنګه چې آغلې ډاکتره نرګس زموږ په بانکي چارو او کاري پرمختګ کې دملا د تیر حیثیت لري، موږ ته یې خاطر ساتل قابلې قدر دي، له دې کبله پروانکړي خیر ستا دځوانۍ په خاطر دغه پیسې چې دبانک دورځنې حساب لس فیصده راځي، زه به ډاکترې ته ووایم، هر کله چې کولی شې بانک ته راشه، څومره پیسو ته مو چې اړتیا ده، ترڅو پرته له ګرُدې پېرلو همداسې یې درته تسلیم کړي!

- ستانه مننه همداسې یې نه غواړم ښاغلیه! که چېرې تاسو ما سره موافق یاست چې د بډوډې له ټاکلې بیه ماته یو لک روپۍ کمې حساب کړئ، ولې جراحي مې باید، خصوصي روغتون کې دیوې ښځنه ډاکترې له خوا اجرا شي، چې زه یې له وخت نه پېژنم ډېره تکړه جراح ده، نو باید چې سبا مو خپل استازی راواستوئ، او که خوښه مو نه وي؟ هم باید راته، ووایاست ترڅو کوم بل د ګردو پېرنې مرکز سره وغږېږم؟

- آغلې! هسې ساعت نه درته کوم، جدي وایم، سبا سهار راشه هر څومره پیسو ته چې اړتیا لرې؟ ډاکتره به یې درته وسپاري!

- هیله کوم ښاغلیه! مبایل کې مې چارج کم دی، ممکن خاموش شي، ایا خصوصي روغتون کې د جراحي عمل ترسره کېدو سره مې موافق یاست، کنه؟

- آغلې! ستا پیسې پکار دي، که خپل صحت مو نه خوښېږي؟ ایا پوهېږې د بهودي ایستل یعني ځان وژنه؟ که عمر خوړلي کسان دا کار وکړي هم په هر حال، ولې ستاسو په شان نوځوانانو سره په هېڅ صورت د توجهه وړنه ده!

- ښاغلیه! دا خبرې پرېږده زه وخت نه لرم او نه هم زما ستونزې دا ایجادوي چې په کومه لار یو ځل تللې یم بیا هم په هغه لار تېره شم، یا خپل هویت څرګند کړم، حتا نشم کولی د خپل کور، ګرځېدو راګرځېدو سیمه مې چاته وښیم، پس له تېرو شپږو میاشتو لمړی ځل او لمړني کسان تاسو یاست چې دومره اوږدې او تفصیلي خبرې مې درسره وکړې، هغه هم دخورا مجبوریت په اساس، له دې کبله په هېڅ صورت نشم کولی بیا بانک ته درشم، نه هم د مفتو پیسو اخیستلو ښځه یم، قاطع ځواب دې غواړم ایا شخصي روغتون کې له ما سره د جراحۍ په کولو موفق یاست کنه؟

په ترخه انداز مې ورغبرګه کړه:

- لاحول ولا قوت... اول ځل دی چې دومره ضدي انسان وینم، سره ددې چې زه درته وایم، هر څومره پیسې دې چې پکار وي، راشه پرته له کوم قید او شرطه

خاص د ثواب په نيت يې درکوم، ولې ته بيا هم د خپل ځان په له منځه وړلو ټينګار کوې!

- ښاغليه! د سترګو رايستلو ځای نه دی، فکر کړم زما په اړه دې غلط تصور کړی، هيله کوم خطاوتلی يې، هېڅکله نشي کولی چې په پيسو يا هم له مکرجنې غوسه خواخوږی او همدردی نه په ډکو خبرو دې خپل شوم هدف رانه حاصل کړې، ته چې دومره ښه سړی يې ماته د ثواب په نيت پيسې راکوې، يا هم د نصحت په بڼه مې ګرده پلورنې ته د ځان وژنې نوم ورکوې، بيا دې خپله ولې خلکو ته د ځان وژنې زمينه برابره کړې، هره ورځ د لسګونه کسانو ګردې ترې پېرئ، ستا په اصتلاح ځان وژنه پرې کوې ايا ستاسو غوندې سخت زړو انسانانو نه زه څنګه دا طمعه وکړم، چې په دې دومره خلکو کې يې دې يوازې په ما زړه سوزېدلی وي او دا پيسې دې پرته له کوم مطلبه راکوې؟ بناءً هسې وخت مه ضايعه کوه، نه هم زه بيا بانک ته درځم، ولوکه د بانک دېوالونه دې طلاء شي او ټول بانک دې زما په نوم کوې، چون څنګه چې تا فکر کړی، زه نه کومه ساده يا ستا په شان اشخاسو په تمثيل باور کوونکې او نه هم له پيسو سره نااشنا نجلۍ يم ښاغليه! ممکن په کتابونو کې او يا هم د پخوانيو اعلاء ډګروالانو د ياد په ورځ يې دې له رسنيو نوم آورېدلی وي؟ زه د ډګروال اسد لور يم، همدارنګه د انجينر فرهاد او مولوي محراب خور يم، په لس پوړيزه اپارتومان عصري او مډرن امکاناتو سمبال کور کې را لويه شوې يم، خو دا چې ژوند هر

ډول پړاونه، هسکې ټیټې لرې او نن بیې تر ټولو په ټیټه سطحه او اضطراري وضعیت کې کرار لرم، کېدی شي کوم الهي امتحان یا هم د تقدیر پرېکړې دي، مګر د یوې افغانې پښتنې پېغلې نجلۍ په صفت لا مې هم هېڅ نوعه بې عزتۍ، بې غیرتۍ، بې همتۍ ته مغروره مزاج سر نه ټیټوي، ګُردې څه که اړتیا شوه د سر قربانۍ ته هم په لیمو هرکلي وایم، ولې خپل عزت، غیرت او افغاني غرور ته به مې تر وروستۍ سلګۍ ژمنه یم، هیله ده پوه شوی اوسې محترمه!

د نجلۍ په ځان معرفي کولو سره مې فوراً د سر وېښته نیغ دودېدل، بېخي عجايبه راته ښکاره شوه، چون د روسانو په وړاندې جګړه کې د مجاهدینو له منځه دین هېواد، ملت او دندې ته ژمنو، وفا دارو علا جنرالانو، ډګروالانو، افسرانو له جملې مې د پلار او کاکاګانونه د ډګروال اسد د مېړانې او اتلولۍ زیاتې ستاینې او انقلابي حواس پارونکې جالبه کیسې اورېدلې وې، خو په هر حال له لوې ساه اخیستلو وروسته مې ورغبرګه کړه:

- هووو پوه شوم ډېر ډېر وبښه اغلې؟ تاسو واقعاً د هېواد د یو ډېر قدرمند لوی شخصیت لور یاست درود او سلام دې وي پرې چې ټول عمر یې په ډېرې مېړانې دې خاورې ته د نه هېرېدونکو خدمتونو علاوه ستا په شان یوه باغروره سپېڅلې او اتله لور هم ډالۍ کړې. بناءً مخکې به مې مطلب و یا به نه و، یا هم په اړه مې دې چې هر څنګه تصور کړی و، خو همدا شیبه دې زما د هغه ذات په نوم درسره قسم وي چې ځمکه او اسمانونه یې پیداکړي، خاص له دې کبله چې تاسو د

هېواد د یو ستر او مخلص خادم لور همدانګه یوه باشهامته پښتنه پېغله یاست، هر چېرته چې غواړې ادرس راکړه، دولس لکه پیسې پرته له کوم بالّعوض د ډاکترې نرګیس په لاس درلېږم، یوازې او یوازې ستاسو د قدرمند والد صاحب سره د مینې او پښتونولۍ له مخې دې زما لخوا ستا سره مرسته او همکاري وي!

- ښاغلیه! فکر کړم ته بیا هم پوه نشوې یا هسې خبرې زیاته وې، ما د مرستې یا هم همکارۍ غوښتنه نه ده کړې او نه یې غواړم، یوازې د خپلې خبرې جواب مې راکړه، که نه یې پوه؟ تکرار یې درته وایم: ایا د یوې ګُردې بدل کې په یولس لکه افغانۍ هغه هم چې جراحي یې ستاسو په بانګ خون کې نه، بلکې زما په خوښه یو خصوصي روغتون کې تر سره شي راسره موافق یاست کنه؟

- آغلې! یقین وکړه که مې په ټول ژوند چاته دومره کلک او د زړه له تله قسم کړی وي، مګر ته لا هم بې باوره یې، په خپله خبره ټینګار کوې او یا هم د خپل صحت سره مو زړه تنګ دی پس سمه ده څنګه چې ستا خوښه وي، سربېره ددې چې په نورو رغتونونو کې زمونږ د ګُرده پلورونکو مراجعینو جراحي زمونږ د بانګ خون د اصولو سره ټکر کې ده، چون هغه ډاکتران چې مونږ یې د وړتیا په اړه معلومات ونه لرو، باور نشو پرې کولی ترڅو په سالمه توګه یې دې ویستلی شي، ممکن خراب یې کړي او ټولې پیسې مو تاوان شي، خو دا چې تاسو دیو ډېر ویاړلي ملي شخصیت لور او یوه باعزته پښتنه نجلۍ یاست، څنګه مو چې زړه وي په

دوا ړو سترګو، زه به ډاکترې نرګیس ته ووایم ترڅو هر وخت چې تاسو تیار یاست زموږ لخوا لازم ترتیبات ونسي. خو برعکس له تانه هم په ټول درناوي یوه هیله کوم آغلې! که مهرباني ونکړې یا هم راته پیدا شوي اندېښنې ته مې ځواب رانکړې، چې ایا ستا په شان د یوې نوځوانه ښکلې، باتعیمه، هوښیارې، تېز او ځیرک فکر لرونکې نجلۍ داسې جدي ضرورت څه کېدلی شي؟ چې ان زموږ تر بانګ خون پورې یې راورسوي او د ناچیز پیسو په بدل کې د بدن د یو ډېر مهم او حیاتي غړي د پلورلو پرېکړه کوي، هغه هم د خپل وخت د داسې یو ستر او پېژندل شوي ډګروال لور چې ټول عمر یې د تن په وینو او ډېر صادقانه د خپل هېواد پالنه کړې وي، همدارنګه د فرد فرد هېوادوالو په زړونو کې ځای ولري؟ بناءً که نورې تشویش ته مې قناعت بخشه ځواب رانکړې، له شک پرته چې د ډېر کم وخت په تېرېدو سره به مې بدن کې په یو خطرناک تېمور بدل شي او کنه نو حافظه کې خو به مې یې د ټول عمر لپاره غوغوا جوړه کړې وي، نور ته او خپل قضاوت دې!

-صحیح ده ښاغلیه! تاسو ته چې دومره مهمه یا هم کلک ټینګار مو وکړو، بلخوا خپل بانګي شرایط مو مات کړل، زما له غوښتنې سره موافقه شوئ، زه به مو هم اندېښنه کې نه پرېږدم، که څه هم مخکې مې درته ووېل چې زما مشکیلات دا نه ایجادوي ترڅو په کومه لار یو ځل تېره وم، بیا دې هم پرې تېره شم، یا دې خپل هویت چاته ښکند کړم، البته تنها زه نه بلکې زموږ د کورنۍ هر

غړی تر دې محدویت لاندې دی، په داسې حال کې چې ستاسو پوښتنې ته د پوره ځواب ویلو لپاره زموږ د ټولې زندګۍ تشریحي کیسې ته اړتیا ده، چون که یوازې پیسو ته د ضرورت په اړه مې درته وایم ښکاره ده چې د یوې پوښتنې په ځای به لس درته پیدا شي، پس مکلفه یم چې له هغه ځای نه یې درته پیل کړم، کوم چې پلار مې ژوندی و، زه ماشومه وم، مشر ورور مې انجینر فرهاد برابروکی و، دوهم ورور مې مولوي محراب چې اصلاً مې د کاکا زوی دی، خو په یوه ترافکي پیښه کې یې د مور او پلار له وفات وروسته زما پلار د زوی په صفت له ځان سره وینولو، له فرهاد نه کشر خو له ما مشر و، پلار مې د وخت د حکومت برحاله ډګروال و، فرهاد لرې یوې لېسې ته تللو، زه مو د کور تر څنګ ابتدایه مکتب ته ورتللم، محراب مکتب کې نه و، صرف له سهاره به یو ساعت مسجد ته تللو، له ملا صاحب نه یې قرانکریم او نور دیني مضامین وېل، له یادولو دې پاتې نه وي، که هر څو مې مور او پلار د زوی په صفت ورسره نیولی و، ولې بیا هم څنګه یې چې ما او فرهاد ته پاملرنه وه، یا مو د راتلوونکي غم ورسره و، خدای ج شته محراب ته یې بلکل نه وه، که څه هم لمړۍ درجه ناز او نزاکت د فرهاد و، د هرې ورځې جیب خرچه یې له کوره اخیسته، هفته کې به یې یوه جوړه دریشي پېرله، کور کې به چې ښه خواړه، میوه څه و، لمړی به ده ته رسېدل، همدارنګه څلورو پنځو میاشتو کې به یې موټرسیکل نوی کولو، د پلار دریمه برخه معاش به مې یې د موټرسیکل په تیلو تللو، ددې علاوه چې ښه

مبایل به و، دده به و، د لیسي سربېره بېلا بېلو لوړ فیس اخیستونکو کورسونو کې به یې ثبت نام ورته کولو، او...

همداسې زما یې هم هر ناز او نزاکت ته رسیدګي کوله، خو محراب ته سره ددې چې د دستیار په صفت د کور ټول خدمت مو دده په سر و، فرهاد خو بېخي خلاص و، ولې زه هم تر ډېره پرې ببغمه وم، عین حال کې ډېر راست کاره هم و، همدا و چې فرهاد به چاپلوسک ورته وبل، مګر لا هم د مور او پلار په وړاندې مو یې زموږ په پرتله ځمکه او اسمان توپیر و، اما بیا هم همغه د رحمان بابا خبره شوه:

چې الله ج درسره مل نه وي رحمانه!

که لښکرې درسره وي یک تنها یې.

همداسې د محراب هم د کورنۍ له خوا د خورا بېغورۍ سره سره الله ج یې مل و، له ما او فرهاد نه یې زیات او ښه علم ورته نصیب کړو، چون یوه ورځ سهار پس له لمانځه دروازه وټکېده، د مسجد مولوي صیب و، له سلام او جوړ پخیر وروسته مې یې پلار ته وبل: ډګروال صیب! د محراب جان ماشاءالله ډېره ښه حافظه ده، په مسجد کې چې موږ تر کومې سطحې درس ورکوو، هغه یې زده کړې، نور اړتیا ده چې په لویه کچه علوم ووایي، زه نن ځم شریعت البنیاد مدرسې ته غواړم محراب جان هم ځان سر بوځم، مدرسه کې یې شامل کړم. د

پلار مې زړه نه و، خو مولوي صیب د خپل عالمانه اثر زور پرې تېر کړو، محراب یې ورسره بوتلو مدرسه کې یې داخل کړو، په دوه دریو میاشتو کې به یو ځل کورته راتللو کرار کرار د خبرو ناستې، ولاړې علاوه ظاهري څېره یې هم عالمانه کېده، د رنجو، مسواک، عطرو د کسب کولو سربېره د لویو اوږدو جامو له پاسه د واسکټ، څادر سره سره د تور فاج پګړۍ یې په سره وه، خو لا هم چې رابه غللو د کور ډېرې درانه کارونه ان تر خانه ټکانۍ پورې به مو دده راتلو ته ساتلي و، ده هم هېڅ تندی نه ترېوولو چې ګویا اوس خو غټ سړی تقریباً عالم یم، په خپله څو ورځې روخصتۍ کې به یې ټول هغه کارونه چې مورږ به نشوی کولی، یا به له ټنبلۍ رانه پاتې و، په ډېر ښه ترتیب او اخلاص ترسره کړل، همدارنګه څومره چې وخت وتلو د کورنۍ د درد دوا ګرځېدو خصوصاً د مور او پلار صحت، لباس، وغیره هر اړخیزه اړتیا و، ته یې خورا پاملرنه کوله، پاتې دې نه وي هر ځل به چې له مدرسې راتللو، ختمونو کې یا هم حاجیانو به چې کوم جاینمازونه، تذبیح، عطر، وغیره څیزونه په تحفه کې ورکړي و، ده به واپس مور او پلار ته مو د تحفه په ښه راوړل.

خو په هر حال چې ډېره اوږده نشي کیسه رالنډوم بلاخېره د وخت په تېرېدو سره، محراب ښه لوی مولوي شو، زه هم د نمورې په مرسته چې تر ډېره یې دیني زده کړې راکړې وې، د شرعیاتو پوهنځۍ ته کامیابه شوم، همدارنګه فرهاد د کابل پوهنتون پولتخنیک پوهنځۍ څخه د یو ممتاز محصیل په ښه د عمومي

انجینرۍ سند ترلاسه کړو، خو بدبختانه فرهاد په همدې د محصیلۍ دوره کې یې د یوې فارسي ژبانې همصنفۍ سره د مینې تار اچولی و، تر فارغېدو یوه میاشت وروسته مور او پلار ته مو یې د نومورې نجلۍ د ریشتې غوښتلو پیشنهاد وکړو، مور او پلار مې هم په ده د ډېرې مهربانۍ او ګرانښت له وجې یې خبره بابیزه ونه ګڼله، لنډه دا چې د نمورې نجلۍ د کوژدې ګل یې ورته راوړو، د کم وخت تر تېرېدو وروسته یې په ډېرو شانداره مراسمو او لوړو مصارفو ورته را ناوې کړه، دا وخت فرهاد د کابل ښار شهرنو کې د یو بهرني شرکت سره دنده لرله (۱۷۰۰) دالر میاشتنۍ معاش یې ورکولو دنده یې هم نوې اخیستې وه، د واده تر کولو یې ایله دوه میاشتې کېدې، د همدې دوه میاشتو معاش یې کور ته راوړو، له واده کولو شل ورځې وروسته مې یې پلار ته مخ وروړو وېل: پلاره زه غواړم ببل شم، پلار مې په خورا حیرانتیا د ورسره ایستلو زحمتونو، ورکړو نازونو، پرې کړو مصارفو په وریادولو سره زیاته کړه: سمه ده زویه! چې تاته دې وجدان اجازه درکوي، هغه هم په داسې حال کې چې مور دې له پښو لوېدلې ناروغه او زه د سپینږیرتیا یا له دې وجې چې نور کار نشي کولی دولت تازه له خپلې دندې تقاوت کړم، دوه دوکانونه مې لرل میاشتنۍ کرایه به مې یې اخیستله هغه مې هم ستا د واده د ښه محفل برابرولو او ستا د هیڅ ارمان نه پاتې کېدلو لپاره ګرو کړل، له کالونو راپه دېخوا مې خپل معاشونه هم په تا باندې د درس وېلو، تاته په ورځني موډ لباسونو، ستا په نازونو مصرف کړل، د خپل ځان لپاره مې پنځه روپۍ زخیره جوړه نه کړه، دا ټول ستا د همدې ورځې په

امید چې فرهاد جان به مې اینده کې یو ښه ډاکتر، انجینر... شي لوړ معاش به يې وي، زندګي به مو لا رنګ راوړي، زما زخيرې يا بوډاتوب کې کار کولو ته به هېڅ اړتيا نه وي، مګر نن څه آورم؟ خو فرهاد په خپله خبره ټينګار وکړو، بلاخېره د خپلو لباسونو او هغه کاليو، ظرفونو په ټولولو يې پيل وکړو چې ښځې يې راوړي و، کورنۍ مو د خپګان انتها سفري کوله، مور کې خو مې بيخي د خبرو سيک نه و، پلار مې اخير کې صرف دومره ورته ووېل: ورځه زويه! الله ج دې له خپل اولاد نه همداسې نااميده او د ټول عمر خوارۍ په سيند لاهو کړه، لکه مونږ دې چې نااميده پرېښودو، درسره ايستلې واړه خوارۍ مو دې تر پښو لاندې کړې. له دې سره يې سترګې راډکې شوې، لاس يې ورجګ کړو، د اوښکو څڅېدو مخه يې ونيوله، ولې فرهاد يې په خبرو لا هم څه باک رانوړلو کالي يې ټول کړل روان شول، څه وخت زړو مکرويانو کې واوسېدل، پس له څو مياشتو همغه د دندې له طريقه يې فاميلي استراليا ته ولاړو، خو محراب ورور مې د خپلې هوښيارۍ، علم صداقت له مخې متې راونغاړلې د کورنۍ ټول مسوليتونو ته يې غاړه ورکړه، مور پلار او کورنۍ ته په هر اړخيزه ډاډ ورکولو سره، څومره چې سخت تصور کېدو هغه اندازه يې د فرهاد غم او دې هغه د تشې احساسولو ته ورنکړو، په دې وخت کې دخپلې لويه سيمې د جامعه مسجد د امامت مسوليت هم ور له غاړې و، کومه حق الزحمه يا د امامت پيسې چې مياشتانه مسجد کې خپلو مقتديانو ورکولې، که څه هم دومره به نه وې، خو عجيبه برکت الله ج پکې اچولی و، زما دپوهنتون دې خرچې او د مور د دواګانو

سره، سره زموږ د کور ټولې اړتیاوې یې پوره کولې، په دې شان مو خورا له خوند او سکون ډکه ژندګي روانه وه، ولې له بدمرغه یو ناڅاپه مو په خورا ښکلي او هوسا ژوند تندر راپرېوتلو د شپې یوه بجه وه، کور ته مو غله راولوېدل همدا مولوي محراب ورور به مې تل تر ډېره ویښ و، پاس سالون کې به یې مطالعه کوله، په دې شپه هم همدې ساعت کې پرېوتلی و، خو لا ویده نه و، حاوېلۍ ته دغلو له راوښتولو سره سم جګ شوی، د پلار مې د وسلو سره ډېره جوړه وه، ځوانۍ کې به یې ډېرې ښکته پورته کولې، له همغو وسلو یو کلاشینکو لا هم راپاتې و، محراب چې غله لیدلي سم د لاسه یې رااخیستی د سالون له کړکۍ یې ذربه پرې وکړه، دا چې زما په شمول د کورنۍ نور غړي مو په غلو نه و خبر، د ټوپک په ډزو راویښ شو، ځان ته مې پام نه و، خو د مور، ورینداږې، ورېرونو وهمناکې چیغې مې یاد دي، د اتاق کونج ته غونډ شو، ډزو لا دوام لرلو، که څه هم زموږ کور ته لنډه امنیتي حوزه وه، خو پولس ډېر پس راورسېدل، کومو غلو مې چې د ورور سره مقامت کولو، د پولسي موټرو د آواز له آورېدو سره یې مقامت پرېښودو وتښول، د ډزو له ارامېدو سره مو چې ولیدل ورور مې شکر نه و خوږ، دوه غله یې ویشتلي و، یو د دروازې سره رغړېدو بغارې یې وهلې، بل د حاوېلۍ منځ کې پروت و، دواړه زخمیان و، پولسو لمړی زر زر زخمیان غله یوې لېنجرې ته واچول روغتون ته یې واستولو، بیا یې زما د ورور لاس پرې وتړل بلې رېنجرې ته یې پورته کړو، کلاشینکوف یې هم پولسو له ځان سره واخیستلو، که څه هم مور ډېر اوزرونه او زارۍ ورته وکړې، خو وه

يې نه منله، ورور مې يې سره له ټوپکه حوزې ته يوړو، سهار يې د پولسو له ولکې د خلاصون په پار خورا مقتديان هم حوزې ته پسې ورغلل، بدبختانه راخوشې يې نکړو، د سهار په رارسېدو سره مورِ ته له يوې اوبلې خوا د خپلو خپلوانو په شمول، ګونډيانو او سيمې د خلکو لخوا احوالونه راکول کېدل چې ګويا زر تر زره مو له کوره ووځئ، يوه نامعلوم ځای ته ولاړ شئ، ځکه چې نمورې غله ددې محل مشهور غله و کورونه، مرکزونه، دناستې ولاړې ځايونه يې معلوم و، له هېچا يې سترګه نسوه، هر څه يې په ښکاره کول، ستره ډلګۍ يې لرله، ښه په زور کې و، ډېری وخت به يې د پولسو سره هم ويشتل کول، اصلاً په زور کې ځکه و، چې حکومت کې د ځينو لويو چارواکو حمايت يې له ځان سره لرلو، همدا وجه وه چې نه چا بندي کولی شوی، نه يې حساب او کتاب ورسره کولی شوی، له همدې موقع نه په ګټه، د دوئ هم ببغمه خپلې غلې، وژنې، د خلکو د ناموسونو بې عزتۍ، اختطافونه او داسې نور جرمونه ورځنی کارو بار و، بناءً په مورِ خپل او خپلوان ځکه ووېرېدل، يا يې زر تر زره يو نامعلوم ځای ته د تلو راته وېل، چې نمورې غله څه وخت مخکې يوه بل کور ته لوېدلې و، هغلته هم د ورته برخورد سره مخ شوي و، يو تن يې پکې مړ شوی هم و، ددې پېښې تر کېدو څو ورځې وروسته يې عشر ورته وکړو، د دوهم ځل لپاره بيا همغو کور ته ورغلل، د هغه کورنۍ غړي د ماشومانو او ښځو په شمول ټول يې دېرلس نفره حلال کړي و، حتا وېل کېدل چې په ښځو يې جنسي تېری هم کړی و، دې کار ته يې په کتو، همدا و چې، زمورِ دوستان او خواخوږي په مورِ هم وېرېدل، بلاخېره

د ورځې تر تېرېدو وروسته مانښام مو موټر راوستلو د ګونډیانو په مرسته مو کالي پکې بار کړل، په داسې حال کې چې کوم بل کور مو هم نه و نیولی، نه ځای او مسیر معلوم و، چې چېرته ځو؟ له وېرې مو لمړی کډه بار کړه له کوره راوتنبو، د دوستانو کورنه مو هم ورمعلوم و، بلخوا دوی هم ترې وېرېدل، نه يې شوی کولی په خپل کور کې ځای راکړي، له دې کبله بله لاره نه وه، د ډرېور سره مو په پیسو جوړ جاړی وکړو، شپه مو په همدې موټر کې چمن حضور ته څېرمه دسرک په غاړه تېره کړه، سهار مې بیا ډرېور ته کړل: ته چې د ورځې هر څو مزدوري کوې، هغه اندازه پیسې زه درکوم، خو تر هغو همدلته ولاړ اوسه، زموږ کالي، مور، وریرونه او ورینداربه مې دې په موټر کې وي، انشاالله زه تر غرمې یو کرایي کور پیداکوم، ترڅو هغلته يې بیا راته ورسوې، ډرېور سپینږیری و، خو عین حال کې ډېر حوصیلمند او نیک انسان و، زموږ په حال يې زړه بد و، وېل يې پروانکړې په ارامه يې وګوره، بلاخېره د ښار په لرې څنډه کلاچه کې د لوګر د موټرو له تمځای شاته مو په (۷۰۰۰) افغانۍ یو زوړ خاورین کور ونیولو، اصلاً هېڅ د اوسېدو نه و، زر (۱۰۰۰) روپۍ هم پرې زیاتې وې، ولې دا چې موږ یوخوا ډېر سخت مجبور و، بلخوا نموړی ځای څه خف و، ترڅو هغه غله مو درک ونه یستلی شي پکې واموړول، خو څنګه چې وېل کېږي کله چې حکومت فاسد شي، فاسد، خاین او قاتلین به پکې چاغېږي، برعکس د هېواد اصیل وګړي او شریف قشر به قرباني ورکوي، همغه کیسه شوه، څو ورځې وروسته مې د ورور محکمه وشوه یولس (۱۱) کاله قید او درې لکه (۳۰۰۰۰۰)

افغانۍ نغده جریمه یې ورته واوروله او برعکس غله جوړ او روغ شول، څنګه چې خلکو وېل یا مورې فکر وکړو همغه شان د جوړېدو سره سم زمورږ نه د انتقام اخیستو په پاره زمورږ کور ته راغلي و، خو دا چې خوشبختانه مورږ نه و پکې اما له بده مرغه کومو ګاونډیانو مو چې مرسته راسره کړې وه، کالي یې بار کړي و، ډېر سخت یې وهلي و، ګواکي کمک مو ولې ورسره کړی او چېرته لاړل؟ ځای یې راوښیئ، خو دا چې مورږ د هغو خلکو په شمول هېچا ته نه و معلوم، پس هر څه چې پرې تېرېدل خوارانو زغمل، په دوی تر نهایت فشار راوړلو وروسته چې پوه شول دوئ ته هم نه دي معلوم، لا هم کرار نشول زمورږ په پیدا کولو کې جدي و او جدي دي، نورې ممکنه لارې یې په کار واچولې ان تر دې چې د دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ انعام په ورکولو سره یې د منطقې ببکاره کوڅه ډبې او چرسیان راپسې اچولي تر ننه پورې مو ډېر په تلور د مندلو هڅه کوي، ددې کبله مورږ هم له وېرې د ډېر نژدې دوست سره هم نه اړیکه نیولی شو، نه ځای ورته ښودلی شو او نه تر یوې، یوې نیمې میاشتې زیات یو ځای اوسېدلی شو، مجبور یو هرو مرو میاشت کې خپل کور او د اوسېدې سیمه بدله کړو، خو دا چې فعلاً کوم ځای کې اوسو یا ورځنی ګشت او ګوزار مو په کومه سیمه کې دی، هغه راز دې یوازې له ما سره وي، اما لا هم د خورا وېرې او اضطراب شپې ورځې تېرو! لویه افسوزجنه ساه یې واخیستله، پسې زیاته یې کړه، فکر کړم اندیښنه به دې ختمه شوې وي، ښاغلیه!؟

په حیرانتیا سره مې ورغبرګه کړه:

- ای هی څه له دردہ ډک داستان دې راواورو، که یې له دومره درده پوه وی، هېڅ کله مې نه اورېدو، خو په هر حال ډېره مننه آغلې! چې وخت مو راکړو، البته یوه عمده نقطه چې زما یې تر ډېره آورېدو ته تلوسه وه...

ترڅو مې جمله تکمیلوله خبر کې مې راولوېده:

- هووو رښتیا په دې هڅه کې یم، څومره چې زر کېږي، غوارم د ځان په شمول د کور ټولو غړو ته مې ترکیه ته د مهاجرت اسناد جوړ کړم، له دې وحشیانو نجات ورکړم، پیسو ته مې څه ددې لپار اړتیا وه او څه مې له بند نه د ورور د خلاصون په مقابل کې قاضي رشوت غوارې شاوخوا پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) دالرو غوښتنه یې کړې، بناءً تر ډېره مې ګرده پلورلو ته مجبوریت همدا د ورور د ازادولو په مقابل کې د قاضي د رشوت لپاره دی، انشاءالله اوس به دې جواب تکمېل شوی وي؟

- بلې بیا هم ډېره مننه آغلې! که څه هم اوس به وایې چې ستا پوښتنې پسې زیاتېږي زیاتېږي خو دا صحیح ده چې ورور بدیل نه لري خورا لویه معنوي او مادي هستي ده، مګر په دې خاطر چې زیات زندان تېر نکړي زر تر زره راخلاص شي، په دومره لویه قربانۍ ارزي څومره چې تا یې په وړاندې اراده کړې؟

- امںم ښه وايې! ممتا سره ددې چې ورور مې هم په ډېر ډېر څه ارزي او بلخوا ځنګه مې چې وړاندې ووېل هغه غله هم حکومت کې ډېرې قوي ريښې او د لويو چارواکو حمايت له ځان سره لري، زموږ زياته وېره له دې نه ده، چې که زر تر زر راخلاص نشي نموړي غله به زندان کې لار پرې جوړه کړي، خواړو کې به څه پرې وخوري يا هم خداينا خوسته په کومه بله طريقه به يې له منځه يوسي، ولې بيا هم دا قرباني زه يوازې د ورور لپاره نه، بلکې د ټولې کورنۍ د ژغورلو لپاره ورکوم، چون زموږ په دې بحراني وضعيت کې دوی تر بل هر وخت زيات او زر تر زره يو ارام او پور سکونه ژوند ورته مساعدولو ته اړتيا لري، د مور مې د نورو مشکېلاتو سربېره د ځور او نارامتيا عمده برخه همدا د محراب زنداني کېدل دي، همداسې مېرمن، واړه ماشومان يې اړتيا ورته لري، البته له يادولو دې پاتې نه وي د مدرسې يو استاذ يې خپله لور ورکړې، څومره چې دی نيک انسان دی، همداسې يوه شريفه ميرمن هم الله ج ورکړې، بناءً دوی ټول محراب ته اړتيا لري او برعکس ځنګه چې محراب د دوئ د زړونو ټکور او ددې سختو شرايطو په وړاندې د روحي ډاډ جوګه کېدی شي، د يوې ښځې په صفت زما جسمي او روحي ضعيفۍ ته په کتو نشم کولی چې د محراب تشه ډکه کړم، همدارنګه مخکې مې هم ووېل د محراب د ازادېدو سره څومره چې زر کېږي غواړم ترکيه ته مهاجر شو، د کورنۍ لپاره مې هره لحظه د هغو وحشيانو د احتمالي خطر نه د بشپړ روحي او جسمي سکون فضاء ورته مساعده کړم، همدارنګه که له ويلو يې پرې نږدم، کومه اندازه پيسې چې موږ لرلې ايله مو يې تر همدې يوې مياشتې

وړاندې د ژوند تضمین وکړو، فعلاً مو کورنی اقتصادي ګراف هم په نهایي بد وضعیت کې کرار لري، ان تر دې چې وړکي ماشومان وربېرونه مې وخت ناوخت له لوږې ژاړي، چې دا صحنه واقعاً د انسان له زغمه اوړي، بناءً له دې ناهیلي اضطراري وضعیت نه وتل له پیسو پرته ناشوني دي، پس په دې تنګ او ضرب ازل وخت کې د پیسو لاس ته راوړلو یوازنۍ ښه او لنډه لار مې د همدې قربانۍ ورکولو پرېکړه وه، همدا و چې ستاسو تر بانګ خون پورې یې دروستلم، تماس مې درسره ونیولو. په دې هیله قناعت دې حاصل شوی وي!

- بلې بلې آغلې نړۍ مننه! واقعاً تاسو ډېر یو باهمته، باحساسه، مبارز او باوفا شخصیت یاست، که څه هم ستاسو د اړتیا تر شاه مې دسختو ستونزو تصور کولو، ولې په دې کچه هم نه، خو متل دی وایي: څنګه چې آسمان دربېږي هغه شان نه اوري، ان شاءالله هر څه به سم شي، هیله ده حوصیله مو له لاسه ورنکړئ، اما له وېلو دې پاتې نه وي، استرالیاواله ورور دې سخت بې احساسه انسان دی، ولاکه د ورور په خطاب ورته کولو ارزي، ښابدل چې په دې نهایي تنګ او سخت وخت کې یې ځان رارسولی وی، کنه نو پیسو ته د اړتیا احساس خو مو باید ببخي نه وی کړی، له اورپایي هېوادنو یې خلک نورو خپلو خپلوانو، ګاونډیانو ته رالېږي مګر دده خپله کورنۍ په دې حال ده، دی ترې ناخبره دی، صد افسوززز.

- څه ووایم ښاغلیه! خو پلار مې بیا په دې اړه هم ملامتیا په خپله غاړه اچولې، چون د خپلو خاطراتو په کتابچه کې یې لیکلي: ( ته نه یې ملامت فرهاد جانه! ملامت خپله یم، ولې چې بدبختانه زما ټول فکري، فزیکي او مالي تمرکز ستا په انجینر کولو و، ترڅو اینده کې ښه معاشونه ولرې شتمني مو ځای نشي، خو دا مې هېره کړې وه، چې عزت او ذلت ورکوونکی، روزي رسان یوازې خدای ج دی، چاته یې چې کوم عزت یا زلت په برخه کړی یا یې کومه اندازه روزي ازل کې ورته لیکلې، یوه ذره تغیر به پکې رانه ولي ولو که سل فرهادان یې انجینران شي، پس که زیات هم نه وی، حداقل هفته کې یوه ورځ خو مې باید د انجینري زدکړو تر څنګ د یو ساعت لپاره هغه کورسونو کې هم ثبت نام درته کړی وی، کوم چې د بشر د لارښوونې لپاره د الله ج لخوا راستول شوي کلام قرانکریم، د محمد ص د سیرت شریف او اسلام مبارک دین د احکامو تدریس ورکول کېدو، څو د دنګو وانیو د جوړولو ترڅنګ دې د مور او پلار حقوق او د ګډ کور په وړاندې د خدای ج له خوا تاته راجع شوی مسولیت هم پېژندلی وی. بناءً درته پړ یم زویه ما وبښه! تنها تاته نه بلکې د محشر په ورځ به د حساب او کتاب د ستر مالک په وړاندې هم ستا د ګمراهۍ او ځان سره کړي ظلم په پار مخ توری ولاړ یم 😢.)

لیک همدومره دی یعني پلار مې د مور او پلار، کورنۍ په وړاندې د فرهاد غافله ګي او ځان هېڅ مسول نه ګڼلو یوازنۍ وجه همدا ګڼي چې الله ج یا هم

اسلام مبارک دین په اولاد باندې دمور او پلار کوم حقوق ایښي یا هم په کومو مسولیتونو او درناوي يې ورته مکلف کړي، له بدمرغه ما د هغو په ځای هم ساختومان جوړول ورته وښودل، همدا ده چې دده او ان د الله ج په وړاندې یې هم ځان ګرم ګڼلی.

بل کوم ښکاره دلیل يې موږ ته هم نه دی معلوم چې فرهاد ولې داسې پخه خپلې کورنۍ ته شاه کړه ښاغلیه!

- له شک پرته همدا والید صیب محترم مو ډېر لوی حقیقت او تر ټولو د قوي دلیل یادونه کړې، خو په هر صورت بیا مو هم کور ودان چې په ډېر ښه وضاحت او حوصیلمندۍ سره مو ځواب راکړو، یقین وکړه زما ډېر سخت زړه دی، ځوانۍ ته له رسېدو وروسته مې نه یادېږي چې ژړلي مې وي، مګر نن دې وژړولم، خو په هر حال، ولې اخیر کې یو ځل بیا هم هیله کوم، په خپله خبره ټینګار مه کوه، د بانکي کارت یا هم د پېژند پاڼې نمبر دې راکړه، څومره پیسې مو چې پکار وي، پرته له کوم مادي او معنوي عوضه، یوازې زما لخوا ستاسو سره د مرستې او همدردۍ په پار يې درته استوم!

- هیله کوم ښاغلیه! دا چې په اوږدو خبرو مې ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړو، یوازې ستا د ډېر جدي نیولو او ټینګار کولو له کبله، په دې معنا نه ده چې زما په دریځ کې به نرمښت یا فکر کې بدلون راغلی وي، په هېڅ صورت نه، د مرستې په پار زیاتې څه حتا پنځه روپۍ مې دې هم نه دي، پکار او نه يې اخلم.

- سمده آغلې! تاسو به په خپل پوهېږئ، پس سبا خو نه کېږي چون له هند نه زموږ یو مشتري راځي بله ورځ که تاسو تیار اوسئ، زه به د بانګ خون لخوا ستاسو انتخابي روغتون ته نظارت کوونکی ډاکتر او ستاسو مبلغ پیسې درولېږم!

- مننه زه له ډاکترې سره وینم تر وخت ورسره معلومولو وروسته بیا زنګ درته کوم، فعلاً ښه وخت ولرې!

له همدې سره یې تماس راقطعه کړلو، د قطعه کېدو سره جوخت د مبایل په صفحه مسیج راغلو پوره (۱۸) دقیقې غږېدلي و، نور مې مبایل جیب ته کړو، پښې مې وچې وې دهلېزه ته دې قدم وهلو په پار راووتلم لږ لږ تاو راتو شوم چې رهنماکار مو غږ راوکړو، ور وګرځېدم ډېر خوندور جوس یې جوړ کړی و، خپله د مېز په څنډه تکیه شو، چوکۍ یې ماته خوشې کړه، یو ګلاس یې ترې راواچو، څو لحظې دواړو مجلس وکړو، اګر چې غږېدم د حفیظ الله رهنماکار سره مګر خیال او فکر مې ټول د ثناء په خبرو کې و، د مجلس په لړ کې مې مبایل ته زنګ راغلو ډاکتره وه کړل یې:

- ریاست ته راغلې یم، نشته یې؟

- صبر درغلم!

له حفيظ الله نه د اجازې په اخيستلو پسې ور روان شوم، د ورسېدو سره سم ډاکترې کړل:

- څنګه شو نجلۍ زنګ درته وکړو؟

- بلې زنګ يې وکړو ډاکترې! ممتا څنګه چې ما او تا يې په اړه فکر کړی و، کيسه برعکس وه، ايا پوهېږې؟ له عادي نجينو نه وه، بلکلې د اروابناد ډګروال اسد لور ده، ددې خبرې په اورېدو سره ډاکترې په جګ اواز د هاااااا□ په کولو سره راغبرګه کړه:

- خلک يې چې د روسانو سره د جنګونو او اتل ولۍ کيسې کوي د هغو ډګروال اسد؟

- له شک پرته د همغه غازي لور وه، بلاخېره پيسو ته د اړتيا او د ثناء د خولې تېوله کيسه مې ورته وکړه، د ډاکترې هم ډېر زړه پرې بد شو، کړل يې:

- اخير دې څه ورسره وکړل؟

- بانګ ته له راتلو خو يې ډېر کلک انکار وکړو، حتا ورته ومې وېل چې د بانګي کارت يا پېژند پاڼې نمبر دې راکړه څه پيسو ته مو چې اړتيا ده، له ګرُدې پېرنې پرته همداسې يې درته لېږم، خو سره ددې چې قسم مې هم ورته وکړو، ولې بيا هم زما په همدردۍ يې باور ونکړو، فکر يې کولو چې ګويا هرو مرو څه مطلب به لرم، بلاخېره ترڅو بله کومه لار ونه نيسي د فعلاً لپاره مې همغه ددې

غوښتنه ورسره اوکې کړه، نن هغه خصوصي روغتون ته د ډاکترې سره خبرې کولو ته ورځي، بیا ماته زنګ کوي چې ګواکي څه وخت مو خپل نمایند راواستوئ، اما واقعت داسې دی هغه ګرُده چې دا یې په ما پلوري قسم ده چې د الماسو غمی شي ملیاردونه دالر راته جوړوي ترې وبه یې نه پېرم او نه به یې پرېږدم چې بل ځای یې وپلوري، مګر ډېره ضدي او په خپل دریځ ولاړه نجلۍ ده، هېڅ نه پوهېږم، چې له کومې لارې کار ورته واخلم، ترڅو قانع یې کړم چې پیسې همداسې واخلي!

- ماته یې راکړه، زنګ به ورته وکړم هر څېرته چې اوسي کور ته به یې ورورړم!

- ستا په لاس د وراستولو مې ورته ووېل، ډېره غوسه شوه، منه چې وریې هم ورې په مخ دې پرې ولي، بلخوا نور یې ټوله کیسه وکړه، یوازې د کور ادرس او هغه محل چې فعلاً دوئ پکې اوسي راته ویې نښودو!

ډاکترې په جګ اواز د بووووو په کولو سره کړل:

- دا چې پیسې نه اخلي، اصلي خبره چې عبارت د ( میني له اظهار ) څخه ده څنګه به یې وریادوې؟ خندا کې یې پسې زیاته کړه: لکه چې ښه په نره نجلۍ د زړه بایلودو، ریس صاحب! داسې راته ښکاري چې د اوسپنې څپلۍ به درباندې زړې کړي. □

- ولا رښتیا هم ډاکترې! خطرناکه ده، هغه ورځ چې بانګ خون ته راغله یوازې په ظاهري ښکلا یې د زړه ستنې راولړزولې، خو خبرې مې چې ورسره وکړې، د ښکلا علاوه هوښیارۍ، شهامت، احساس او بیدارۍ ته په کتو یې حوب او مابوب مې ټولو پسې الوتي، که څه هم فعلاً بیچاره تر ډېر یو جدي روحي فشار او جسمي ګواښ لاندې ده، له هر انسان نه وېره لري او هر چاته د شک په سترګه ګوري، همداسې په مور هم سل سلنه بې باوره ده، په قسم ورته کولو سره سره، لا مې هم د هرې خبرې تر شاه بلا ویني، په وړاندې مې ډېر جدي او برعکس دریځ نیسي، هر نوعه مرسته او همکاري مې رده وي، یوازې په خپله خبره ټینګار کوي، خو لا هم په امید د الله ج نامیده نه یم، وایي که غر هر څومره جګ وي په سر لار لري، ته صبر ببګاه ته مې د مور تازه دعاګانې هم راسره مل کړم، ترڅو الله ج داسې یوه طریقه فکر ته راولي چې لمړی یې دا بې باوري له منځه یوسم، پیسې رانه قبولې کړي، د ورور د خلاصون په شمول یې ځینې نورې اولیه ستونزې یې حل او لږ د سکون ساه وخلي ذهناً د نور ژوند او خبرو اوربدو لپاره آمده شي!

په دې سره ډاکتره یو نوعه تمسخري موسکۍ شوه نور یې څه ونه وېل.

عکسل عمل کې مې ورغبرګه کړه:

- ته خو خاندې ډاکترې! مګر که خدای ج کول د رحمان وینا به هلته درپه یاد شي چې یوه ورځ د بانګ دې مالکې په صفت دې میز کې له خندا ډکه خوله ناسته

وي، په ګفه، ګفه د ظفرانو له چايو سره په ناز، نخرو پيسته او بادام خولې ته اچوي.

په دې سره دواړو وخندل، خو ددې خندا لږ اوږده شوه، زه راجګ شوم په روانېدو کې مې ورته کړل:

- ولاړم ستا له خبرو څه نه جوړي، ور بيا درسره راقلف کړه، زه پاس ګلخانه کې څو دقيقې ويده کېږم!

لا يې هم خندل، عيني خندا کې يې کړل:

- سمه ده، ځه خدای ج دې مل شه، د مور د دعا تر څنګ دې، زما ګنهګارې دعا دې هم درپسې وي!

ددې په شان د تهوکو رنګ کې د منني په کولو سره له اتاق نه ترې راووتلم، ګلخانه کې مې په تخت ځان واچولو، سره ددې چې ډېر خسته وم، خو لا هم خوب رانغلو، د ثناګۍ خيالونو په مخه کړم، اوس به چېرته وي؟ څه به کوي؟ هو رښتيا کور به يې په کومه ساحه کې وي؟ هاا استراليا واله ورور يې څومره بې غيرته دی، پيغله او دحورو په شان ښکلې خور يې دمجبوريتونو له وجه ګرده پلوري، دی ترې ناخبره دی؟ پلار يې هم رښتيا ويلي اولاد ته بايد تر هر څه له مخه انسان ته ضروري او اوليه اسلامي تعليمات ورکړل شي، د والدينو،

خویندو وروڼو، حقوقو ته درناوی او د کورني ګډ ژوند ارزښتنونه ورته وښودل شي، کنه نو اینده کې د نه مرعاتولو پړه به یې د والدینو په غاړه وي.

همدې فکرونو کې عمیق تللی وم، پاتې ورځ څه، حتا چې کور ته ولاړم راتلونکې شپې ته هم ان تر دوه دریو بجو همدا زه وم او د ثناء خیالونه و، بستره کې ویښ رغړېدم رارغړېدم، ښه و ملا آذان مخه یو ساعت ویده شوی وم.

سهار چې راجګ شوم، زړه کې راتېره شوه سړیه! څنګه یې چې وعده وکړه، نن ممکن زنګ ووهي، چون پرون یې وېل چې د ډاکترې سره تر لیدنې او د جراحۍ دقیق وخت معلومولو وروسته زنګ درته کوم، پس که زنګ وکړي زه به څه بهانه ورته کوم؟ یا کوم داسې معقول دلیل به ورته وایم ترڅو له ضد او په جراحۍ له تاقید نه لاس په سر شي، پیسې همداسې واخلي. ددې په پار تر ډېره مې په حافظه زور وروړلو، خو له بدمرغه هېڅ داسې قناعت بخش دلیل ذهن ته رانغلو، بلاخیره فکر ته راولوېده چې راځه مخکې له دې څو دا زنګ کوي، زه به زنګ ورته وکړم، یو ځل بیا به هم ورته ووایم، ممکن اوس یې څه عصاب ارام شوي وي، له خپلې خبرې تېره شي، د بانګي کارت یا هم پېژند پاڼې نمبر یې راکړي، ترڅو پیسې ورته پرې واستوم، خو مخکې له دې چې زنګ ورته وکړم، ناڅاپه مې پرېکړه بدله شوه، بل څه ذهن ته راغلل د مبایل شمارې ته مې یې ورپام شو چې ګویا راځه توکل په خدای ج د مبایل په شماره یې ورته حواله کړه، همدا خبره تر ټولو ښه په نظر راغله، تیار د پولي بانګ نمایندګۍ ته نژدې رارسېدلی وم،

جلب مې ووهلو ورتاو شوم، ددې له غوښتنې درې لکه زیاتې څورلس لکه (۱۴۰۰۰۰۰) افغانۍ مې له خپل بانکي حساب نه د ثناء د سیمکارت په شماره ورته حواله کړې، مخفي کود مې په جیب کې راواچولو، نور له بانک نه راووتلم، په موټر کې د کېناستو سره سم مې زنګ ورته ووهلو، له بدمرغه زنګ ورنغلو، چون د مبایل سیستم یې داسې عیار کړی و، چې له ورسره ثبت شمارو پرته له نورو زنګ نه ورتلو، څه به مې کړي وی؟ هېڅ چاره یې نه وه، مبایل مې واپس جیب ته واچولو راروان شوم، څو دقیقې وروسته بانک خون ته په رارسېدو سره د تل په څېر لمړی مې دروازه کې د غازي سره یوه خوله ګپ وکړو، دوهم ګام کې مې د دفتر د وره سره منتظر مشتریانو په کار خلاصولو لاس پورې کړو، ددې تر رخصتولو وروسته مې دفتري ګوشي راجګه کړه، ډاکترې ته مې زنګ ووهلو، ګوشي یې پورته نکړه، په دې ساعت کې زموږ یو بل کارمند تحویلدار وکیل راغلو څه کاغذ یې راوړل د ډاکترې پوښتنه مې ترې وکړه کړل یې: نه ده راغلې!

په دې سره مې د مبایل نه زنګ ورته وکړو، تر تماس وصلېدو او سلام وروسته مې پوښتنه ترې وکړه:

- بانګ کې نه ښکارې؟

- هو رښتیا وبښئ، نن بانګ ته درنه غللم، لږ سودا مو پکار وه، ښار ته راغلم!

- ښا مقصد چې خیرت وي!

- مننه ریس صیب! شکر خیرت دی، تا څنګه وکړل، ثناء زنګ نه دی درته کړی؟

- نه زنګ خو یې نه دی کړی او نه له دې خوا ورځي اما ددې له موافقې پرته سهار مې یې د مبایل په شماره څورلس لکه پیسې ورته حواله کړې، ته صبر چې زنګ وکړي څه وایي، اخلي یې کنه؟

- غم مه کوه ما بیګاه ډېر ښه خوب لیدلی!

دې جملې ته دواړو وخندل، پسې زیاته مې کړه:

- هسې احوال مې درې خیستو، سودا دې وکړه، څه نور دې وخت نه نیسم ښه ورځ!

- مننه ریس صیب! تا ته هم ښه ورځ!

په همدې سره مې د ډاکترې سره تماس قطعه کړو. بلاخیره سره ددې چې ټوله ورځ مې د ثناګۍ زنګ ته په انتظار ثانیه، ثانیه شمارلې خو لا هم ورځ تېره شوه زنګ یې رامعلوم نشو. تلوسه مې شوه چې هسې نه کوم بل د ګرُدې پېرنې بانګ ته تللې وي، که څه هم په ټول کابل کې دوه د ګرُدې پېرنې مرکزونه و. یو همدا زموږ او بل په شېرپور سیمه کې و. چې هغه خلک واقعاً د احمدشاه مسعود همفکره پلویان او ډېر په قدرت کې و. له دې کبله نسبت موږ ته د دوی کار او

بار هم ډېر لوی او ښه آزاد و، خو په هر حال شپه هم تېره شوه، سهار مخکې له دې چې بانګ خون ته راشم، ناخونګیر مې راوخیستلو، له اتاق نه راووتلم، د برنډې له پاسه چوکۍ کې کېناستم، د لاسونو نوکان مې واخیستل د پښو لا پاتې و، موبایل ته مې زنګ راغلو، د زنګ د راتلو سره مې زړه کې کړل: کاشکې ثناء وي، چې لیدل مې دعا مې قبله وه، همداسې و، د تلیفون له اوکې کولو سره سم راجګ شوم، سلام علیک او لمړنۍ پوښتنه مې همدې تلو کې ورسره وکړه، اتاق ته په رارسېدو سره مې ور راقلفک کړو، مخامخ کونج کې د بوغبند (بسترې) له پاسه کېناستم، تر جوړ پخیر وروسته یې مستقیماً کړل:

- ښاغلیه! د روغتون له ډاکترې سره مې ولیدل نن ماښام په اوه بجو مې د جراحۍ وخت اخیستی، هیله ده تاسو مو هم خپل استازی راواستوئ ترڅو هغه مبلغ پیسې یولس لکه (۱۱۰۰۰۰۰) افغانۍ هم د روغتون مدیریت ته تسلیم کړي، نور ماته رسېږي، زه د مدیر سره غږېدلې یم او له جراحۍ نه هم نظارت وکړي، البته د نظارت لپاره ډاکتره نرګیس یا هم کومه بله ښځینه استازې راواستوئ، چون دا د جراحۍ بخش یوازې د ښځینو لپاره دی، ډاکترانې هم ټولې ښځې دي.

ورغبرګه مې کړه!

- وښه آغلې! که څه هم وعده خو مې همداسې درسره کړې وه، مګر ستاسره تر تماس قطعه کېدو وروسته په درسره کړې وعده ډېر کلک پښېمانه او په هېڅ

صورت وجدان اجازه رانکړه، ترڅو ستاسو د والد صاحب په شان د هېواد د يو وياړلي اصيل بچي لور چې پلار يې د هېواد سره له ميني او خپل دين، خاورې، ملت نه د دفا په پار د خپلې ميړانې او سربښندنې سلګونه داستانونه اينده نسلونو ته تر شاه پرېښې وي او خپله ستاسو په شان د يوې باهمته، بااحساسه، سپېڅلې پښتنې پېغلې نجلۍ صحت او ځوانۍ ته د ناچيز پيسو په مقابل کې د پای ټکی کېږدم، پس همغه وخت د پښېمانتيا سره سم مې زنګ درته کولو، خو متاسفانه ستاسو ګوشۍ ته له دې خوا زنګ نه درتللو، بلاخېره تصميم مې داسې شو چې ځورلس لکه افغانۍ مې ستاسو په همدې مبايل شميره درته حواله کړې، مخفي کد يې صفر، صفر څلور دی (۴۰۰) د پولي بانګ هرې نمايندګۍ ته چې هر وخت د خپل سيمکارت سره تشريف وروړې تر لاسه کولی يې شې!

دا خبره نه وه ته وا نجلۍ مچيو وچيچله، په ډېره غوسه او توند انداز يې راغبرګه کړه:

- د ښه انسان طمعه خو له سره ستاسو نه ځوک نشي کولی، مګر تاسو بېخي د بدترينو انسانانو بدترين وختلی، سره ددې چې خپلې سختې ستونزې او پيسو ته د ډېر جدي او عاجلې اړتيا په اړه مې خپل مجبوريتونه هم درسره شريک کړل، ولې تاسو ظالمانو بيا هم دومره وخت کوشي وکړه، که همغه لمړی ځل مو دا خبره راته کړې وی، اوس به مې بل ځای خپل مشکيل حل کړي و...

خبرو يې دوام لرلو منځ کې يې ورولوېدم:

- هيله کوم آغلې! احساسات مو کنترول کړئ، دا سمه ده چې مور به ښه خلک نه يو، خو ممکن ته د الله ج خوښه اوسې چې په دې سخت وخت کې ستا په اصتلاح زمور په شان بد او کلک زړي خلک يې دې مرستې او همکارۍ ته وادار کړل، په داسې حال کې چې شخصيت، عزت او وقار مو هم کاملاً په خپل ځای وي، که تاسو کومه وېره يا کوم احتمالي ګواښ پکې محسوسه وئ؟ خو هېڅ کله نه، چون دا پيسې ما ستاسو د مبايل په شماره درته حواله کړې، نه دې بانک خون ته د راتلو ضرورت شته، نه له مور سره د ليدو، همدارنګه نه دې کور او د اوسېدو سيمه رامعلومېږي، پس څه فکر کړې، ايا که تاسو اوس هم دا پيسې وانخلئ، الله ج به په ورځ د محشر پوښتنه درنه ونکړي، چې ګويا ما تاسو ته په ډېره حسينه او پرته له هر نوعه ستونزې ستاسو د مشکيلو د حل زمينه مساعده کړه، ولې تاسو بيا هم د خپل صحت په له منځه وړلو او د بدن يو حياتي غړي په پلورلو تاکيد وکړو؟ ولې چې سالم وجود انسان ته د الله ج له خوا امانت تحفه ده، ساتنه يې پرې فرض ګرځولې!

د مسخند په ترخه خندا سره يې کړل!

- نصحتونه دې له ځان سره وساته صاحبه! که څه هم خبره دې سمه ده، ولې، دا دې هېره کړې هغه الله ج کوم چې ته يې د خپل حسنه دليل لپاره بار بار په نوم تکيه کوې، يوازې زما او نورو خلکو لپاره د محشر يا هم حساب او کتاب ورځ

نه پرانېزي بلکې تر ټولو سخت حساب به د هغه چا سره کوي چې خلکو ته یې د تل لپاره د صحت سره د خداپیامانۍ زمینه برابره کړي، ددوی د مجبوریت او عصباني کېدو نه په سوء استفادې سره یې په خپل ظالمانه دام کې راګېروي او د بدن په غړو یې تجارت کوي، خو په هر حال، اصلاً د چا چې ضمیر مړ وي دا خبرې او دلایل ورته بې تفاوته دي، څوک چې بحث ورسره پرې کوي هم جهالت دی، بناءً د وروستۍ جملې په پار څنګه مې چې مخکې هم درته ویلي زه نه د مفتو پیسو اخیستلو نجلۍ یم، نه سوالګره یم، نه ستا غوندې له انسانیت نه تښتیو، بې رحمه انسانانو په مرسته او همکارۍ هېڅکله تکیه او ځان ته نجات ورکوم، ولوکه هر څه کېږي، پس ته پوهېږې او پیسې دې، زما د راضایعه کړې ډېر مهم او تلواري وخت په عوض کې دې خدای ج سزا درکړي!

کړنګ په همدې خبره یې تماس راقطعه کړلو، تماس پرې کېده نه و، ته وا دېرش مرمۍ یې وویشتلم، هر څومره مې یې چې شماره داېره کړه بدبختانه له دې طرفه یې سېمکارت ته زنګ نه ورتللو، ټوله ورځ له فکر خرابۍ هوایي وګرځدم، نه د چا سره په خبره پوهېدم، نه په ناست نه په ولاړه، ان تر دې چې قضاء ماسښین مې ناڅاپه انجینر قلندر ته ورپام شو، نمونړی مې د پخوانیو کلکو ملګرو له جملې و، دې وخت کې یې په (MTN) مخابراتي شرکت کې دنده درلوده، د تخنیکي چارو عمومي مسوول و، سم د لاسه مې مبایل راویستلو په شماره مې

يې د اوکې بټنه کلیک کړه، له سلام علیک او ملګرانه رغبړ وروسته مې ورته کړل:

- بچیش یو قرضدار ته مې زنګ نه ورځي، مبایل یې خاموش نه دی، صرف سیستم یې ورته محدود کړی کومې شمارې چې ورسره ثبت نه وي، زنګ نه ترې ورځي، که څه چاره یې ممکنه وي، غمه یې راته وخوره!

قلندر خندا کې راغبرګه کړه:

- پربږده بېچاره خو نه به یې لري چې خوله یې درترلي!

په متقابلې خندا سره مې ورغبرګه کړه:

- ترې اخلم یې نه، ډېر وخت یې ووتلو چې ببخې یې په زړه خوږې نکړې یوازې یوه یاداوري ورته کوم!

- ښا بیا نو سمه ده، ته دې د قرضدار او ته چې له کوم نمبر نه زنګ ورته کوې دواړه راکړه!

لمړی مې خپله هغه شماره نه چې مخکې مې تماس ورسره پرې نیولی و، یوه بله نوې شماره مې ورکړه، بیا مې د ثناءً شماره ورکړه، له څو لحظو ورته منتظرېدو وروسته قلندر کړل:

- اوس کولی شې چې خبرې ورسره وکړې، خو یوازې د یوه زنګ چانس لرې دوهم ځل زنګ دې بیا هم نه ورځي!

- ولې د سم نه جوړولو چې هر وخت مې زنګ ورته کولی شوی؟

- هسې امکان نلري، هر سیمکارت یوازې د یوه زنګ ورته کولو لپاره عیاربدی شي، هغه هم اسانه کار نه دی پوهېږې؟ له نورو مشتریانونه دوه زره افغانۍ پرې اخلو، خندا سره یې پسې زیاته کړه: خو ستا له جیب نه به پیسې ښې ووځي!

ومې خندا بلاخیره د مننې او خداپیامانۍ په کولو سره، مې تماس ورقطعه کړو، څو لحظې مې ځان سره د ثناء لپاره د داسې معقولو او با اثره الفاظو په راپیداکولو تېرې کړې ترڅو خبرې ته مې غوږ کېدې او حداقلاً څه ناڅه قناعت ورکړم، ترڅو هسې نه بیا غوسه او تماس راقطعه کړي، ولې چې د همدې یو ځل زنګ چانس لرم، اما هر څومره مې چې په ذهن زور وروړو لا مې هم داسې کلمات پیدانکړل چې زه پرې ډاډه اوسم، خو بیا هم زړه نازړه د بسم الله په ویلو سره مې یې شماره دابره کړه، تر اخیره یې زنګونه تېر کړل بدبختانه اوکې یې نکړو د دوهم ځل لپاره مې چې هر څومره زنګونه ورته کول د تېر په څېر زما له شماره یې سیمکارت ته زنګ نه ورتلو، د قلندر سره تماس، د ځان سره خبرې دلایل جوړول، فکرونه خوارۍ ټول هېڅ شول، په دې سره مې لا سر دردي زیاته شوه، زړه مې غوښتل چې په همدې علني میدان د لیونیانو په شان یخن څېرې او ښې چیغې وکړم، خو په هر صورت، لنډه دا چې تیاره ماښام کور ته راغلم، د ناستې

په عمومي اتاق کې مې د مور، خور، ورینداري، وړکیو ماشومانو وربړو سره په ولاړو سلام علیک او روغبړ وکړو، په لار کې مې یوه خربوزه راسره رااخیستې وه، دا مې هم ورکړه، نور مې مور ته سترګې ورواړولې:

- زه ډوډۍ نخورم ستړی یم په اجازه دې ځم اتاق ته مې ویده کېږم!

په همدې سره ترې راروان شوم د اتاق ور مې راپسې قلفک کړو، خوب له کومه شو، ټوله شپه اړخ په اړخ اوښتم، ځمکې ځای نه راکولو، بلاخېره سهار تر چای څکلو وروسته مې موټر راویستلو، راساً هغه خصوصي روغتون ته ورغلم، کوم چې ثناء د خپلې جراحۍ لپاره انتخاب کړی او له ما نه یې د استازي وراستولو غوښتنه کړې وه، موټر مې د روغتون تر مخ ودرولو دوهم منزل ته وروختلم د اجازې په پار مې لمړی د مدیریت ور ورټک ټک او بیا مې یې دستګیر تاو کړو د وره تر نرۍ چوله مې په مدیر سترګې ولګېدې یو بل نفر هم ورسره ناست و، د سترګو په خوځولو یې د ورتلو اشاره راکړه، زما په ورداخلدو سره هغه بل نفر راووتلو، زه تر میز دې خوا مدیر ته مخامخ په کوچ کېناستم تر سلام علیک وروسته مې ځان ورته معرفي کړو، بلاخیره د ثناء موضوع مې ورته پرانیستله، کړل مې:

- وبښه مدیر صاحب، ممکن تاسو یې وپېژنۍ؟ د ثناء په نوم یوه ځوانه نجلۍ، دوې درې ورځې وړاندې زموږ بانک خون ته راغله غوښتل یې خپله کړُده وپلوري، خو شرط یې دا و، چې جراحي به یې همدې ستاسو «دارالدرمان

روغتون) کې تر سره کېږي، که څه هم لمړی ما ورسره ومنله، ولې وروسته مې فکر بدل شو، چون یو خوا دیو ډېر قدرمند وطن دوست ملي شخصیت لور ده، بلخوا ځوانه خورا باشهامته، هوښیاره او باتعلیمه نجلۍ وه، زړه مې پرې ونشو، هغه مبلغ پیسې چې ددې اړتیا وه ورته، له کړُدې ترې پېرنې پرته، خاص د خدای ج په رضا او ثواب په پار مې ورته حواله کړې، که څه هم لمړیو کې مې یې د بانکي کارت یا هم پېژند پاڼې نمبر ترې وغوښتلو ترڅو پیسې همداسې ورته حواله کړم، مګر نمبر یې رانکړو وېل یې همداسې یې نه اخلم، بلاخیره ددې سره له موافقې پرته مې یې د مبایل په شمېره ورته حواله کړې، هغه ساعت زما له مبایل نه زنګ نه ورتلو، پرون سهار دې خپله زنګ وکړو، د نموړې روغتون په نوم اخیستلو سره یې کړل: نن پس له ماښامه په اوو (۷) بجو مې د جراحۍ وخت پکې اخیستی، خپل استازی مو راواستوئ ترڅو هغه مقدار پیسې هم د روغتون مدیریت ته تسلیم کړي، زه د مدیر صاحب سره غږېدلې یم، نور ماته رسېږي او د جراحۍ له بهیر نه هم نظارت وکړي.

خو ما چې کله ورته ووېل: زه ستاسره په کړې وعده یا هم ستا نه د ګرُدې پېرنې په پرېکړه پښېمانه شوی یم، هغه مبلغ پیسې چې تاسو اړتیا ورته لرله، د مبایل په شماره مې دې خاص د الله ج په رضا درته حواله کړې.

له بدمرغه هره وېره یا احتمالي خطر یې چې پکې محسوس کړو، متاسفانه خبره مې ډېره بده پرې ولګېده، سخته غوسه شوه ان تر دې چې تماس یې راقطعه

کړو، که څه هم زما لخوا خو له اولو نه زنګ نه ورتلو ولې بیا هم ډېره هڅه مې وکړه، ترڅو یو تماس مې ورسره رخ شي، ممتا بریالی نشوم، بلاخیره د مرستې په پار مې تاسو ته راپام شو، همدا و چې راروان شوم، هیله کوم مدیر صاحب په دې برخه کې مو که کومه همکاري له وسه کېږي چې دریغ یې نکړې، چون تاسو به پرې خبر یاست؟ نمورې نجلۍ ډېر سخت مشکیلات لري، که زما لخوا د ورته حواله شویو پیسو په پار وېر یې له منځه لاړه نشي له بانک نه یې ونه باسي، د خپلو مجبوریتونو په اساس ممکن په بل چا خپله کړُده وپلوري ځان عیبي کړي، بلخوا کومې پیسې مې چې ورته حواله کړې د پولي بانک د اصولو لمخې ترڅو چې همغه د نجلۍ سیمکارت له ځان سره ونه لري، زما په شمول هېڅوک نور دا پیسې نشي ایستلی، پس که دا یې هم ترې تحویل نکړي، بلاخېره د بانک د سرمایه برخه ګرځي، بناءً بیا هم هیله کوم مدیر صاحب! چې په دې برخه کې مو تر ممکن حد خپله مرسته او همکاري رانه ونه سپموئ!

مدیر صاحب راغبرګه کړه:

- ولې نه، واقعاً هم دا موضوع هغه ورځ له ما سره شریکه شوه، خو خپله د نمورې نجلۍ له طرفه نه، بلکې زمونږ د ښځینه جراحي بخش د یوې متخصصې جراح ډاکترې له خوا هیله رانه وشوه، چې ګویا داسې کسان راځي یوولس لکه (۱۱۰۰۰۰۰) افغانۍ به ترې تسلیم کړې، لاس لیک به ترې واخلې، همدا خبره یې وکړه چې کومه نجلۍ خپله ګرُده پرې پلوري، نمورې نجلۍ د روغتون فیس

تحويل کړی غواړي جراحي زموږ روغتون کې وکړي، که څه هم زړه مې پرې بد شو، مګر د خپلو ځانونو په اړه د خلکو تصميمونو کې موږ څه نشو کولی، خو په هر حال ته صبر، په همدې سره يې د ميز له سره ګوشي راپورته کړه، يادې ډاکترې ته يې زنګ وکړو، د څو لحظو تر تېرېدو وروسته ډاکتره راوسېده، په سلام او ښه راغلاست پسې پيوست مدير له مانه اورېدلې موضوع ورسره شريکه کړه او د نجلۍ سره د اړيکې پوښتنه يې ترې وکړه.

ډاکترې کړل:

- هو رښتيا يو ورځ وړاندې راغلې وه، همدا د کرُدې د پلورلو او جراحۍ خبره يې وکړه، خو دا چې ښځې نوځوانه او ډېره ښايسته ځواني الله ج ورکړې وه، ددې سربېره لوړې زده کړې يې کړې وې، ډېره سر خلاصې او با استعداد نجلۍ وه، ما يې له جراحۍ کولو انکار وکړو، خو خورا زيات اوزر زارۍ يې وکړې حتا په ژړا شوه، بلخوا زموږ او تاسو د همکارې نرسې (مهرا) سره يې لمخکې پېژندل سره ددې چې لمړی يې د مهرا هم جراحۍ ته زړه نه و، خپل اتاق ته يې ورسره بوتله، غوښتل يې په قناعت ورکولو سره يې له دې کار نه په شاه کړي، خو وس يې پرې ونشو نجلۍ په خپله خبره ټينګار کولو، همدا و چې مهرا واپس ماته راغله کړل يې: نجلۍ خو ډېره جدي ده ډاکتر صاحب! تر ډېره ملامته هم نه ده، ځکه چې که دا نمورې قرباني ورنکړي، ممکن ټوله کورنۍ يې له لاسه ورکړي، پس که تاسو يې د زړه سوي له مخې جراحي ونکړئ، هرو مرو به کوم بل

روغتون ته لاړه شي، کېدی شي په کوم بې تجربې ډاکتر باندې جراحي وکړي چې لا به یې ستونزې زیاتې شي، همدا و چې ورسره ومې منله، خو بیا نه پوهېږم چې ولې؟ په خپل ټایم یې جراحۍ ته حاضره نشوه!

مدیر کړل:

- د مبایل شماره یې لرې؟

ډاکترې ورغبرګه کړه:

- دوسیه کې به یې هم وي، خو مهرا ښه له نژدې وسره پېژندل حتماً به تماس سره لري!

مدیر بیا له میز نه ګوشي راجګه کړه، د څو شیبو په تېرېدلو سره یې مهرا هم راحاضر کړه، د حاضرېدو سره سم مهرا لمړی مدیر ته د نجلۍ د ستونزو او مجبوریتونو په اړه وغږېده، بیا ما مهرا ته په لنډو کې ټوله کیسه وکړه. چې ګویا داسې زموږ بانګ خون ته راغلې وه، غوښتل یې خپله کړُده وپلوري، موږ لمړی موافقه وسره وکړه، وروسته یې د محترم والد ډګروال صاحب روح ته د درناوي او خپله ددې نوځوانۍ ته په کتو پښېمانه شوم، هغه مقدار پیسو ته چې د دوئ اړتیا وه، پرته له دې چې کړُده یې ترې وپېرم همداسې رایګان مې یې د مبایل په شماره ورته حواله کړې، خو نه پوهېږم چې کومه دومره جدي ستونزه یې پکې محسوس کړه، په ځای ددې چې خوشحاله شي، مننه وکړي، برخلاف

ډېره سخته غوسه شوه، ان تر دې چې تماس يې راقطعه کړو، نو هيله کوم آغلې! فکر کړم تاسو ورسره پېژنئ؟ همکاري دې غواړم، صرف چې ماته يو زنګ وکړي، يو پنځه خبرې مې په حوصيله واورې انشاءالله قناعت ورکوم، ترڅو هغه پيسې له بانک نه وباسي، يوخوا به پرته له دې چې کړُده وپلورې، يا هم ځان عيبي کړي، ستونزې به يې حل شي، بلخوا هغه حواله شو پيسو ته اوس زه هم لاس رسی نه لرم، چون بانک ته د دوئ سيمکارت متعبر دی، پرته له هغه سيمکات نه زما په ګډون هېڅوک نشي کولی نمورې پيسې وباسي!

مهرا د څو لحظو لپاره په فکر کې ولاړه، وروسته يې کړل:

- ته صبر زه زنګ ورته وکړم، که خوښه يې وه، مبايل تاته درکړم ورسره وغږېږه!

- ډېره مننه! سمه ده خو هيله کوم لږ تېنګار پرې وکړه!

- صحيح ده!

په همدې خبره يې شماره دابره او ورسره جګه شوه، له مديريت نه ووتله، لږ، لږ غږ يې راتلو دهلېزه کې سره وغږېږدې، واپس چې راغله کړل يې:

- فعلاً ډېره مصروف وه، غږ يې سم رانغلو، فکر کړم محکمه کې وه، يو ورور يې بندي دی ممکن د همغو د دوسيه نه د ليدنې په پار به ورغلې وه، خو کلکه وعده يې راکړه چې اوس د خبرو وخت نه لرم رخصت يې کړئ چې کله وزګار شوم بيا زه خپله زنګ ورته کوم. داده اوسه تر کومه يې چې زه پېژنم، څه چې ووايي هرو مرو

هغه کار کوي، انشاءالله په یو مناسب وخت کې به تماس درسره ونیسي ستونزه به مو حل شي!

مننه مې ترې وکړه، بیا مې د مدیر په شمول له دوی ټولونه یې د وخت د ضایعه کولو په پار ښښنه وغوښتله، په همدې سره د خداییپامانۍ په کولو ترې راجګ شوم، تر څو د اوږده دهلیز له دروازې وتلم نمورې مهرا نامې نرسه هم له مدیریت نه راووتله، ورته پښه نیولی شوم، دهلیزه کې مې بیا ښه ټینګار پرې وکړو، ان د مبایل شماره مې یې هم ترې واخیستله، که څه هم شماره یې نه راکوله خو اخیر مې په ډېر اوزر ترې تر لاسه کړه، ترڅو که ثناء زنګ ونکړي یا ترې هېر شي، چې زه تا او ته بیا ثناء ته زنګ ووهې. خو په هر حال د شمارې ترې اخیستلو وروسته د روغتون له عمومي دروازې هم راووتلم، موټر مې سلف کړو، راروان شوم، لمړی بانک خون ته ولاړم، ځینې کارمندان مې ورتلو ته منتظر و، چون د پنجشنبه ورځ وه، غوښتل یې رخصت واخلي کورونو ته یې ولاړ شي، دوی مې رحضت کړل، پاس منزل ته وختلم، ډاکتر اقبال تازه د یو نفر د کُرډې جراحي کړې وه، له عاجل بخش نه یې راویستلو، په ما د سترګو لګېدو سره یې لاس پورته کړو، له لرې مو سلام علیک وکړو، واپس راښکته شوم، په نوکري وال مې غږ وکړو ترڅو هر څه ته متوجه او بیدار اوسي نور زه هم له بانګ خون نه راووتلم، ډوډۍ مې په لارو (لیلې مجنون رستورانت) کې وخوړله، البته له یادولو دې پاتې نه وي، روستورانت کې مې یوه صدقه هم وکړه، د ډوډۍ خوړلو په محال

یوه چادري پوښه ښځه راغله، سوال یې کولو لس روپۍ یې غوښتې پوښتنه مې ترې وکړه:

- ولې سوال کوې، کور کې مو نارینه څوک نشته چې کار او مزدوري درته وکړي؟

کړل یې:

- مېړه مې مریض دی کار نشي کولی، اولادونه مې واړه دي!

- د میړه دې څه مریضي ده؟

- موټر یې ځلولو دوه کاله وړاندې تر مخ یې د امریکایانو په قطار چاودنه شوې وه، له چاودنې وروسته، امریکایانو په سیمه کې چې څوک لیدل ویشتل یې، زما مېړه یې هم درې مرمۍ ویشتلي و، ښه و مړ نشو خو کار نشي کولی!

- نځه، نځه، نځه! څو نفر فامیل مو دی؟

- پنځه نفره درې مې اولادونه دي دوه زه او خاوند مې!

خدای ج دې رویا نه کوي، جیب ته مې لاس کړو، لمړی مې پنځه زره (۵۰۰۰) افغانۍ نغدې ورکړې، بیا مې د رستورانت ګاردسون ته غږ وکړو: دې زنانه ته پنځه خوراکه کباب جوړ کړه، پلاستیک کې یې واچوه ترڅو کور ته یې ورسره یوسي، حساب یې زه خلاصوم!

ګاردسون د اوکې په پار سر وخوځولو، ښځې تر چادرۍ لاندې غبرګ لاسونه پورته نیولي و، دعاګانې یې کولې، شیبه وروسته زه هم راجګ شوم، د ښځې کباب لا نه و، تیار شوی د منکل له پاسه کبابي پکه ورته وهله شنه دودونه ترې جګېدل، دا هاخوا ورته ولاړه وه، دروازې ته څېرمه د میز شاته ناست مالي ته مې یې حساب ورکړو، نور له روستورانت نه راووتلم، چې ساعت ته مې وکتل یوه نیمه بجه وه، زړه کې راتېره شوه، د پنجشنبې ورځ ده تر دولسو بجو وروسته رسمیت ختمېږي، ثناء که رښتیا زنګ کوي ممکن له دې وروسته یې وکړي. په همدې هیله مې مبایل د موټر په سیوچ بولټ بیدار کېښودو راروان شوم، له دان باغ، کارته پروان او کارته مامورین تر څلور لارې راتېر شوم، د سیلو د سرک په نیمې کې د خوشحال مینه په لور راوګرځېدم، له سپین کلي چوک هم وړاندې ولاړم لمونځ مې د امام عظم (ح) په جامعه مسجد کې وکړو، لنډه دا چې پاتې ورځ هم تېره شوه، د ثناء زنګ رامعلوم نشو، همدارنګه د شپې هم سره ددې چې ټوله شپه مې یې په انتظار سبا کړه، لا هم درک یې ونه لګېدو، سهار د چای خوړلو په محال مې مور راته کړل:

- زویه! بېګاه دې ډوډۍ ونخوړه کوټې (وتاق) ته دې لاړې چې خوب راځي، د شپې دوې بجې مې بستره کې پښې سرې (ګرمې) شوې برنډې ته ووتلمه، چې له کړکۍ نه دې د مبایل رڼا ښکارېده، ویښ وې ګوتې دې پکې وهلې؟

- رښتيا وايې مورې! د يوه نفر سره مې لږ جنجالي حساب دی، وعده يې کړې وه چې بېګا ته زنګ درته کوم، خو زنګ يې هم رامعلوم نه شو، هسې يې بې خوبه کړم!

- زه پوه شوم چې ورکی څه تشويش لري، بيا مې اودس او څو رکعاته نفلونه وکړل ډېرې دعاوې مې درته وکړې، خدای پاک دې په لوري شه زويه!

- مننه مورې، دعاګانې کوه، ستا دعاګانو مې تل په مخ ډېرې سختې اسانه کړې، اوس خو دومره د انديښنې خبره هم نه ده انشاءالله...

نور مې څه ونه ويل جمله مې په همدې انشاءالله نيمګړې پرې ښوده، راجګ شوم د جمعې ورځ وه، ما هم ځان رخصت کړی و، څو دقيقې مې حاويلۍ کې د ګلانو له بوټو وچې او زېړې شوې پاڼې لرې کړې، وروسته مې موټر چالاند کړو، خور مې د دهلېزه له وره نه غږ راوکړو:

- لالکه! مور وايي چېرته ځې نن خو جمعه ده؟

- وزير اکبرخان کې مې لږ کار دی غرمې ته بېرته راځم!

په همدې سره ترې راروان شوم، له دروازې چې راووتلم مبايل ته مې زنګ راغلو، زنګونه خو ډېر راتلل، ممتا ددې زنګ په راتلو سره مې روح خبر و، زړه کې راتېره شوه: ممکن ثناء وي، چې مبايل مې راجګ کړو همداسې وه، زنګ

ثناګۍ کړی و ، مخکې له دې چې په عمومي سرک ورګډ شم، موټر مې د خپل فرعي سرک څنګ ته کړو ، د اوکې بټنې له کېکاږلو سره سم مې کړل:

- سلام علیکوم آغلې! سهار مو پخیر هیله ده صحت ولرئ!- وعلیکوم سلام، مننه ستاسو دې هم سهار په خیر وي، په همدې خبره پسې پیوست یې کړل: ښاغلیه! خبره شوم پرون ما پسې د پلټنې په پار دارالدرمان روغتون ته ورغلي وئ، ایا ستا مطلب څه دی، اخیر له مانه غواړئ څه؟

- قربان دې شم آغلې! داسې څه کیسه نه ده، البته لمړی خو دې له زنګ وهلو ډېره ډېره مننه، دوهم دا چې رښتیا هم روغتون ته ورغلم، پوهېږم چې ښه مې ونکړل، ډېر زیات وبښئ اما یقین وکړه که هېڅ د کوم بد نیت اراده مې زړه کې وه یا وي، څنګه مې چې هغه ورځ هم درته ووېل خو له بدمرغه تاسو غوسه شوئ تماس مو راقطعه کړو، کومې پیسې مې چې درته حواله کړې یوازې او یوازې ستاسو د قدرمند والد صاحب محترم پاک روح ته د درناوي او یوې باعزته پښتنې پیغلې په صفت ستاسو سره ستاسو د ستونزو د حل په برخه کې د مرستې او همدردۍ په پار مې درته استولې او بس. بناءً په خپله خبره ټینګار مه کوئ، هغه پیسې له بانګ نه واخله، چون که تاسو یې ونه باسئ، نورې پیسې داسې شوې لکه سیند ته مې چې غورځولې وي، ولې چې ستاسو په شماره حواله شوې، د بانګ د شرایطو او قوانینو په اساس ترڅو چې ستاسو سیمکارت له ځان سره ونه لري، زما په شمول هېڅوک یې د ایستلو حق نه لري، پس بیا هم هیله کوم د پولې

بانګ هرې نمايندګۍ ته چې لاس رسی لري، يوه مهرباني وروکړه، نمورې پيسې ترې وباسه ترڅو...

خپله خبره مې لا نه وه بشپړه کړې چې ثناء راغبرګه کړه:

- ايا تاسو ته مانه و ويلې، چې زه نه د مفتو پيسو اخيستلو نجلۍ يم، نه سوالګره يم او نه هم ستاسو په شان خلکو په مرسته او خواخوږۍ هېڅکله تکيه کوم، ولوکه که هر څه کېږي، پس ته څه کاره وې چې خود سرانه دې پيسې حواله کولې!؟

- منم آغلې اشتبا وه رانه وشوه، وشوه! خو اوس ستاسو له هم پذيرۍ پرته بل هېڅ جبران نه لري!

- څه سمه ده، زه پيسې رااخلم، ولې په يو شرط څنګه مې چې مخکې هم درته ويلي زه ستاسو په خواخوږۍ، همدردۍ ياهم سيله رحمۍ هېڅکله باور نشم کولی او نه هم امکان لري چې په هغه لسګونه، سلګونه خلکو کې چې هره ورځ ستاسو کشترګاه ته درځي او تاسو يې په ټوله بې رحمۍ کرُدې ترې پېرئ، او يوازې په ما باندې مو زړه سوی شوی وي، ان تر دې چې پرته زما له ويلو مو پيسې هم راته حواله کړې، هغه هم د کرُدو لپاره ستاسو د ټاکلي قيمت نه دوه لکه زياتې يعنې څورلس لکه افغانۍ، بناءً هېڅ شونې نه ده چې تاسو دې له دې نه کوم مقصد ونه لرئ، هرو مرو مو زړه کې څه شته، مهرباني وکړه هر څه چې

دي؟ همدلته یې درنه اورم، ترڅو نه بیا په روغتونونو کې تپ تش راپسې وکړې، نه دې زړه کې ارمان وي!

لویه ساه مې واخیستله، حېران شوم، چې ووایم، که ونه وایم؟ بلاخېره تر یوې وړې وقفه وروسته مې کړل:

- څه ووایم آغلې! خو تاسو خپله ماشاءالله ډېر قوي درک لرئ، څنګه چې پوهېږئ رښتیا هم زما زړه کې خبرې شته، مګر هغه په دې پیسو پورې هېڅ تړلې نه دي او همدارنګه چې سوء تفاهم نشي یعني خدای ناخواست کومه د ادب له دایرې بهر یا غېرې مشروع غوښتنه هم نه درنه لرم، ولې د اوس لپاره نشم درته ویلی، چون تاسو فعلاً ډېرې زیاتې ستونزې لرئ، لمړی دا پیسې واخلئ ترڅو ځینې اولیه ستونزې مو حل او اقلاً څه ناڅه مو ذهن د ژوند د نورو برخو او خبرو اوېدلو برداشت پیداکړي، بیا مو که زما ددې خبرو لپاره حداقل پنځه دقیقې وخت راکړو ډېر لوی لطف به مو وي آغلې!

- نه خیر مهمه نه ده، هر څه وېل چې لرې همدا اوسې ووایه!

- کور ودان آغلې! سمه ده، پس تر څو زیات وخت مو ضایعه نکړم له مقدمې تېرېږم، چون تاسو ماشاءالله یو سر خلاصی شخصیت یاست، ضرور نه ده چې د ذهن سازی په پار مو د مقدمې تر عنوان لاندې په یو لړ آضافي خبرو سر

وخورېوم، په ټول درناوي مستقيماً اصل مقصد ته ځم، هيله ده د ټولې حوصيلې په ساتلو سره مې وزغمې او خبرې مې تر پايه واورې!

- غوږ مې دی، مهرباني!

- مننه آغلې! بيا نو چې پاکه خبره درته وکړم، له هغه اولې ورځې نه چې زما په زړه او د بدن په بيلا بېل هر اندام کې تاته د وېلو لپاره ټوپونه وهې، هغه د انګرېزانو په اصتلاح ( آيلبيو ) لفظ دی، خو له بدمرغه تاسو ډېر زيات مشکيلات لا هم لرئ، د ويلو وخت يې نه و او نه هم اوس دی، ولې ستاسو له لوې حوصيله مندۍ نه بيا هم نړۍ مننه چې په دې نامناسبو شرايطو کې مو وخت راکړه، زه دې کابل ښار کې وړکۍ رالوی شوی يم، همدارنګه بانګ خون ته مو سلګونه زرګونه نجينې راغلې يعني که ټولې نه وې، د نمورې ښار کم او زيات (۹۰) سلنه نجينې مې تر نظر تېرې کړې، اما لمړی ځل و، چې ستاسو په شان د حسن په يوه بې مثاله بېلګه مې سترګې ولګېدې، يقين وکړه هغه ورځ مې چې شبعه کې مخ ته ودرېدې ټولو حواسو مې دې په وړاندې کار پرېښودو، زه ناروغ نه وم، ګونګ نه وم، نشه مې نه وه کړې، يوازې ستا د جادوګرې ښکلا اثر و، کلي کربت يې کړم، اخيرنی توان مې همغه و، چې ډاکترې نرګيس ته د ورتلو توصيه مې درته وکړه، که څه هم هغه وخت مې دې يوازې د ظاهري ښاپېرزادې څېره په مقابل کې روح د غلامۍ سجده کېښوده، مګر تر خبرو درسره کولو وروسته مو په خپل لوړ همت، احساس، هوښيارۍ او سپېڅلتيا سره ببخي له

ځان او جهان نه ورک کړی یم، هوش او خیال مې ستا په لور الوتي، بناءً په ټول درناوي او ادب عرض کوم، ترڅو د ژوند د یو ناچیز ملګري په صفت دې پرساعت راکړې، څو وکولی شم، چې د هرې بلا، ستونزې، غم او درد مخکې دې سپر او همدارنګه په ټول توان، مینه او اخلاص دې د ګلاب په شان ځوانۍ د تر او تازه ساتنې په پار د پالنې او خدمت ویاړ تر لاسه کړم آغلې!

په دې سره نجلۍ یو ځل بیا د یوې نرمې له مسخند او درده ډکې خندا په کولو سره راغبرګه کړه:

- اممم همم! څومره مینه ناک وختلې جنابه! اصلاً هغه د لمړۍ ورځې له حرکتو نه دې پوه شوم چې وروستۍ خبره به دې همدې ځای ته راځي، اما حقیقت کې تاسو د شرم او نسانیت په نام هېڅ نه پېژنئ، دا چې د وخت جبر راباندې تحمیل شو او زه یې ستاسو تر جنایت خانې (بانګ خون) دروستلم جلا خبره ده، ولې بیا هم څنګه مې چې مخکې هم درته ویلي له افغاني غرور مالامال د یوې درنې پښتنې پېغلې او یوې باعزته کورنۍ د اولاد په صفت لا مې هم خپل عزت او وقار هسک ساتلي او تر وروستۍ سلګۍ به ورته ژمنه یم، دا چې ستاسو سره مې تماس ونیولو، تفصیلي خبرې مې درسره وکړې، خپلې ستونزې مې درسره شریکې کړې، بیا هم وایم د وخت جبر و، یا د کومې ګناه سزا به مې وي او یا هم برعکس د کومې نیکۍ له وجې یا هم کوم چا د دعا په برکت، له ماسره د لیدنې او خبرو کولو به په تاسو د الله ج ځانګړې رحمت شوی وي، خو هر څه چې و،

کني ستا په شان اشخاصو سلام ته مې نه عليک وېلی او نه يې وايم، ولوکه د ميلياردونو په مقابل کې هم وي، البته دا منم چې واده کول يو الهي حکم دی، د محمد (ص) سنت طريقه ده، انشاءالله هرو مرو به دا الهي حکم او محمدي سنت خپله هم مرعاته وم، له دې کبله کوم څه چې مشروع وي په کوم څه کې چې ثواب وي، دهغه يادونه يا يې له چا پشنهاد کول نه ګناه ده او نه هم شرم، له دې کبله زه ستاسو د پيشنهاد په کولو کوم عتراض نه لرم، خو دا پکې شرط دي چې د نکاح لپاره بايد يو واقعي او شريف انسان سره نکاح وشي، مګر ته دې د وجدان په اينه کې خپلې څېرې ته يو ځل ځير شه، په خپلو کړو وړو، انسانيت دې تجديد نظر وکړه، زه باوري يم ځان به دې خپله د انسانيت، اسلاميت، افغانيت، پښتون ولی، ننګ، غيرت له دايرې بهر ووينې ښاغليه! له يادو اصلونه چې يو هم چا کې وجود ولري، په هېڅ صورت يې وجدان اجازه نه ورکوي چې ستا په شان دخپلو کالونه کالونه جنګ ځپلو، بې سر پنا، وږو تږو در په در هېوادوالو دغربت نه په استفاده قصابي او يا هم ستا په اصطلاح د ځان وژنې مرکز ورته جوړ کړي، د ناچيز پيسو په مقابل کې يې د بدن خورا مهم او حياتي غړي ترې وباسي، د نورې دنيا وکړو ته ژوند پرې ورکړي، هغه هم په دومره بې همتۍ چې پښتو، پښتونولي ننګ، غيرت دې ټول تر پښو لاندې کړي، دبانک خون په نوم انساني قصابۍ کې دې په بوزدلانه ښه له پښتانو سره هم فارسي وايې، د سمتې شمال يو شمېر خاينانو، غلو د فعلي موقت قدرت نه د سوء استفادې په پار ځان غيرې مستقيم تاجک پنجشيری معرفي کوې، د قصابۍ د دروازې له پاسه

دي د احمدشاه مسعود تصویر د پوزي غوڅېدو بله لویه بېلګه ده، بناءً ته دي ځان ته د ژوند د ملګرتیا لپاره د ځان په شان یوه نجلۍ پیدا کړه، چې فقط پیسې وپېژني، د پیسو په مقابل کې د انسانیت هېڅ اصل ته ژمنه نه وي او نه له چا حیا ورشي، نه یې په چا ترحم وشي، نه یې د ایمان په زوال وویرېږي، په ما کې د یادو اوصافو څرک نشته دا غوښتنه دې زما نه کاملاً بې ځایه ده ښاغلیه! ما که کله وغوښتل یا یې وخت راغلو د یو داسې واقعي بااحساسه، ژوندي وجدان لرونکي انسان سره به همسفر شم، څنګه چې زه یم، زما په شان ځانګړېنې ولري، ټولو انساني، اسلامي، افغاني ارزښتونو ته ژمن وي، نه تش په نوم یا هم تش په څېره انسان، جنابه! پس هیله ده خپل ځواب دې پوره پوره تر لاسه کړی وي! البته چې زړه کې دې بیا هم کوم څه پاتې نشي د وروستۍ خبرې په حیث هم که څه لرې؟ مهرباني آورم یې، کنه نور مې په الله پاچا سپارلی یې دا خوبونه دې ابو ته وایه!

که څه هم ما له دې مخکې هم د خپل کاروبار په اړه د یوه او بل له خولې په مستقیم او غیرې مستقیم ډول د ناروا یا حرامیت همدارنګه مرادرې سرمایه پیداکېدو خبرې او ګنګوسې اورېدلې، مګر ما به داسې انګیرله چې ګواکې ددوی نیت راباندې بد دی یا هم پرمختګ مې نشي زغملی، هېڅ کله مې دا فکر نه و کړی، چې دوی څه وایي، ښه وایي که بد وایي یا هم زما په ګټه وایي که په تاوان؟ یوازې او یوازې د دوی خوله ماتوونکی ځواب به مې کولو، ولې د (ثناء)

په خبرو کې خورا لوی اثر و، د نمورې لخوا ځان او خپل کار او بار ته تر متوجه کولو وروسته په خپل حال افسوز راغلو، یو ځل بیا یې وژړولم، نور د څه ویلو توان نه و راپاتې، ددې په اصتلاح اخیري خبرې په صفت مې په ډک ستوني او سلګیو یوازې دومره وویل:

- له شک پرته ستا د خبرو په شفافه هنداره کې ما ځان ډېر لوی ځناور ولیدو، لمن دې نیسم چې همداسې خوروړی ځناور مې خوشې نکړې، څنګه دې چې خپله اصلي څېره راته وښوده، په واپس انسانیت ته راګرځولو کې یې دې هم مرسته او لاسنوی غواړم، په ما ترحم وکړه ما وژغوره، که زه دزړه سوي قابل نه یم؟ څنګه دې چې وویل په مظلومو او یوه ګوله ډوډۍ پسې هلاکو هېوادوالو دې ترحم وکړه، کعبه شریف کې سر په سجده قسم درته کوم چې ستاسره تر وعدې وروسته به له هر ناروا کار نه لاس اخلم، لمړي قدم کې به د بانک خون په ځای د مسجد ودانولو کار پیلوم او له همدې لارې د دوی په وینو لاسه ته راوړې سرمایه به مې واپس په ببوزلو، بې سرپنا، کونډو، یتیمانو فقیرانو وغیره حاجتمندو وګړو تقسیمه وم آغلې!

په حیرانونکي او خوشبینانه انداز یې کړل:

- امم هممم خدای ج دې وکړي ژړا دې د زړه له تله وي ښاغلیه! د الله ج لخوا مې د هدایت په بهترینه تحفه دنازولو هیله درته پیدا شوه او بلخوا وعده درکوم لکه څنګه مې چې دخپلې کورنۍ د ژغورلو لپاره د ژوند په قیمت قرباني ته غاړه

کېښوده، که ډاډ مې تر لاسه کړو چې ربښتیا ځای نسي؟ اراده دې د زړه له تله ده، همداسې به خپله ځواني په ډېر ویاړ تر خپلو وربو، تربو، خوار او زارو کړېدلو هېوادوالو هم ځار کړم، حد اقل چې مقابل کې یې ستاسو د قصابۍ دروازه په مخ وترلی شم هم بسنه کوي. خو په هر حال د فعلاً لپاره دې اوښکې وچې کړه، که ژوند و، ممکن شل، پنځه ویشت ورځې وروسته یا هم د میاشتې تر اخیره هر کله مې چې لرې د سکون ساه واخیسته په دې اړه انشاءالله یو تماس بیا هم درسره نیسم، د اوس لپاره دې نور په الله ج سپارم، پاتې ورځ دې پخیر!

- قربان دی شم آغلی! سمده، زه به مو منتظر وم آغلې! هو ربښتیا ستا دې په خپله ځوانۍ قسم وي هغه پیسې پرې نږدې له بانک نه یې وباسه!

- صحیح شوه، خاطر جمعه اوسه!

- ډېره مننه نور تاته هم ښه وخت غواړم الله ج دې مل شه!

په همدې خبره یې تماس راقطعه کړو، خو سره ددې چې په راکړې وعده او انعطاف ښودلو یې ډېر خوشحاله شوم، اما څنګه مې چې وړاندې هم ویلي یا به هسې ماته الله ج هدایت نصیب کړی و او یا هم واقعاً په خوله کې ډېر لوی جادو و، څومره چې وخت وتلو له خبرو یې زیات متثره کېدم، نسبت زما کړو وړو ته خپله څبره مې ډېره بدرنګه لیده ان تر دې چې د وخت په تېردو سره مې ببخي له ځانه کرکه کېده، حتا د الله ج له لوري مې هره لحظه د یو قسم اسماني تندر

راباندې پرېوتو او عذاب وېره کېده، خو په هر حال، همدې درون کې مې د رامنځ ته شوي انقلاب او ګډ وډۍ سربېره، د راکړې وعدې لمخې د ثناء زنګ ته د انتظار شپو ورځو شمارلو ترڅنګ ورځنۍ چارې هم مخ ته وړلې، که څه هم زړه خو مې غوښتل چې سر له همدې ننه د بانګ خون دروازه بنده او د ثناء په اصتلاح د قصابۍ له کار او بار سره مخه ښه وکړم، اما بیا هم تر زنګ وهلو مې یې څه محدودیت پکې راوستلو سره خپل کار جاري وساتلو، ډاکتره نرګیس په دې ورځو کې نه وه، هرات ته تلې وه، کله چې راغله د ثناء د نرمښت او خوشبینۍ راکولو زېرى مې پرې وکړو، لمړى خو یې نه منله، کله یې چې ومنله کړل یې:

- واقعاً ستاسو د مور دعا نړۍ اړخ په اړخ کوي!

- ما خو هسې نه درته وېل چې ته یې له ماسره رخ کړه، همدا د مور په دعا ډاډه وم، بل کوم مورِ داسې نیک کار کړى چې له الله ج د یو خیر امید پرې وکړو؟

- ستاسو مور ته دې سلام وي، چې دا شین د صحرا کاڼي یې نرم کړو، په ولي توب کې یې هېڅ شک نشته!

- مننه ډاکترې! البته تنها زما نه، بلکې د هرې مور دعا د اولاد په حق کې همداسې جادوګر رول لوبوي، خو چې دعا یې له زړه واخیستل شي!

ډاکترې کړل:

- که څه هم په دې اړه مې اوربدلي و، مګر نن مې عملي ولیدل، اما افسوز تاسو داسې وخت زه په دې راز یقیني کړم چې...

نور یې د جملې له بشپړولو ډډه وکړه، سترګې یې راډکې شوې.

زر مې ورغبرګه کړه:

- ستاسو مورجانې ته دې الله ج جنت فردوس ورکړي، خیر مور او پلار که وفات هم وي، د دعا برکت یې له اولاد سره وي. په همدې خبره مې یخچال ته لاس کړو د یوې یخې انرژۍ ورته نیولو سره مې زیاته کړه:

- واخله دا وڅکه داسې یو چکر د چمن او ګلانو خواته ورچکر شه!

- نه څکم ددې اشتیا نه لرم!

- واخله دا عصاب ارامه وي!

مخ یې راوړولو د انرژۍ قوطی یې رانه ورواخیستلو نور همداسې پټه خوله پسې وروتله.

د څو لحظو تر تېرېدو وروسته زه بیا دثناء خیالونو له ځان سره لاهو کړم، خو په هر صورت، چې کیسه ډېره اوږده نشي، بلاخره له وعدې راکولو څلورم، پنځمه ورځ پس ثناګۍ زنګ وکړو، زړه مې ښه شو، چې اوکې مې کړو تر سلام وروسته یې په لنډو کې کړل:

- ښاغلیه! ستاسو پیسې مې واپس د مبایل په شماره دې درته واستولې، ما ته یو سابقه جندرال چې د پلار مې ملګری و له لندنه حواله وکړه، ستاسو پیسو ته اړتیا پیدا نشوه!

- خیره خو دا دې هم درسره وی!

- مننه! البته کومه وعده مې چې درسره کړې، یاد مې ده، څنګه مې چې هغه ورځ درته ویلي، زه لږ ارام پیدا کړم، انشاءالله زنګ درته کوم، نور ښه وخت ولرې!

- تاسو هم ښه وخت ولرئ آغلې! زه به مو زنګ ته منتظر یم!

- مطمین اوسه!

کړنګ تماس پرې شو، که څه هم څنګه چې دې ووېل په زنګ وهلو یې مطمین وم، ځکه د مهرا په خبره کومه وعده به یې چې وکړه بیا یې عملي کوله، خو لا هم لنډه یې دا چې دوې هفتې تېرې شوې، زنګ یې رامعلوم نشو، په داسې حال کې چې زما د تشویش زیاتېدو سره، سره جسمي او رواني حالت ورځ تر بلې د خرابۍ خواته تلو، د بلګې په ښه همدې ورځو کې یوه ورځ له دفتر نه راووتلم، دهلېزه کې مې په منیجر بلال سترګې ولګېدې سلام مې ورکړو دحال احوال پوښتنه مو سره وکړه، وړاندې تېر شوم، زینو ته مې ځان سیخ کړو، دوهم منزل کې د ډاکتر فریدون سره ودرېدم د مجلس اخبر کې یې کړل:

- ریس صیب! ناروغ خو به نه یې رنګ دې زېړ شوی؟

- نه الحمدالله ښه یم، خدایزده چې ثنګه زبږ درته ښکاره شوم!

زړه کې راتبره شوه: سریه! لکچې د ثناګۍ مینې دې ځوانۍ ته اور ورکړو!

خلاصه له دې وروسته به همکارانو، ملګرو، همدارنګه د کور دغړو لخوا وخت ناوخت انتقاد راباندې کېدو، چا به وېل: اشتیا دې ورکه شوې هسې ډوډۍ نخورې، چا به وېل: ریس صیب! ببخي خاموشه شوی یې او همداسې نور، جالبه یې پکې دا وه، چې یوه ورځ د بانګ حاوېلۍ کې چمن ته مخامخ په پوله ناست وم، غازي مې له خندا ډکه خوله ثنګ ته راغلو کړل یې:

- ریس صیب! اوربدلي مې و چې پیسې زیادې شي، صاحب یې لیونی کېږي، خو نن مې په سترګو ولیدل!

- ثوک لیوني شوي؟

لاس کې یې مبایل نیولی و مخ ته مې یې راسم کړو، ویدیو یې پکې پلې کړه، چې کتل مې ظالم د خپلې غرفګکې له کړکۍ نه زما ویدو کړې وه، د ځانه سره اخته یم، شونډې مې خوځېږي غږېږم، کله مسکی شم وخاندم، کله لکه سیاسي شنونکی له خبرو سره ښه په جوش جوړه لاسونه خوځوم، د ویدیو په لیدو هم وشرمېدم، هم خندا راغله، د غازي لاس مې پرې تاو کړو مبایل مې تر واخیستو د ګوابښ په بڼه مې ورته کړل:

- چې له دې مبایل نه دې خلاص نکړم، ته بل شان نه سړی کېږې، دا ټول ستا له لاسه، اوس لا ویدیوګانې هم کوې؟

غازي پوهېدو چې ټوکې راسره کوي، ربښتیا یې نه رانه اخلي، ولې بیا هم د خندا سره سره یې اوزر زارۍ کولې:

- ما څه کړي ریس صیب!؟ ویدیو مې صرف ستا لپاره وکړه، بل چا ته خو یې نه ښکاروم، راکړه چې ډیلیټ یې کړم!

- ته لا مبایل هم غواړې؟ چې حلال دې کړم، کمه به وي، کوږخ پړوخ به دې اېښی و اخیر دې په غم واړولم مین دې کړم!

په دې سره یې لمړی وخندل بیا یو دم نیغ ودرېدو، تندی یې کش، شونډې یې غونډې کړې، په اوږده آواز یې کړل:

- اوووو ربښتیا ریس صیب! نصیب دې نه و، پرون مازیګر چې ولاړې سخت یو مال راغلو!

د خندا په ساتلو سره مې ورغبرګه کړه:

- هغو ته بلا وهلې وې، چې دغورفګکې له کړکۍ دې غلی یو عکس راته ترې اخیستی وی، فقط له مورږ نه ښې ویدیوګانې کوې!

شنه خوله یې و نیوله:

- کار یې نه دی، خلاص نن بیا راځي ته دا مبایل راکړه که مې درته ترې وانخیستو.... نور خبره ترې ولاړه خندا پسې مچې کړو!

زه یې هم وخندوم اخېر کې مې پسې زیاته کړه.

- امممم پوهېږم د مبایل اخیستو ته دې لاره جوړه کړه، بې غمه اوسه، منه که دې رانه اخیستی و!

بلاخېره تر مازیګره مې پرې وځورولو، مازیګر مې ویدیو ترې حذب کړه، مبایل مې یې ورکړو.

لنډه دا چې دریمه هفته هم راورسېده، د ثناء د زنګ درک ونه لګېدو، که څه هم وېل یې چې ممکن شل، پنځه ویشت ورځې وروسته یا هم د میاشتې تر اخیره تماس درسره ونیسم، خو د دریمې هفتې په رارسېدو سره زما ببخې طاقت ورک شو، زړه کې به مې بار بار راګرځېدل چې د هغه خصوصي روغتون نرسې مهرا ته زنګ وکړم، ترڅو د ثناء سره تماس کې شي چې ګویا څه شوې؟ سرې دې په انتظار شنه لوخړه کړو. ولې بیا به مې لاهول ولاقوت... وویل ځان ته به مې تسلې ورکړه، چې ګواکې په خوله یې راته ووېل لمړی خو ممکن همدې شپو ورځو کې زنګ وکړي، کنه یوه میاشت باید صبر وکړم، بېچاره ډېرې ستونزې لري، کېدی شي د ورور قصیه یې جنجالي شوې وي، وخت یې نه وي پیدا کړی!

همدا و چې مهرا ته د زنګ وهلو له پرېکړې به تېر شوم، اما له بدمرغه اوس به مې چې ځان ته ډاډګیرنه ورکړه، نیم ساعت وروسته به بیا اور راباندې بل و، کله به سوچ کې راتېره شوه: داسې نه هغه ظالمانو غلو ته په لاس ورغلې وي، یا هم هسې نه ورور یې راخلاص شوی وي، ترکیه ته تللې وي او دې ته ورته ډېری نورو وسوسو مې له ذهن نه د آتنې میدان جوړ کړی و، همدا و چې د مرستې په پار مې یو ځل بیا د مخابراتي شرکت کارمند ملګري قلندر ته زړه ورښه کړو، مازیګر ځلور نیمې بجې وې، له بانګ خون نه د وتلو سره سم مې یې شماره داېره کړه، د زنګ ورسېدو سره جوخت یې اوکې کړو، تر لمړني سلام جوړ پخیر وروسته مې ورته کړل:

- چېرته یې؟

- نن شرکت کې نوکري یم ولا!

- ښا ښه یې چې نوکري یې درغلم انشاءالله یو لس دقیقې وروسته در رسېږم.

- راځه الله ج دې راوله ما به تر هغو ښه نشه یې، شین چای درته دم کړی وي.

- اووووو ستاسو خو دې د ښادي دا ډېر چای شي، چې مېلمه پرې شنه غړکه کړئ!

ښه په کړس یې وخندل پسې زیاته یې کړه:

- نو څه غواړې نس پړسه! تازه میوه صحيح ده؟

- اې! خدای ج دې حاجي کړه، داسې خبره وکړه په خوړلو نه کمېږي!

دواړو وخندل همدې خندا کې مو تماس هم خپله قطعه شو، مبایل مې جیب ته کړو، حرکت مې وکړو، په لارو ګڼه ګونه وه، بلاخره لس پنځلس دقيقې وروسته ور ورسېدم، ډېرې وخت به ورتللم له دې کبله دشرکت ساتوونکو تر یوې اندازې پېژندم، پرته له تلاشۍ یې د چکپاینټ میل جګ کړو مخه یې راکړه، موټر مې دشرکت پارکینګ ته ننه ایستلو، ما زینې په خوله ورکړې دریم منزل کې مستقیماً د انجینر قلندر اتاق ته ورغلم، تر سترې مشې، حال احوال اخیستو وروسته یې یو لوی پلاستکي قاب له یخچال نه راښکته کړو، مڼې، ناک، شفتالو، ام ... شپږ اوه نوعه تازه میوه پکې وه، مخکې مې یې د اېښودو سره سم په خندا سره کړل:

- اممم وخوره، خو لږ احتیاط کوه چې خون دې را له غاړې نشي.

ما هم خندا کې کړل:

- فکر کړم کوم کارمند له وطنه درته راوړې، تا کې خو دومره جرئت نه وینم چې پیسې دې پرې ورکړې وي!؟

د خندا په ساتلو سره یې راغبرګه کړه:

- دا ستا ریاست نه دی، چې د مورېک لکۍ نه پکې سپېرېږي، زما یخچال تل له موسمي میو ډک وي!

همداسې د ټوکو ټکالو له برخې وروسته د خپلو کارونو په اړه سره وغږېدو اخېر کې مې ورته کړل:

- هغه قرضدار خدای ج وهلي خو مې زنګ اوکې نکړو، اوس نه بل زنګ ورځي نه یې ځای رامعلوم دی، ته وګوره که راته راپیدا دې کړو خو غټ کار به دې کړی وي!

قلندر د ثناګۍ د مبایل شمېره په (جي پي ایس) دستګاه کې ونیوله څو لحظې وروسته یې کارته سه کې د ریاست پاسپورت تر تعمیر سره دایره تاو کړه، قلندر مخ راواړولو:

- دا نفر خو فعلاً ریاست پاسپورت کې دی!

ورته کړل مې:

- کور به یې معلوم نشي، دلته خو تر څو ورځم هغه ځي؟

- اوس نه، تر څو کور ته ولاړ نشي نه معلومېږي، بېګاه ته کېدی شي!

- صحیح ده، خو زه ځم کار لرم، ته یې بېګاه ته وګوره چې پیدا دې کړو ماته یې بیا دهغې سیمې او کور عکسونه راولېږه!

- ته چېرې ځې؟ پاتې شه زه هم تنها یم ساعت به مو تېر شي!

- زما هم ولاکه زړه کېږي، نور کار نه لرم، اما له بېګانه چې کور ته ولاړ نشم، مور مې خورا تشویشي وي، ان تر سهاره خوب نه کوي!

- ته یې ماته نمبر راکړه چې زه زنګ ورته وکړم!

- نه مه ټینګېږه ته پرې ګران یې درسره وبه یې مني، مګر دا بیا هم خپل عادت کوي او بل فکر کړم پییرکیو (بولانیو) ته یې زړه شوی سهار چې راتللم غږ یې راپسې راوکړو: ماښام ته چې راتللې لږ ګندنه درسره راوړه، هغه به هم ور وړم!

- دا زموږ د شرکت مخکې یو کراچیوان ډېر ښه بولاني پخوي، له همدې نه یوڅو تیار پاخه وروړه!

- بازاري نه خوري وایې مردار دي، ګندنه نه مینځي، د پاڼو په منځ کې یې له ځای په ځای شوې مردارۍ سره بولاني کوي!

په خندا شو کړل یې:

- دا خو رښتیا وایي یوه ورځ یې زه هم داسې خراب کړم، هسې خدای مې پردې وکړې تر تشنابه ورسېدم، کنه نژدې و، چې د دهلېزه په سپینو کاشیانو مې زېړه لیکه راپسې ایستلې وه!

په دې سره دواړو ښه وخندل د خندا په وروستو کې یې پسې زیاته کړه:

- خدای ناخوسته که په ببو بد ولګېږي هغه خو منډه هم نشي کولی، بلخوا دومره لوی ګونځدار پرتوګونه اغوندي منه لکه دکچالیو په جویو چې ورخ اوبه ورورېږي هر ګونځه به یې...

ترڅو یې جمله تکمیلوه خندا واک ترې واخیستو، که څه هم ما ځان ټینګ نیولی و، غوښتل مې چې ونه خاندم، خو بیا هم په خوله مې واک له لاسه ورکړو، اخیر کې مې ورغبرګه کړه:

- ورک شه بې عقله راباندې ناوخته دې کړه، ولاړم!

- پاتې شه ډېر ښه ترکي د کباب منکل مو اخیستی ببګاه ته به دې د ښه وطني پسه د غوښو په کباب داسې شنه تنته کړم، چې ریاست کې دې بیا یوه میاشت هم ډوډۍ در ونه رسېږي موړ یې!

په خندا سره مې کړل:

- اووو ددې لپاره خو یوه ورځ سر له سهاره رحصت را اخلم، درباندې پور مې!

- ښا څه سمه ده نو!

په راجګېدو کې مې له قاب نه یوه بله منه هم لاس کې راسره راواخیسته، تر پارکېنګه قلندر هم راسره رانښکته شو، موټر ته دختلو سره مې خدای پاماني

ورسره وکړه، له موټر نه مې بیا غږ پرې وکړو: هووووو رښتیا ګوره لالا! چې هغه تصویرونه دې هېرنشي زه به یې په انتظار یم!

- په سترګو، ډاډه اوسه انشاءالله ماخوستن ته یې درته استوم!

- ژوند اوسې د بای بای په ویلو سره ترې راروان شوم، لاره کې مې له یوې کراچۍ نه لږ ترکاري مرکاري، د مور لپاره مې یو، دوې دستې ګندنه راسره واخیستله، کور ته د رسېدو سره سم، د ترکارۍ خلته مې خور ته تسلیم کړه، له دهلېزه نه مې اتاق ته وروکتل مور مې د ماښام په لمانځه لګیاه وه، غږ مې پرې وکړ موري ګنډنه مې راوړه، واپس راوګرځېدم حمام ته ننوتلم، اودس مې و، صرف په پښو مې لږ اوبه تېرې کړې، بلاخېره د ډوډۍ تر خوړلو وروسته مې مبایل د وای پای سره وصل کړو، چې ومې لیدل انجینر قلندر هم تصویرونه را استولي و، تصویرونو کې د چلسوتون د غره لمن ښکارېده تر یوه زاړه د خاورو او تیږو نه ودان کوچني کور سره دایره تاو وه، قلندر تر تصویرونو را استولو وروسته لیکلي و: سره دایره چې ترې تاو ده، همدا یې کور دی.

له قلندر نه مې مننه وکړه، هاخوا پوشتۍ ته مې ډډې ووهله، دمبایل صفحه کې تصویرو ته په کتو، د ثناء ښکلا، هوښیارۍ، تېز فکر د خبرو کولو ځانګړې جراریت استعداد او په خوا کې یې ددوئ غربت، دې زاړه وراسته خاورین کور کې زندګي کولو څو ساعته د فکر په ټالونو کې وزنګولم، ترځنګ یې هغه خبرې هم یاد ته راغلې چې ویل یې: ښاغلیه! زه د پیسو سره نادیده نه یم، هیله ده په اړه

مې هسې د یو چا ګومان ونکړې، ممکن په کتابونو کې یا له رسنیو یې دې نوم آورېدلی وي، زه د ډګروال اسد لور یم، همدارنګه د انجینر فرهاد او مولوي محراب خور یم، د ښار تر ټولو په ښکلې سیمه کې، د وخت په عصري امکاناتو او وسایلو، ظرفونو سمبال کور کې رالویه شوې یم، ولې دا چې ژوند هسکې ټیټې لري او نن یې تر ټولو په ټیټه سطحه کې یم...

خلاصه دا ټولې هغه خبرې وې چې تر ډېره مې یې فکر مغشوش کړی و، البته د کور او سیمې له معلومولو مې یې کوم خاص مطلب نه و، هسې مې تلوسه وه، خو په هر صورت لنډه یې دا چې شپه تېره شوه، سبا سهار تر چای خوړلو وروسته جګ شوم، په مور مې غږ وکړو:

- مورې بانک ته ځم څه شی خو به دې پکار نه وي؟

- وااااای زویه! ښه و چې رایاد دې کړل، د معدې ګولۍ مې خلاصې دي، ماښام ته چې راتللې دوه پاوکټه درسره راوړه!

- ښا سمده مورې له یوه نفر نه مې د بېرې شات (عسل) هم درته راغوښتي هغه هم په معده ښه لګي!

- تر مراده شې زویه! خدای دې وساته!

- ستاسره مننه مورې! خدای پامان لاړم!

- ځه خدای ج دې مخه وچلوه!

له همدې سره ترې راروان شوم، په لارو مې فکر بیا په ثناء چاپه ووهله، لنډه دا چې له وېلو یې زیات ناکراره کړی وم، د ثناء زنګ ته په خورا تلوار او تلوسه شپې ورځې انتظار تېرولو باوجود، څنګه مې چې وړاندې هم وېلي په راسره کړو خبرو کې یې بلا عظیم اثر و، زما په سر، زما په زړه، زما په درون کې یې ډېر ستر بدلون او انقلاب رامنځ ته کړی و، ان تر دې چې مخکې به کوم مجلس کې کېناستوم، حتا د ښار په ګڼه ګوڼه کې به چې روان وم، زما موټر، لباس، سرمایه، کاروبار همدارنګه ریسۍ ته په کتو ځان به مې تر هر چا لوی او بهتره احساسه و. ولې د ثناء له خبرو وروسته د خلکو ټولې کې ځان داسې راته ښکارېدو لکه د انسانانو منځ کې چې یو لوی داړونکی ځناور ناست یا روان وي، همدارنګه د بانګ خون دروازې ته به چې ورسېدم، د ثناء هغه خبره به مې ذهن ته راغله چې وېل یې: انساني قصابۍ کې دې دبغیرتۍ له انتها په بزدلانه بڼه د پښتنانو سره هم فارسي وایې، د دروازې له پاسه د احمدشاه مسعود تصویر دې د شرم په نوم څه نه پېژندلو او پوزې پرېکېدو بله لویه بېلګه ده، همداسې بانګ ته به د بډوډو پلورلو لپاره اکثریت داسې ښځې یا سړي راتلل چې له بدحالۍ به یې لکه د پوډریانو ببر سرونه، خیرنې زړې جامې، شکېدلي بوټ یا به یې پلاستیکي چپلکې پښو وې، شونډو به یې پترې نیولي و، وچې وچې مظلومانه سترګې به یې غړولې، پخوا به مې داسې کسان له خدایه غوښتل ان د

بانک له عمومي دروازې پنځوس متره لرې به مو چې سترګې پرې ولګېدې غازي به مخابره کې خندنی، خندنی کېدو د زېري کولو په پار به یې وېل: «باز آمد فکریت است ریس!؟»

ما به یې هم په همداسې تو کیزه الفاظو خوشحالي ورسره ولمانځله، ولې د ثناء سره تر تماس وروسته به بانک ته د داسې کسانو په راتلو سره د ثناء هغه خبرې هره یوه جلا جلا په ذهن رااورېده چې کړل یې:

- په چا کې چې د اسلامیت، انسانیت افغانیت، پښتونولۍ، ننګ او غیرت له انساني ارزښتونو له جملې یو هم وجود ولري، وجدان یې په هېڅ صورت اجازه نه ورکوي، ترڅو دناچیز پیسو په عوض کې د خپلو کلونه کلونه جنګ ځپلو وږو تږو در په در هېوادوالو له غربت نه په استفاده د دوئ بډوډي ترې وپېري، د نورو هېوادونو اتباعو ته ژوند پرې ورکړي. همدا و، چې په لیدلو به مې یې سترګې راډکې شوې، ژړا به راغله. بلاخره دتسکین لپاره به مې خپل ګرېوان کې د لعنت لاړې تف کړې، که څه هم د بانک د کارمندانو په وړاندې د نامعلوم دلیل له مخې مې له مشتریانو د ګردو پېرلو کار متوقف کړی و، یوازې د وینې پېر او پلور مو کولو، ولې بیا هم ډېری ګرده پلورنکي مشتریان راتلل، خو د غازي خبره کوم باز یعني خورا مجبوریت رااخیستی کس به چې راغلو ریاست ته به مې راوغوښتلو، غلې به مې دوه، دری لکه افغانۍ جیب کې ور واچولې رخصت به مې کړو، البته په دې کې جالبه دا وه، همدې وخت کې یوه ورځ تقریباً

يوه ځوانه ښځه راغله دې هم غوښتل چې خپل بډوډی وپلوري، کيسه يې اوږدېږي صرف دومره به ووايم چې نمورې ښځه کونډه وه، درې واړه اولادونه ورپاتې و، خپل مشکيلات او پيسو ته اړتيا يې سلګيو، سلګيو کې په خورا دردونکو الفاظو تر نيمايي بيان کړل، نيمايي کې مې خبرې پرې بندې کړې، باور وکړئ نور مې يې د اورېدو توان نه لرلو، د مېز روق مې راکش کړو د درې نيم لکه فغانيو په مېز ايښودو سره مې ورته ووېل:

- امم ګرده دې مه خرڅوه دا پيسې همداسې رايګان يا په صدقه کې درسره واخله خپل مشکېلات دې پرې حل کړه!

ددې خبرې سره ښځه له خوشحالۍ کږه وږه شوه، درب خوره وره په ځمکه راپرېوته ضعف يې وکړو، سم يې ورخطا کړم، چې مړه نشي، زر مې ډاکترې ته حوال ورکړو، ډاکتر وحيد مې هم راوغوښتلو، دوئ يې له رارسېدو سره سم فشار چک کړو، ډاکتره پرې لګياه شوه لمړی يې پښې راکش کړې په ځمکه يې آواره کړه، بيا يې مخ او غاړې ته يخې اوبه ور وپاشلې، څو دقيقې وروسته يې سترګې راوغړولې، سم دلاسه راکيناسته زر زر يې ټيکری په سر راکش کړو ځان يې پکې ونغاړلو، څو لحظې نوره هم وه، پسې جګه شوه، وېل يې ښه يم، خو بيا هم ډاکتره تر عمومي دروازې ورسره ولاړه روخصت يې کړه، دې ته ورته هر غريب او مجبور کس ته به مې چې پرته د کرُډې ترې پېرلو پيسې ونيولې له خوشحالۍ به يې عجيب او غريب حرکات له ځان وښودل، خبره اوږدېږي، کنه د

یو بل پوخته ساله سړي واقعه هم ډېره دردونکې وه، خو په هر حال خلاصه زما په فکر او کړو وړو کې د رامنځ ته شوي تغیر او ګډوډۍ سره د مبارزې سربېره، مې د ثناء زنګ ته هم دقیقه په دقیقه د ترخه انتظار شیبې شمارلې، په داسې حال کې چې د راسره کړې وعدې وروستۍ نیټه یې هم نور په رارسېدو وه، د میاشتې پوره کېدو ته د ګوتو په شمار څو ورځې پاتې وې، خو له بدمرغه نه پوهېږم اته لسمه که نولسمه ورځ وه؟ سهار وختي د مخابراتي شرکت کارمند ملګري مې انجینر قلندر زنګ راته ووهلو، د زنګ له اوکې کولو سره جوخت مې غږ پرې وکړو:

- بلې سلام علیکوم!

قلندر پرته له دې چې سلام ته مې جواب راکړي فوراً یې کړل:

- لعنت پر ما چې تا غوندې سړي ته مې ملګری وېلې، ایا ته ماته ددې لپاره راغلی وې؟

که څه هم له غږ نه یې ښکارېده د هلک له غوسې تر پوزو شین دود ختلو ما ته یې نوبت نه راکولو خبره کې یې ورولوېدم:

- ته څه په ګډو وډو سر یې وسړیه!

- په ګډو وډو هم زه سر یم؟ عالم یو دبل قرضدار دی خو داسې جک چا نه و وهلي، افسوز چې زه دې ګناه کې نه وی درسره ګډ کړی، زما له باور او ملګرتیا

دې داسې پست استفاده نه وی کړې، قسم ده که دې یو رګ د مسلمان وي، یا د انسان تر څنګ تېر يې...... قلندر پسې اوږده کړه، دا چې زما هم ان له ځایه طبعیت ساز نه و، نور مې نشوی زغملی خو ښه و، موقع يې رانکړه تلفون يې راقطعه کړلو. مبایل مې واپس د بالښت تر څنګ کېښودو، حیران وم، چې دې سړي نشه کړې وه، بل څه کیسه ده؟ تر ډېره همدې فکرو کې ډوب وم، بلاخېره تصمیم مې دا شو چې مازیګر ته به دبانګ لخوا همداسې پرې راځم هر څه چې دي، هغلته لنډ به ځان ورسره پوه کړم، نور راجګ شوم، اګر چې لمونځ مې کړی و، خو بیا ویده شوی وم، سترګې مې خوبوړې وې، په برنډه دست شويۍ ته ودرېدم مخ ته مې يو دوې لپې یخې اوبه واچولې، په ویښتو مې لوند لاس کش کړو، د مور د پوښتنې او خدای پمانۍ په پار يې اتاق ته ورننوتلم چې ومې لیده مور مې سر ایښی و، ویده ښکارېده، ځان مې پرې پوه نکړو واپس غلی راووتلم موټر مې چلاند کړو د بانګ خون په لور مې حرکت وکړو، د لارې په اوږدو کې د تل په څېر د چای خوړلو په پار برګ سبز روستورانت ته ور وګرځېدمه، د روستورانت کارمندان راسره بلد و، پرته زما له وېلو يې يو ګیلاس ښه شيدې چای سره د يو وړکی قاب پیزا مخکې کې راته کېښوده، په بسم الله سره مې يې په خوړلو پیل وکړو، نیمايي ته مې لا نه و رسولی، چې رستورانت کې ناستو کسانو په خورا خواشينۍ سره نځه، نځه نځه... کول تلويزون ته ځیر و، چې کتل مې نور خبر تېر شوی و، پکت د ثناء دوئ کور ته ورته يو زوړ کور مې ولیدو اور يې اخیستی و، له کړکیو يې لمبې راوتلې، او دا سیمه هم لکه قلندر يې چې

تصويونه رالېږلي و، همغه د چلسوتون د غره لمن غونډۍ راته ښکاره شوه، زړه کې مې وېل، قسم ده يو ځل به د ثناء دوئ کور وي، د قلندر دوئ لاره خو همداسې په چلسوتون ده، ممکن دثنا دوئ کور يې په دې حالت ليدلی وي، هاورځ يې چې ما په جي پي اس (G.P.S) ادرس ترې واخيستلو، شايد اوس ده ګومان کړی وي، چې په دې کار کې به زما لاس وي، ځکه به غوسه و؟

خو دا چې زما خبر ته پس ور پام شو، ترڅو سم ورته متوجه کېدم د تلوېزون په صفحه تصوير واوښتو، شک مې پرې وکړو پوره ډاډ من نشوم چې حتماً به دثنا دوئ کور وي، څنګه ته يو نفر نه مې پوښتنه وکړه:

- دا څه چل و؟

- د چلسوتون په ساحه کې د شپې يوه کور ته مسله کسان وراوښتي، لمړی يې د کور غړي په ډزو وژلي، بيا يې ګرنيټ وراچولي، ددې سره کور اور خيستی دکور دغړو جسدونه او دکور وسايل هر څه پکې سوي!

ددې خبرې په اورېدو مې لاس او پښې مړه پړه شول، جوړه کړې ګوله مې قاب کې رانه پاتې شوه، څو دقيقې نور هم حيران بريان ناست وم، لاس او پښو کې مې چې لږ ساه راپيدا شوه، طاقت مې ونشو، پسې ور راوان شوم، چلسوتون ته په رسېدو سره مې له لاندې سرک نه سترګې پرې ولګېدې، شک مې په يقين بدل شو، د ثناګۍ دوئ کور د شنو کفارو ځناورو له لاسه د کورونو منځ کې د

اور په لوګيو پټ تک تور ښکارېدو، موټر مې د سرک غاړې ته ودرو، د سیوچ بولټ له پاسه د کاغذي دسمالونو له قوطي مې دسمال راکش کړو، اوښکې مې وچې کړې، ځان مې کابو کړو، له موټر نه رابښکته شوم، د کورنو تر منځ په توندو زینو کې پاس ور وختم، چې کتل مې د ثناء دوئ د کور د دروازې دواړه پټې په مخ خلاص و، خلک پکې وتل ننوتل، د حاوېلۍ منځ کې له قده ټيټ، يو هزاره سپينږيری اخته و، د ګرنيټ له درز سره د ماتو شويو ورونو او کړکيو راوار شوي لرګي يې ټولول، وړاندې ورتېر شوم په برنډه باندې څو نور نفر هم ولاړ و، له تورو دود وهلو کړکيو يې د اتاقونو منځ ته ورکتل، د غولي په منځ ډنډ، ډنډ وچو شويو وينو او کور د سوزېدلو سامانونو ايرو ته يې د همدردۍ نخه، نخه، نخه کول، په دې وحشت ناکه صحنه د سترګو لګېدو سره زما سر وګرځېدو، هغه و چې لوېدم زر راشاه ته شوم، دروازې ته څېرمه د دېوال خواته کېناستم، که څه هم موټر کې مې وېل، چې هر څه و، ځان به کلکه وم، ترڅو ژړا رانشي، خو له بدمرغه نشوه، سره له ټول فاميله يې د کابل ښار شهيد شوي مشال ثناګۍ څېره او د راسره کړو، خبرو لفظ، لفظ ذهن ته راتلو اوښکې مې يې بهولې، هاخوا د ماشومانو تر منځ د يوه خواشني ولاړ ځوان راپام شو، کرار کرار ځنګ ته راغلو سلام يې راواچولو، له جوړ پخير وروسته يې کړل:

- دا خلک دې پېژندل؟

- نه هسې مې زړه پرې بد شو، ډېر لوی ظلم ورسره شوی!

- هو ولا ظلم يې مه کوه، دا مخامخ کور زموږ دی، په سترګو مو ورته کتل ډېره سخت ظلم يې ورسره وکړو، افسوز زما هم څه وس کې ورسره ونشول سلاح نه لرم، يوازې يو دوې چيغې مې پرې وکړې، هغه يې هم ذربه راباندې وکړه، هاا دکړکۍ شيشې وينې چې ماتې دي؟ دا يې ټولې راتويې کړې، اخ کاشکې زما لاس کې يو شی وی، ولاکه خو دوی هم همداسې سلامت رانه تللي وی، فقط لکه د خپل کور خلک مې يې چې وژلي وي، ډېر سخت پرې ودردې دم، کني زيات شناخت مې هم نه ورسره لرلو يوه، يوه نيمه مياشت کېده چې دلته راغلي و، دا کور يې په کرايه نيولی و، خو ډېر آرام خلک و. د کورنۍ يو ځوان يې بندي و، هغه بدبخته هم پرون راخلاص شو، ډېره ښايسته عاليمانه څېره يې لرله، د بدو سړی نه ښکارېدو، خو والله علم چې په څه جرم به بندي و؟ مازيګر ناوخته يې بېچاره کور ته راوستلو، اما ظالمانو يوه شپه هم پرې نه ښودو چې د خپلې کورنۍ سره يې په ارام تېره کړې وی، سهار يې چې پولسو تک تور سوي او غلبيل غلبيل جسدونه راويستل، هغه بندي ځوان يې خدايزده چې ببخې ډېر ويشتلی و، که د ګرنيټ پارچو وهلی و؟ بدن يې په منځ دوه ځايه وه، سر او سينه يې يو ځل راويستل، پښې او نوره تنه بل ځل.

د هلک له خبرو داسې انګېرل کېده، لکه پيښنه کې چې ان د قاضي يا د محکمې د کوم بل غړي لاس وي، يعني له غلو يې پيسې اخيستې وي يا هم د کوم او وسطې لمخې د ثناء د ورور آزادولو په ورځ يې غله پرې راخبر کړي وي او له

شناخت

شانه یې تعقیب کړی وي، خو هر څه چې و، الله ج پوهېږي، هلک ته مې د زړه له درده تر لوی اوسیلي وروسته ورغبرګه:

- افسوز د اشرف غني د خدای ج کور ګډ کړي لا ددې پاچاهۍ سره، چې تخرګ کې یې داسې وحشتونه ترسره کېږي، مخنوی یې نشي کولی!

- اشرف غني بېچاره نه دی ملامت، هسې سمبولیک د تاریخ د بدنامۍ او خلکو د ښکنځلو لپاره یې مخکې کړی، واک دشمالي ټلوالې او جنګ سالارانو دی، هغوئ قصداً همداسې، وحشیان، غله، قاتلین او مجرمین روزي حمایت ترې کوي!

- هر څوک چې دي خدای ج دې ددې مظلومانو حساب ورسره وکړي!

په همدې سره مې له هلک نه اجازه راواخیستله، ډک زړه، نمجنې سترګې او په ستوني کې ولاړو سلګیو سره ښکته ترې راروان شوم، موټر ته په رارسېدو سره، د سرک په غاړه یوې کراچۍ ته ولاړ چپس فروش په جګ آواز د عبدالله مقري هغه سندره پلې کړې وه، چې وایي: ارمان دی ارمان دنیا فاني ده، هر چا نه پاتې ښکلې ځواني ده....

فقط تا به وېل مقري صاحب همدا اوس د ثناء د ځوانۍ په وېر ویلې، موټر ته وختلم شیشه مې ښکته کړه د څو لحظو لپاره ورته غوږ شوم، د سندرې تر ختمېدو وروسته مې موټر کې کلي تاو کړه، حرکت مې راوکړو، که څه هم سهار

له کوره د بانک ته تلو په نیت راوتلی وم، مګر ددې واقعې په پېښېدو سره مې وضعیت ډېر سخت خراب شو، دری برخې سر مې کار نه کولو، بانګ ته د تلو توان او حوصیله نه و راپاتې، همدا و چې د ګذرګاه په پله راوګرځېدم، د کور طرف مې ونیولو، دهمزنګ کې د ډېرې فکر خرابۍ او عصابو د کار نه کولو له وجې مې د سرک ترڅنګ دپولسو له جدول سره د موټر پوزه ووهله فقط یو درڅ مې واورېدو مخ ته راولوېدم سینه مې په جیلب ولګېده، ددې سره مې ضعف کړی و، یو دوه ځوانانو کارت سه کې یوه شخصي روغتون ته وړی وم، کور یې دې ودان وي، زه هم ډېر نه وم، خوړ د سیروم بسته کولو سره سم په حال راغلم، نمورړي ځوانان لا نه و تللي، زما د سترګو راغړولو سره خوشحاله شول ویل یې:

- موټر دې ټکر کړو ضعف وې دلته مو راوړلې ستا د مبایل نه مو ستاسو د دوستانو له جملې یوه نفر ته زنګ ووهلو سهار یې خبرې درسره کړې وې نمبر یې اوکې کې و، انشاءالله اوس به درته راورسېږي، ته خو الحمدالله ښه یې که اجازه وي موږ درنه ځو؟

له نمورو ځوانانو مې ډېره ډېره مننه وکړه، جیب ته مې لاس کړو دری زره روپۍ مې ورته ونیولې زیاته مې کړه:

- ټکسي مو چې پرې رانیولې دا پیسې یې درسره واخلئ، هلکانو وخندل په روانېدو کې یې کړل:

- پيسې دې جيب ته کړه پکت دعا کوه، د يوه هېوادوال په صفت دا دې په موږ حق و، ولاړو د خدای پامان، هر څو آوازونه مې چې پسې وکړل هلکان ولاړ، څلور پنځه دقيقې يې لا نه وې وتلې چې قلندر ډېر ورخطا د بسترخونې په وره راننوتلو، په ليدلو يې ماته هغه د مشرانو خبره ياد ته راغله چې وايي: اصيل ملګرى که هر څو خپه شي بيا هم پرې ډاډه اوسه په بده ورځ دې يوازې نه پرېږدي.

خو په هر حال د قلندر چې سترګې راباندې ولګېدې موسکى شو کړل يې:

- الحمدالله ته خو جوړ او روغ يې له ماسره دې چې له مبايل نه ناشناخته کس وغږېدو له واقعې يې خبر کړم باور وکړه که تر دې ځايه په لاره ببخي پوه يم!

- نه شکر رک روغ يم، سينه مې په جيلب ولګېده فکر کړم زړه مې ودرېدو ضعف مې کړى و.

- اوس دې سينه درد نه کوي!؟

- نه، نه هېڅ فکر نکړم چې زما سينې دې ذربه خوړلې وي!

- الحمدالله کنې ما خو وېل: چې ولاړو سړى د هغه مظلومانو آزار ووهلو، که ژوندى هم وي، تر مرګ به بتره وي!

ورغبرګه مې کړه:

- هووو رښتیا سهار زه پوه شوم چې ته په څه غوسه یې، ماویل زه به مازیګر شرکت ته درځم، په والله باالله که دې کار کې زما لاس وي، ما فقط دا بد وکړل هغه ورځ چې ستا نه مې یې د کور معلومات وغوښتل دروغ مې درته ویل چې قرضدار مې دی، اصلاً کیسه داسې وه:...... څه چې واقعت و، ټوله کیسه مې ورته وکړه، دقلندر قناعت مې حاصل کړو، په ثناء دوی د زړه بدوالي تر څنګ خوشحاله شو ویل یې:

- ښا څه ښه دی چې ستا لاس نشته پکې، ځوانان بېکاره دي ډېری یې په مخدره موادو روږدي دي، په لس زره افغانۍ چې څه پرې کوې کېږي، ما فکر وکړو چې ممکن قرضدار دې په قرض منکر شوی وي، تا یې د جزا په پار چاته پیسې ویلې او دا کار دې پرې کړی وي!

- نه، نه زما خپله ډېر سخت زړه پرې بد شو، یقین وکړه، دومره مې ورته ژړلي، دا موټر مې هم په دوئ باندې د فکر خرابۍ له وجې ټکر کړو، قسم ده، دا اوس هم چې څنګه په حال راغلمه لمړۍ مې ثناګۍ سترګو ته ودرېده او نه به یې په ټول عمر هیره کړم، نه به بیا خپل حالت ته راشم!

قلندر راغبرګه کړه:

- هلکه! دا خبرې دې پرېږده، د دنیا ژوند ټول حادثې، حادثې دی، خو غیرتي خلک چې تر کومه حادثه ژوندی ووځي، نور تر شاه نه پسې ګوري مکمله یې

هیروي مخ ته ځي، دا د ضعیفه کسانو خاصه ده، چې ځان تر ډېره د تېرو شو حادثو د منفي اثراتو تر چتر لاندې ساتي، د راتلونکي ژوند سره د مبارزې مورال یې پرې صفر کوي، دا هم یوه حادثه وه، تېره شوه، تېره شوه، نور داسې فرض کړه چې نه مې څه لیدلي نه مې اورېدلي، خپل ژوند ته دې د پخوا په شان پوره همت سره دوام ورکړه!

که څه هم د قلندر خبرو ډېره انرژي راکړه، مګر بیا هم لکه کوم شاعر چې د ټپې په ژبه ویلي:

که زړه ته سل تسلې ورکړم

سترګو لیدلی جانان کله هېروینه

زما هم ثناګۍ له یاده نه وتله خو قلندر ته مې دده په خبرو د موفقیت او اوکې په پار سر وخوځولو، نور سیروم هم ختم شو، ډاکتر راغلو له لاس نه مې یې ستن ویستله زه هم پسې راجګ شوم، مخ او لاس مې پرېمنځل د شفخانې حساب مو خلاص کړو د ډاکتر په مشوره ترې راروان شو، دروازه کې قلندر راته کړل:

- ته خو شکر تکړه یې، زما کور کې میلمانه دي، که اجازه وي؟ زه به ورشم!

- هوو الحمدالله زه جوړ او روغ یم ورشه!

بیا یې وېل:

- اووو رښتیا راځه ته هم راسره ولاړ شه!

- نه خیریوسې زه به مې موټر ته ورشم چې جوړ دی که خراب؟

په همدې سره مو خدای پاماني وکړه قلندر مې روخصت کړو، زه مې موټر ته راغلمه، ښه و، ډېره ذربه یې نه وه، خوړلې، ټکر میلونه یې لړل صرف دې یوه څنګ ته میل یې لږ چیت شوي و، ترافیکو د لایسنس پوښنته رانه وکړه، ورته ومې نیولو، بیا یې کړل:

- څه در وشول چې په شل متره پراخه سرک دې جدول ووهلو!؟

سر ګرځېده مې ورته بهانه کړل، نور یې غږ ونکړو، له موټر نه د حفاظت په پار مې مننه ترې وکړه، راروان شوم، خپله حادثه مې سم د لاسه له یاده ووتله، ولې د ثناګۍ دوئ له درده همغه شان نشه نشه وم، خو په هر حاله تقریباً د غرمې یولس بجې وې، یو قسم مې تر کوره ځان راورسولو، خپل اتاق ته مې ننوتلم ور مې راپسې بند کړو، تر دوه بجو اړخ په اړخ کېدم، نه خوب راتللو، نه مې دمه جوړېده، د ثناء ښاپېرزادې خبرې او د خبرو لفظ، لفظ همدارنګه ورسره شوي نهایت ظلم مې ذهن محشوش کړی و، هېڅ مې زړه صبر نه کولو، بلاخېره ځان سره مې وېل: راځه ثناء جانې! نور خو مې څه وس کې درسره نکېږي، مګر دا یو ارمان به دې پوره کړم، ستا په اصطلاح انساني قصابي، یا دکلونه کلونه جنګ ځپلو، وږو تږو هېوادولو د غربت نه په استفاده د ناچیز پیسو په بدل کې ددوئ

نه د بېوېډو ایستلو د مرکز خو به همدا اوس چاره درته وکړم، همدارنګه نورې کومې وعدې مې چې درسره کړې وې!

په همدې اراده سم له لاسه راجګ شوم، موټر مې راویستلو هلال ساختوماني شرکت ته ورغلم، د شرکت مربوط انجینر مې راسره بوتلو، د بانګ خون د تعمیر، موقعت یې او د ځمکې مساحت یې وکتلو، لنډه دا چې د بانګ په موقعت د ښه لوی او پاخه مسجد ودانولو د دېرش فیصده پیسو په ورکولو سره مو قرارداد لاسلیک کړو، په دې کار مې څه نا څه د زړه بړاس کېناستو، د سکون ساه مې واخیستله، د لا ارامتیا لپاره د ثناګۍ سره د نورو ژمنو د عملي کېدو په پار چې ګویا: په کعبه شریف کې قسم درته کوم ترڅو نور به له هر ناروا کارو او بار نه لاس اخلم، برعکس په نیکو کارونو به لاس پورې کوم!

په همدې نیت مازیګر د تپې په سر (شیخ القدوس دارالحفاظ) ته ور وختلم د مدیر او مالي مسوول سره مې یې دیو کال دغذایي موادو (اوړه، وریجې، غوړ، لوبیا، دال، چای بوره) وغیره اولیه توکو دمصارفو تر محاصبې وروسته یونیم ملیون افغانۍ، ورته وسپارلې، ماښام ناوخته واپس کور ته راغلم، ډوډۍ تیاره وه، لاس مې ورپرېمنځل دسترخوان ته کېناستم، تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور مخ راواړولو کړل یې:

- زویه! څنګه داسې سرګردان یې؟ سهار ووتلې یو، دوه ساعته وروسته واپس راغلې په سره ګرمۍ دې بیا موټر راویستلو، اوس هم داسې سترې ښکارې د مخ تبۍ دې تکه توره ده؟

- بانګ مې خرڅ کړلو مورې! د همغه په حسابو لږ سرګردانه یم، نور کومه خبره نشته!

مور مې خوشحالوکې شوه، کړل یې:

- ووویۍ شکر زویه! چې خرڅ دې کړو، زه خو نه پوهېدمه چې ته په بانګ کې څه کوې یوه میاشت مخکې تلوېزونکې خبرونه و، عکسونه یې ښکارول غریب خلک و، ژړل یې له لوږې او نورو بېلو بېلو مجبوریتونو په خاطر یې بډوډې خرڅ کړې و، بدې ورځې یې کولې چې اوس نه ګرځېدلی شو، نه کار کولی شوو، ماته یې هم ژړا راوستله، فاروق جان راته ووېل: زموږ لالک هم همدا کار کوي، بانګ کې یې دهمدې خلکو نه بډوډې اباسې پیسې ورکوي، دوی یې بیا په پاکستانیانو، چنایانو، هندوانو او د نورو دولتونو په خلکو خرڅوي!

له یادولو دې پاتې نه وي، فاروق مې کوچنی ورور دی، د خپله د رنګ فروشۍ دوکان کولو، خو په هر راز، د مور خبرو دوام لرلو پسې زیاته یې کړه: خدای ج ومنه زویه! له دې ګلالۍ څېرې نه مې دې نفرت وشو، دا شل روژې او هره شپه آته رکعاته نفل لمونځ مې له همغه ورځې خاص په دې نیت ونیول، چې الله پاکه!

زما د زوی پام په نیکو کړي، ترڅو ددې په ځای چې د غریبو اړمنو خلکو بډوډي
ترې وباسي، خیر یې ورته ورسېږي، له خدای ج نه ډېر شکر چې سوال مې یې
قبول کړو، ښه دې کړي زویه! الله ج دې د حلالو منګولې ډکې کړه، چې نه دې
دین پرې خراب وي، نه دنیا، ماوېل چې ددې زوی لاس مې ولې داسې بې برکته
دی، هر څومره پیسې به دې چې راوړې هېڅ ځای به یې نه نیولو، ستاسره دې
خدای ج ښه وکړي، خو وګوره پاکستان ته دې بوتلمه، هند ته دې ولېږمه د
خدای زور پیسې مصرف شوې، د یوې روپۍ صحت مې ورسره پیدانکړو،
فاروق جان چې له هندو نه د شلو روپیو ترخه راوړه جوش مې کړه اوبه مې یې
وڅښې الله ج ورسره جوړه روغه کړم، کوم خواړه یا میوه به دې چې راوړه هم
همداسې، موسکا کې یې پسې زیاته کړه خدای منې زویه! لکه وانښه چې خورم
او فاروق جان به چې یو شی راوړل ګلالۍ مزه به یې وکړه، ځکه ستا پیسې پاکې
نه وې، ښه شو چې ځان دې ترې خلاص کړو، اوس هم الله ج ډېر ښه راسره کړي
چې تر دې وخته مو یې کومه لویه صدمه ونه لیده، په همدې خبرې سره مې یې
سر په دواړو لاسو ورونیولو، ښه کلکه مچو یې رانه واخیستله، چې دا کار یې د
کورنۍ د نورو ناستو غړو د خندا باعث هم شو!

خو په هر صورت، که څه هم د مور ددې خبرو سره فوراً زړه کې راتېره شوه:
اووووو اوس مې دې په اصل نقطه سر راخلاص کړو، دا کیسې او په ژوند کې

مې دومره ستر انقلاب او بدلون ستا د دعاګانو نفلونو او روژو له زور و. خو دې ته مې په خوله څه ونه ویل یوازې د ټوکې په بڼه مې ورته کړل:

- نه مورې! داسې نه ده، فاروق خو دې نازولی زوی دی، درباندې ګران دی ځکه یې له لاسه هر شی مزه درکوي!

خندنی شوه:

- نه زویه! سترګې مې دې ووځي که به مو ماته یوه ذره فرق کېږي، تا تر فاروق جان نه ډېرې نیکۍ راسره کړې!

- سمده مورې ته دې خوشحاله وې، دغه ده بانک خو مې خرڅ کړو له دې وروسته دعاګانې کوه!

- ولې نه زویه! کومه مور به وي، چې اولاد ته به دعا نه کوي؟

لنډه دا چې دمیاشتې تر تېردو مې په بانک خون کې پیداکړې ملیونونه سرمایه ټوله په کونډو، یتیمانو، معیبانو، له جنکونو نه بې ځایه شو، مدرسو او نورو مستحقو کورنیو ووېشله، له یادو پیسو مې فقط په خلکو دومره قرض پاتې شو، ترڅو له مسجد جوړولو وروسته د شرکت حساب پرې خلاص کړم، یوازې له موټر پرته نور هېڅ راپاتې نشول، البته موټر مې د بانګ په پیسو نه و اخیستی، کنې ددې مې هم چاره کوله، خو دبانګ له نغدو پیسو مې دخپل جیب خرڅ لپاره هم زر افغانۍ پرې نښودې، حتا په اخیره ورځ مې موټر ته تیل له پمپ

نه په قرض واچول، ایله مې زړه ارام شو، د ثناه روح مې هم تر پامه موسکی موسکی راتلو، خوشحالي او سکن مې ترې محسوسه ولو، بلخوا له همدې لحظې مې کرار کرار د حلالې روزۍ او سرمایه پیداکولو په پار هم فکر په کار واچولو ان تر دې چې له څو ملګرو مې پیسې قرض کړې، د کاک په مشوره، البته کاک مې ملګری دی، اصلي نوم یې طیب دی، خو دا چې ډېر ډنګر دی، له دې کبله موږ به دټوکو او ملګرتیا له مخې کاک ورته وېل، چې په پښتو کې د (وچ) په معنا راځي، نوموړي ښار کې د مبایلونو دوکان لرلو له چین او ځینې نورو هېوادونو به یې مالونه راوارېدول، ماته یې هم تر خپل څنګ د دوکان جوړولو او مبایلونو د تجارت مشوره راکړه، د کاک خبره مې خوښه شوه، همغه و، چې په بسم الله سره مې یې په عملي اقدام لاس پورې کړو (د جهان ماډرن مبایلونو پلورنځي) په نوم دوکان مې خلاص کړو، د کاک سره یو ځای مې له ډېرى هېوادونو مبایلونه او د مبایلونو اړوند نورو لوازمو د راوارېدولو، تجارت شروع کړو، چې تر ننه مې د یاد تجارت دوه نیم کاله وتلي او له تېرو دوه نیمو کالو وروسته نن الحمدالله هغه ورځ ده، چې ددې کار لپاره راکړي نور ټول قرضونه مې خلاص کړي، یوازې څلور لکه افغانۍ د قلندر پاتې دي، په داسې حال کې چې تقریباً شپږ میلونه افغانۍ مې په مال بندې دي، یعنې دا مې دونیم کلنۍ مزدوري یا خپله سرمایه ده، که څه هم د بانګ خون د پیسو په پرتله ناچیز شی دي، بلخوا مې ډېره لویه روحي ذربه ولیده، ولې بیا هم له الله ج راضي یم، هزار بار شکر چې وجدان او انساني احساس مې ژوندی شو، منم هر څه الله ج

کوي، خو برکت مې د مور د دعاګانو و، سبب يې الله ج رااستولې مرستندويه فرېښته خدای ج ښېنلې ثناګۍ شوه، په ګور دې يې نور وي.

( پای )

يادونه:

درنو لوستونکو! که د کتاب په اړه څه ويل لرئ؟ مهرباني وکړئ په لاندې ادرسنو کولی شئ چې د کتاب له ليکوال سره تماس ونيسئ.

ايمېل: naeemjanwardak@gmail.com

واټساپ: 0747743091

د فيسبوک او مسېنجر نوم: (نعيم جان بوډا)

وما علينا الا البلاغ مبين